ناول:النحیط.

لیکوال: خواجه زی.

نشرکونکې چینل: https://t.me/pashtoonovels0



(c) ketabton.com: The Digital Library

"بِسۡمِ أٓأَللَّهِ أٓأَلرَّحۡمَٰنِ أٓأَلرَّحِيمِ"

" النحيط يو عربې کلمه ده په معنا د هغه ژړا چې په ظاهره ښکاره کېږي نه؛ خو د زړه په ګوګل کې يئ انګازی او فريادونه پيچل کېږي."

***

د کوټې په هغه کونج کې ناسته وم چې هېڅ رڼا او روښنايي هغې خوا ته نه راتلله، تپه تياره وه. سر مې ګنګس، بدن مې خوږ، ذهن مې ناآرامه،او روح مې ستړي وه. سترګو مې خوب او بدن مې آرامتيا غوښته.خو لعنت دې په دې ژوند سې چې هېڅ کار يې زموږ د خوښۍ مطابق ندې، زړه مې غوښتل په سلګو او اسوېليو وژاړم چغې ....کړم فرياد کړم خو
اوس چې د کلونو وروسته خپل د پلار د کور د کوټې په دې تورتم کې ناسته يمه، نو يوه خبره سل په سلو کې منم او باورې يمه چې اصل کې همدې خبرې زه د بدبختۍ او تباهې دې کندې ته را غورځه ولې يمه. او جالبه دا ده چې دغه خبره نه کومه ادبې يا هم نه کوم فلسيوفانه لفظ دې، او نه هم کوم منتر او جادو دې، بلکې د الفبا د تورو څخه جوړ يو دوه ساده ټکي دي، چې شايد په ظاهره هېڅ کوم ځانګړې او خاصه معنا هم ونلرې خو همدغه دوه ساده ټکو سم د تور جادو په څېر زما ژوند نيست او "نابود کړو. او هغه دوه ټکي دي "خ" "و" چې کېږی "خو

هو همدغه "خو" زما ژوند تباه کړو هر کار مې چې کوې يا به هم د کولو نيت مې درلود نو دغه لفظ به مې مخې ته راغې "خو" خو څه؟ زما ژوند تباه شو، زه بې کوره، بې ژونده، بې سرپناه شوم، زما عزت خراب شو، زما زاره وچودل هغه دردونه ټول ما تېر کړل خو.... خبری مه کوه خلک به څه وايي؟ زما په نظر بدترينه دلدارې او د زړه قوت ورکول دا دې چې ته يو چا ته خپل ستونزه او د زړه درد بيان کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کس تا ته په جواب کې داسې ووایی: ستا خبرې صحیح دي "خو" داسې کار مه کوه. ته صحیح یې،"خو" فلانکې کار ونکړې. ته صحیح یې"خو" بیستانکې کار ونکړې.

دا څنګه صحیح دې چې اخیره په نه کولو او "خو" تمام کیږی؟ یو خبره مې ذهن کې ګرځېده راګرځېده او زه یې هڅه ولم چې د دومره وخت وروسته هغه خبره په خوله راوړم او د تایید ټاپه ورباندې ولګوم خو د دې ټولو خبرو او کارونو با وجود اوس مې هم جرئت نه درلود چې هغه لفظ خپل په خلوت کې لځان سره لا زمزمه کړم نه پوهیږی ولې؟ ولې د دومره شکنجې او دردونو وروسته تر اوسه هم هغه لفظ سر عام نشم ویلې؟ حتا لځان سره؟ شاید لدې سببه چې ډارېږم؟ خو له څه څخه ډارېږم؟ زه خو د بدبختې اخیرې حد ته رسیدلې یم؟! شاید لدې ډارېږم چې یو څوک راته په ځواب کې ووایي: هر څه چې دې خو ... خو ... خو ... اوس دې خاوند دې ...

د دروازې په ټک مې اوږې له وېرې و پرېدې او سر مې خپل د ځنګنونو څخه پورته کړو د کوټې دروازه په غژ،غژ باندې خلاصه شوه د مقابل نفر سایه پر ما وولیده او ما ونشو کړې په هغه تک توره تیاره کې د مقابل نفر څهره سمه ووینم، چې څوک دې؟ هغه کس بغیر لدې چې د کوټې دروازه د ځان پسې بنده کړې یا هم د کوټې ګروپ روښانه کړې کرار، کرار زما خوا ته رانږدې شوو او د هغه په نږدې راتللو پوهه شوم چې پلار مې دې، د هغه پداسې بې وسه لیدو مې خپل غم لیاده ووت او د هغه پلار لپاره مې ژړا زور واخیست چې نور د پخوا پشان سر یې پورته نشو نیولې، په سترګو کې د پخوا پشان رڼا او غرور نه راته ښکار کېدو، د تلو وخت کې نور د پخوا پشان هیبت او جلال نه راته څرګند کېدو او اوس ما هغه سړی لېدو چې غمونو یې ملا ماته کړې وه.

ما هغه کس ولېد چې د زمانې ناخوالو یې په سر کې سپېن ویښته را برسېره کړې وه. زما څنګ ته کېناست د تل پشان تسبیح لاس کې وه څه یې نه ویل خاموش وو په کوټه کې یوائې زما د ژړا او کله ناکله د پوزی د کش کولو غږ اوریدل کېده او کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د پلار د استغفرالله ویلو کراره زمزمه. ښه شېبه دواړه غلي ناست وو او بیا پلار مې وپوښتل، هغه پوښتنه چې ځواب یې زما د د دې دوه کالو د ژوند سره تړلې وه، هغه پوښتنه چې ځواب یې شاید زما د پلار ملا لاپسې ماته کړې وايې،هغه پوښتنه چې ځواب یې شاید زما د پلار د سترګو دېد نور هم کم کړې وايې.

هغه پوښتنه چې جواب یې شاید زما د پلار دا پاتې غرور هم را مات کړې وايې، او شاید ویښتیان یې د اوس څخه هم زیات سپین کړې وايې. دا هغه پوښتنه وه چې ځواب یې ما د دې حالت څخه لا بدبختره او تباه کوې. خو چاره نه وه اول وې که اخیر باید دغه ځواب وویل شې هر څه چې کېږي و دې شې نور راته مهمه نه وه چې خلک به څه وايې؟ او خلک به څه فکر کوې؟ هغوې زما پر ځای ندې او نه پوهیږي چې ما څه وختونه تیر کړې؟ نو هغوې ما نشې قضاوت کولې... د پلار غږ مې د فکرونو او خیالونو له نړۍ څخه را وویستلم.

پلار- غوارې څه وکړې؟

نه پوهیږم جرعت ورته ووایم یا هم د ډېر درد څخه فریاد؟ خو ما خپله پرېکړه کړې وه نور د نیمې شپې د ډارونکوو او هیبتناکه خوبونو څخه د راپاسېدلو وخت وو، ما مظبوط اراده کړې وه چې نور به لاس پر بل لاس نه ایږدم او د خلکو او خپلوانو خبرو ته به نه تسلیمه کېږم، لاس په دیوال تکیه کوم او پاسېږم ...

نن یوه نوې ورځ ده او د یوې نوې امید سره راغلې...
سم لکه د پسرلي د اولې ورځې پشان...
لکه د ښوونځي ته د تلو اول صبا...
نن ورځ زما ورځ ده...
خپل د بدن توټې،ټوټې برخې یوځاې کوم او پاسېږم...
شاید د لومړې ورځي پشان نشې خو بیا هم جوش خوري او یوځاې کېږي...
ماتم نیول نور بس دي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نن وخت او دوره کې که خپله له ځمکي جګه نشې نو خلک دې نور هم د خاورو
سره خاورې کوې...
ژړا نور بس ده...
پاسېږم او خپل موخي،آرمانونه او خوبونه له سر لځان سره دوره کوم ...
زړورتيا او مېړانه زما په رګونو کې لکه وينو پشان په تلو راتلو کېده...
زه جګړه کوم؛
تر څو په راتلونکې کې په آرمښت او سوکالۍ کې اوسېږم...
د ژوند کړېږ وړې لاري او ستونزې ما له پښو نشې غورځه ولې...
مېړانه او سرښندنه زما په رګ او ريشه کېده...
ستونزه د هغوي نه وه ...
بلکې موږ زيات ساده ګان وو.
خپل ماتم ته د پاې ټکي اېږدم،
او خپل د ستونزو د مقابلې لپاره ميدان ته ښکته کېږم..
نن زما ورځ ده ...
زما د ژوند کولو ...
د بيا ټوکېدو او له سره د غوړېدو ...

د پلار غږ مې د فکرونو لړۍ را غوڅه کړه.
— غوارې څه وکړې؟
بغير لدې چې د سترګو نظر مې د پلار څخه واخلم وايم: هغه کور ته بيا نځم ...

("پنځه کاله مخکې")

نن زموږ د اتم ټولګۍ د سالانه امتحاناتو اخيرې آزموينه وه، او بايد ووايم چې زما د
فکر او تخيل خلاف کار وشو، ما فکر کاوه چې بيحده سخت او ستونزمن امتحان به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې خو د خدای شکر بيحد آسانه او حتا ويلې شم چې د نورو ټولو ازموينو په پرتله بهتره او نسبتاً ښه ازموينه وه. د امتحان ورکولو وروسته د يو ساعت لپاره د ښونځۍ په هغه فراخه او د ګلانو او درختو څخه ډک انګړ کې په ګرځېدو شو. زموږ د ښونځې انګړ يا هم ميدان بيحد غټ وو او د لږ شانتې ګرځېدو وروسته ستړې شو نو پرېکړه مو وکړل تر څو د کاچو د يوه لوې ونۍ لاندې کېنو او تفريح وکړو. موږ يو څو نجونو چې خاص او صميمې ملګرې هم په حساب راتلو د اخيری ازموينې څخه مخکې مو دا خبره او مشوره کړې وه چې د اخيرې ازموينې د ورکولو په ورځ بايد هره نجلۍ لځان سره خوراکی شيان راوړې ترڅو د امتحان ورکولو وروسته يو وړوکې شانتې جشن او تفريح ځانته جوړه کړو.

نو د همغه پرېکړې او مشورې مطابق هر چا لځان سره يو خوراکې شئ راوړې ؤ، ځېنو په کورونو کې پاخه کړې وه او ځېنو نورو زما پشان له بازاره اخېستې وه. ما لس دانې د کچالو بولانې اخيستلې وه. بيحد په زړه پورې فضا او ماحول وو څلور خوا مو ونې او ګلان وه او موږ د يو لوې ونې د سايې لاندې ناست وو او بانډار مو کوې. د پخوا پشان ښوونکو څه نه ويل چې ولې بيرون ګرځې؟ يا هم نه يې ويل چې امتحان مو ورکړې نو روانېږی برعکس هغوې هم زموږ په لېدو مسکا کول او تلل ځکه چې پوهېدل نن زموږ اخيرې ورځ ده په ښوونځې کې او بيا ژمنې رخصتيانې پيل کېږی. ښه ډېر شيبه هلته ناستې ؤ او مجلس مو کوې.

د هر لورې مو خبرې راکش کول او ښه تود بانډار مو جوړ کړې وو خو کله چې پام مو شو چې ښوونځې مخ پر تشېدو دې او زياتره انجونۍ خپل کورونو ته تللې نو موږ هم د تللو هوډ وکړو او يو دبل څخه مو د تلو اجازه واخيسته خپل د ګرانو ټولګيوالو سره مې په نه زړه خدای پامنې وکړل او بل کال ته د لېدلو وعدی او قولونه مو ورکړل او د ښه هيلو او اميدونو په درلودو مو يو د بل سره مخه ښه وکړل او سره جلا شو او خپل د کورونو خوا ته ستانه شو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول کې زياته خوشحاله وم او لځان سره به مې ويل چې د دې رخصتيانو څخه به ښه سم خوند او مزې اخلم خو د کابل ژمې هم ځانته نوم لرې، کله چې دوه درې ورځې تېرى شوې او هوا په سړېدو شوه نو اولې برکت د ژمې دا وو چې د برقونو څخه د اينځر گل جوړ شو په شپه کې به يو دوه ساعت خپل مبارک مخ راښکاره کولو او نور به ورک وو بلخوا څخه د باران او واورو له سببه زموږ د کور حويلې چې سمينټ او پاخه نه وه دومره به د خټو څخه ککړه شوه چې پښه به دې که کيښودل نو د را ويستلو لپاره مجبور يو چا له لاسه کش کړې وايې! حتا له يوه کوټې څخه بلې ته تلل لا غضب گرځېدلې وو يو دقه په دهليز يا برنډه کې که درېدلې وايې سم درنه د واورو سړې جوړيدې"ادم برفې" نو د دې ټولو خبرو او موضاعاتو ته په کتلو سره زه په دې عقيدې يم چې په څلور فصلونو کې بدترينه فصل د ژمې فصل دې. البته دا منم شايد د ځېنو کسانو خوښ وې خو زما لپاره سم د د دوزخ يوه ټوټه وه.

زه به په رخصتيانو کې د نيکه کور ته ورتلم هلته به مې ساعت تېر وو، يوه مجرده خاله مې درلوده هغې سره به مې د زړه راز کاوه داسې وه راته لکه خور. ما خپله خور نه درلوده او دغه خاله مې د خور پشان وه راته. زه څلور ورونه او دوه ترونه لرم دا دوه ترونه مې مور غټ کړې او ما ته داسې دې لکه خپل ورونه زياته ورته گرانه يم ځکه يوه وريره يې يم او هغوى هم ماته زيات گران دې. د هغوې سره مې ښه سات تېر ده ځکه بيحد خوش مزاج او خوش اخلاق دې. او کوښښ کوې ما تل خوشحاله وساتې.

دا ژمې چې کله د نيکه کور ته لاړم نو د نورو رخصتيانو پر خلاف چې دوه، دوه نيمې مياشتې به مې هلته کول ډير ژر کور ته راغلم شايد يو مياشت به مې هم لا نه وېې تېره کړې. کله چې راغلم بيا همغه زړه نيونکې ژمې او همغه قفس! د مور خبره همغه ديگ همغه کاسه! کله ناکله به مې مور ته ويل چې ولې دې يوه خور زما لپاره نه راوړل؟ چې زما سات ورسره تير شې؟ خو مور مې ويل: د خداى کارونه دې زما لاس کې خو څه نه وه. څو ورځې چې کور کې مې تېر کړل نو زما خلق نور هم تنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو او د کور څلور دیواله راته بیخې له زغمه ووتل، یوه ورځ مې فکر شو چې زموږ د همسایه لور هره ورځ حجاب کړې په یو خاص وخت له کور بهر یو چیرته روانه ده؟

کله چې اخوا دیخوا مې لږ جاسوسي وکړل نو پوهه شوم چې هغه مدرسې ته ځې! ما هم مور ته زاری پیل کړل تر څو اجازه راکړې زه هم مدرسې ته لاړه شم. مور مې هم چې زما حالت ولېد چې کور کې مې زړه تنګ دې اجازه یې راکړل او د هغه ورځې په سبا خپل د همسایه د لور سره د مدرسې خوا ته روانه شوم ځان مې مدرسه کې شامل کړو، بیحد خوشحاله وم اوس نو ټوله ورځ مجبوره نه وم چې د کور څلور دیوالونو ته وچې سترګې ونیسم. زموږ د همسایه لور چې آمنه نومېده هغه هم خوشحاله وه ځکه د لاری یو ملګرې پېدا کړې وه.

مدرسې ته په تللو مې فکر زیات بدل شو او نور مې زړه د پخوا پشان نه تنګ کېدې ورځ به مدرسه کې وم او شپې به مې هم د مدرسې درسونه ویل کرار کرار ژمې په خلاصېدو وو او د ښونځې لپاره چمتو والې نیول کېدو ما هم غوښتل د ښونځي لپاره ځانته نوې جامې، بوټان، او بکس واخلم لا دوه درې هفتې د ښونځي پیل کېدو ته پاتې وه چې مور ته مې دا خبره وکړل او ورته مې وویل چې زما سره راځه بازار ته تر څو د ښوونځي لپاره خرید وکړم خو مور مې راته وویل:
– نور ښونځې ته د تللو اجازه نلرې.
– ولې؟
– بس همداسې.

هغه ورځ مې دا موضوع نوره اوږده نکړل او د دې فکر پر کولو چې مور مې ستړې وه او حوصله نه درلود او داسې خبره یې راته وکړل خپل ځان ته مې دلداری ورکړل سبا چې له مدرسې راغلم بیا د مور پسې شوم تر څو زما سره د ښوونځي د خرید لپاره بازار ته لاړه شې خو هغې بیا راته وویل:
– نور ښونځې ته د تللو اجازه نلرې.
دا ځل زه هم له کنټرول څخه ووتلم او په غوسه مې وویل: اخیر ولې؟ په څه دلیل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې هېڅ ونه ویل او زه هم په ژړا خپلې کوټې ته لاړم دروازه مې کلک بنده کړل او ژړا ته مې شروع وکړل، فکر مې کاوه د مور په انکار زما آرمانونه او خوبونه ټول خاورې ایرې شوې. ما غوښتل راتلونکې کې یوه تکړه ډاکټره شم او د خلکو سره مرسته وکړم، خو زموږ قوم کې هېڅ یوه جلۍ د اتم صنف څخه زیات درس نه وو ویلې! ما فکر کاوه د پلار، ورونو او ترونو د حمایت لاندې شاید و کولې شم تر څو دې لړې اوسلسلې ته د پاې ټکي کېږدم او دا بیځایه فکرونه به لمینځه ویسم...

خو اوس راته خپل ځان هم یو له همدې بیځایه تعصب او ړانده جاهلت ښکار شوې معلومېده، ټول شپه له کوټې ونه وتم او په دې شانتې مې خپل خفګان بیان کړو، څو ځله ورونه او ترونو مې راغله ترڅو لاړه شم د ماښام ډوډې ته خو ما خپل خبره نیولې وه چې یا اجازه راکړې ښوونځي ته لاړه شم یا ډوډۍ نخورم! ما فکر کاوه چې شاید ضد مې کار وکړې او اجازه حاصل شې خو نه زما مقابل جانب هم ځانته په ضد کې نوم درلود د دوه درې ورځو وروسته چې پوهه شوم ضد کول کوم فایده نلرې بیا مې د زارۍ لار جاره خپل کړل خو هغه هم بې ګټې وه. مور مې یوازې یوه خبره نیولې وه" نور بس دی خلک به څه وایي؟

– مورې د خلکو د خبرو پسې مه ګرځه خلک د خداې پسې لا خبرې کوې. زما ژوند د دوي په بې منطق خبرو مه خرابه وه خیر دې زارۍ درته کوم.
– همدا چې دې واوریدل هیلۍ نور د ښونځي فکر له سره اوباسه.
– مورې زه دلته کور کې تاته کېنم څه وکړم؟ پرېږده خپل درسونه ووایم یو ځاې ته ځان ورسه وم. دا دې ټولې دنیا انجونۍ ښوونځي ته رواني دي کومه یوه یې بې لارې شوی؟ د کومې په سر عذاب نازل شوې چې تاسو داسې کار زما سره کوې؟
دا ځل زما خبرو مور ته غوسه راوړل او ویې ویل: یعنې تا ندي اوریدلې دا خبري؟ هره ورځ یا کومه جنۍ د هلک سره لاس په لاس د دې ښوونځي په بهانې ګیره شوی یا هم د ښوونځي له لارې چا تښته ولې، که بیا هم دا ټول خبري ونشې نو کوم بم به چودلې ویې او د ښونځي ماشومان به پکې ناحقه مړه وي. بس دې همدومره چې دې وویل..

(c) ketabton.com: The Digital Library

— اول خو دا چې زه ستا لور یم او مرګ ته په دې ترجیح ورکوم چې د یو لنډغر او کوڅه ډب هلک سره یارانه جوړه کړم، او بل دا چې هغه چې تښته وي زیاتر کورنۍ دښمنۍ لرې مورې خو د چا سره دښمنۍ نلرو شکر! او پاتې شوه د بم انتحارۍ او د مرګ خبر نو اول خو دا چې مرګ او ژوند د خداې په لاس کې دې او د هغه د ارادې بغیر یوه پاڼه لا د ونې څخه نه رژېږي او بیا دا چې موري! پوهېږم چې زمانه او خلک خراب شوي خو زه خپل ساتنه کولې سم د افغانستان حالت تل همداسې دې دا به کله جوړ شي؟ چې مورې پکې د هوساینې ژوند وکړو؟ زه به تر کله په کور کې کېنم ترڅو حالات ښه شي؟ ترڅو به زه ښوونځي ته لاړه نشم؟ تر څو به زه درس ونه وایم؟ ها موري؟

خو مور مې یو ضد نیولې وو، او په هېڅ ډول خپل د خبرې څخه نه تېرېدل او هېڅ اجازه نه راکول هره ورځ زه وم زارۍ وه او مور وه انکار وو، تر دې چې یوه نیم میاشت تېره شوه نور ما هم څه نه ویل یو خوا د ښوونځي آزموینې را نږدې کېدل بلخوا زما غیر حاضریان دومره زیات شوي وه چې اوس که مور اجازه هم راکړې واې نو تلل مې هېڅ کوم ګټه نه کول ځکه زه محروم شوې وم د امتحاناتو څخه....

بس نو د کورنۍ،مور او پلار خبره د جنۍ لپاره د ژوند او مرګ خبره وې، مور چې "نه" وویل نو هېچا زما خوا ونه نیول او وې نه ویل: چې پرېږدی درس ووایې څه کار لرې ورسره؟ هغه کال پر ما باندې سم د عام الحزن کال پشان وو! (دا هغه کال و چې پیغمبر "ص" په دې کال کې خپل د زړه سکون حضرت خدیجه او خپل لوې ملاتړ کونکې حضرت ابوطالب له لاسه ورکړل، او د زیات غم پیغمبر"ص" هغه کال ته د غم کال وویل.) ما هم په ښوونځي کې خپل ژوند، راتلونکې، خوبونه، او امیدونه لېدل او د هغه په بند کېدو مې هغه کال ځانته د غم کال وباله، خو د خداې تقدیر څه بل څه وو...

څه داسې شئ چې ښوونځي ته تلل او نه تلل یو ورکې خبر او موضوع پکې ښکاریدل. هغه کال زما د زده کړو یو کال حرام شو او ما ته یوازې د مدرسې تلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازه راکړې شوه، خو کله چې کال نوې شو او بیا خلک د نوې کال لپاره په جنب او جوش کې شول یو ځل بیا زما زړه د درس ویلو او ډاکټرې کېدلو خوبونه را په زړه کړل او بیا زه شوم مور شوه او زاری، بیا مور شوه انکار شوو،او اجازه نه راکول،خو دا ځل زه په سپین سترګې او ضد باندې بغیر لدې چې د مور خبرو ته غوږ ونیسم خپل د هغه بل کال په زاړه جامو کې ښوونځي په لور روانه شوم. اول کې زما کورنې زیات راته خبري وکړل خو کله چې زما ضد یې ولیده نو نور څه یې ونه ویل او په نه زړه یې راته د درس ویلو اجازه راکړل.

نو دا شوه چې ما خپل د ژوند د یو کال حرام کېدو وروسته خپل درسونه پیل کړل کله چې ښوونځي ته ولاړم نو هر څه بدل، بدل شانتې راته ښکارېدل زما ملګرې ځینې لسم ټولګې ته تللې او ځینې نورو ته زما پشان د درس ویلو اجازه نه وه ورکړل شوې. ټول ټولګې د ناشنا انجونو څخه ډک وو حتا ځینې ښوونکي لا نوې وه، خدایه هغه به کوم وخت وي چې مونږ انجونی خپل د شرعې،اسلامې او قانونې حقونو څخه منع نشو؟ زموږ خلک تل دعوه کوي چې زموږ دین او موږ ښځو ته تر بل هر دین او هر چا څخه ډیر حقوق ورکوو.

زما په نظر دا مسله دوه اړخه لري ۱- دین ۲- زموږ اجتماع(ټولنه)
دین کې خبره نکوم ځکه د اسلام دین بغیر له کوم چون او چرا څخه یو کامل او پر حق دین دي او ترقیامته به اوسېږي،خو خبره که زموږ د ټولني نظر ته راشې نو بیا هغوي یوازې په خوله به لګیا وي چې اسلام کې ښځو ته زیات حق ورکړل شوې، او ښځه داسې ده او هغسې ده او فلان ده او بستان ده، خو په اصل میدان کې د ښځو حقوق د هغوي د دې خبرې څخه اټکل کولې شې چې کله هلک نړۍ ته سترګې پرانیزي، نو زېرى او مبارکي یې شته! خو که انجلۍ نړۍ ته سترګې پرانیزي، نو ټول ورته د زېري او مبارکۍ پر ځای وایي:(خیر همدا به د خدای رضا وه.)

د اداری له مخي تېره شوم او خپل ټولګې "۹ الف" په لوري مې قدمونه چابک کړل خو هغه ته د تلو مخکې خپل پخوانې ټولګې "۸ الف" مې و مخې ته راغلو د ټولګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه خلاصه وه شاګردان ناست وه درسونه يې ويل ښوونکي د تختې سر ته ولاړه وه دا ښوونکي مې نه پېژندل د شا لخوا يو چا غږ راوکړو کله چې ور ومې کتل نو د ښوونځي انظباطه وه ويل يې درسې وخت دې خپل ټولګې ته لاړه شه په نه زړه خپل د ټولګي خوا ته روانه شوم زمونږ ښوونکې لا نه وه راغلې زما پر ننوتلو ټولو راته حيران حيران راکتل ما ته هم هغه فضا او ماحول نوې وو يو شناخته کس مې لا نه تر سترګو کېده يوه جنۍ چې د صنف نماينده او اول نمره راته ښکاريده رامخکې شوه او زما څخه يې پوښتنه وکړه:

– دې تولګې ته نوي راغلې يې او که ټولګې درنه غلط شوې؟

شاوخوا مې وکتل ټولو ټولګيوالو انجونو غبرګي سترګې ماته نيولې وې، خپل بکس مې لاس کې کلک ونېو لاړې مې په زوره تېر کړل او ومې ويل: د "نهم الف" شاګرده يم.
زما په دې خبره د هغه انجلۍ وريځې د حيرت پورته شوې او وې ويل: همدا نهم الف دی. ته زمونږ نوې تولګيواله يې. له کوم ښوونځي څخه راغلې يې؟ تبديلې دې اخيستې؟

غوښتل مې ځواب ورکړم چې ټول ټولګيوال ناڅاپه د ولاړ صيب په غږ خپل له ځايونو څخه پاسېدل او ښوونکې ټولګې ته رادننه شوه. د هغې په راتلو اول نمرې نور خپل پلټنه بس کړل او لاره يې پريخودل، مخکې څوکۍ ټول نيول شوې وه اخېر شاته څوکۍ بيکاره وی هملته کېناستم، ښوونکې د کېناستلو سره سم حاضری اخيستل پيل کړل خو زما ټول فکر او ذکر د ټولګي او د هغه په ماحول کې وو، عجيب غريب احساس مې درلود ټول څېزونه راته ناشنا او عجيب شانتې ښکاريده. ښوونکې زما نوم هم واخيست او زه يې ټولو ته معرفی کړم خو زه تر اوسه په خپل فکرونو کې غرقه وم زما او دوه نور انجونو بغير نور ټول انجونو د ټولګې مخکې څوکۍ کې ناستې وې، او د ښوونکې د راتلو څخه نيولې تر تلو او د ښوونځي تر رخصت کېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما فکر یو عجیب موضوع ته وشو او هغه هم د شاته څوکۍ هغه دوه انجونو ته! هغوي دواړو داسې تود او ګرم مجلس یو د بل سره پیل کړې وو چې زه یې د ځان خوا ته جذب کولم، ځان سره مې ویل اخیر دا څنګه مجلس او کیسه ده چې ۶ ساعت ورباندې دوي دواړو خبري وکړې؟ د رخصتې زنګ ووهلې شو او ټول شاګردان د کورونو خوا ته روان شول، خسته او زړه ماتې د کور خوا ته روانه شوم، احساس مې کاوه چې یو لوې ماته مې خوړلې، زړه مې راته ویل وزغمه دا حالات سمېږې. خو زما په اند جوړېدل تر یو حد ارزښت لري، تر یو حد د خوشحالۍ خندا دې په شونډو خپره کوې. د یو حد څخه وروسته که ټول څېزونه هم سم شې نور ارزښت نلرې او تا نه خوشحاله کوې، تا نشې راضې کولې.

کوم نانځکه چې تا د پنځه کالو په عمر د دوکان د هینداری شاته ولېده او خوښه دې شول که هغه نانځکه درته په شل کلنې کې درکړې نور خوند او شوق نلرې نور دې نه خوشحاله کوې.کومه خبره چې هغه دقه تا آرم کولې شې خو که څو ورځې وروسته یې څوک درته وکړې نور تا نشې راضې او خوشحاله کولې. ژوند همدا دې یا ډیر ژر ناوخته کېږي یا هم ډیر وخت دې. هوښیار هغه کس دې چې هغه کار په همغه وخت کې درته وکړې نه وروسته یا مخکې.ما ته د ښوونځي تلو اجازه راکړې شوه خو هغه وخت چې ټول څېزونو توپېر کړې وو او ما د پخوا پشان هغه شوق او مینه د درس ویلو او راتلونکې کې د یو ډاکټرې د جوړیدو سره نه وه.

زما آرمانونه او خوبونه د یو کال په موده کې لمینځه تللې وه، سهار به تلم ښوونځي ته او غرمه راتلم همغه لاره همغه ښونځې او همغه ښوونکي خو نور زما زړه نه لرېده د درس او تعلیم سره د پخوا پشان مې کوښښ نه کاوه چې درس زده کړم د ښوونکو څخه مې د درس پوښتنه نه کول ځای مې د لومړې څوکۍ څخه اخیر څوکۍ ته بدلون کړې وو، د هیچا سره مې خبرې نه کول خو د ټولګې اخیری څوکۍ کې ناستې هغه دوه انجونۍ چې ټول ښوونکو ورته نالایقي او ټنبلي ویل زما ورسره جوړه وه، په دویمه ورځ د هغوي سره کېناستم او مجلس مې شروع کړو، د یوې نوم سپوږمۍ وه او دویمه روخشانه انجونۍ نه وه باید ووایم د بې بې سې راډیوګانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولګي د اول ساعت څخه نيولې تر اخېرې ساعت پوازې بحث او خبرې يې په چارچاپېر د نوي ډېزين راوتلو کالو څخه نيولې تر فلانکې نامزدی وکړه، د فلانکې نامزد ورته موبايل واخيست فلانکې فلم هېروينه(بازيګره) سومره بدرنګه وه افسوس په هغه ښايسته هېرو(بازېګر) چې دې بوډې سره يې راوړې وو، فلانکې ډرامه نن ماښام نوې په طلوع تلويزيون کې شروع کېږی د فريحه او بهار سريال څخه ډېره ښه ده....

او خلاصه چې هغه متل دي وايې: با ما بشينې ما شوې با ديګ بشينې سياه شوي.. ما هم لدوې رنګ واخيست او د دوي پر عادت او خوې شوم دوې به درس نه ويلو ما به هم نه ويلو دوې به درسې وخت کې بېرون چکر وهلو نو زه به هم د دوي پسې روانه وم، زما فکر او ذکر هم د درس ويلو لځايه د دوې پشان په راغلې نوې فيشن جامو او په تلويزيون کې د نوې راغلې سريال پسې شو درس راڅخه پاتې شو، د هغه عاجزی او ساده توب څخه راوتلم، اوس ما هم د نامزد او نفرې بحث او خبرې کولې، درس او راتلونکي کې د ډاکترې کېدلو خوبونه او آرمانونه راڅخه پاتې وه او هغه درې دليل درلود.

اول دا چې يو کال زه د درسونو او ښوونځي څخه لرې وم نو هغه شوق او ليولتيا د درس وېلو پاې ته رسېدله وه دويم دا چې زما پخوانې ملګرې او ښوونکي نه وه او دريم او د ټولو څخه مهم دليل دا چې د دوه بيکاره او ټنبل انجونو سره مخ شوې وم او درس ويل راڅخه پاتې وه پوازې کله ناکله په آزموينو وخت کې به مې د کتاب لاې خلاصه وو او کتو به مې خو خداې راباندې بيحد پېرزوينه کړې وه او هغه پېرزوينه وه زما ښه حافظه! درست کال به ما درس نه ويلو خو همدا چې د امتحان په شپه به مې چې کتاب خلاص کړو نو ټول درس به مې زده شو، او سپوږمۍ و روخشانې سره به مې هم مرسته کول البته د نقل ورکولو له لارې..

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونځي د رخصت کېدلو زنګ ووهل شو د هغه زنګ سره سم د انجونو شور ماشور او چغي هم پورته شوې د تاريخ ښوونکي چې لا تر اوسه په ټولګي کې ولاړه وه او خپل لاسې بکس کې لګيا وه د انجونو په شور ما شور يې ټنډه تروه کړل او په تنده لهجه يې وويل: خاموش.. دا څه حال دې؟ تاسو مګر ماشومان ياست چې داسې چغي وهې؟

د ښوونکي په تنده لهجه ټول انجونې چوپې شوې، ښوونکي ټولو ته بد بد وکتل او د ټولګي د دروازې خوا ته روانه شوه خو د وتلو مخکې مخ راواړو او ټولو ته يې وويل: خپل درسونه سم ووايست سبا پوښتنه کوم او نمرې هم درکوم.
ښوونکي د دې خبرې پر ويلو د ټولګي څخه ووتل د هغې په خبرو د ځېنو انجونو د خوشحالۍ او د ځېنو نورو د نارضايتې غږونه پورته شول، خو موږ درې واړه په بې تفاوت انداز له ټولګي څخه ووتلو، د ښوونځي څخه ووتلو ما خپل حجاب يو ځل بيا وکتو چې سم دی او کنه؟ بيا مې سترګي د سړک هغه بلخوا په يو نفر ولګېدې..

– هيلۍسبا رانشې ښوونځي ته.
د سپوږمۍ په خبره مې نظر د سړک هغه بلخوا د دوکان په مخ کې د هغه ولاړ نفر څخه چې تل زموږ د ښوونځي د رخصت کېدلو وخت کې هلته درېدو واخيست او د سپوږمۍ خوا ته په کتو مې وويل: ولې؟
د سپوږمۍ لځايه روخشانې په خوشحالۍ او هيجان ځواب راکړو:
– سبا غرمه د راشد خان مېچ دې.
– څوک؟
زما په ګنګس لهجې باندې سپوږمۍ ورو په اوږې ووهلم او په يو خاص انداز او داسې شوق باندې په خبرو پيل وکړو لکه خپل د مينې داستان چې ماته بيان کوې!
– راشد خان.. اه .. د آسمان په مخ کې يو ځلانده ستورې، د افغانستان او افغانانو وياړ، زموږ امېد، يو ريښتېنې قهرمان...
– نامزد د دې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبرې روخشانه له خندا شنه شوه او سپوږمۍ په يو آرمانجن انداز وويل: ای کاش...

په ګنګس او ترديد لړونکې انداز مې وويل: نو دا څوک دي چې ته دومره ورته ليواله يې؟ کوم نامشروع رابطـ....

خبره مې لا پوره شوې نه وه چې سپوږمۍ دا ځل کلک پر اوږه ووهلم او په غوسه يې وويل: بلا، بلا ته راشد خان نه پېژنې؟

— نه.

سپوږمۍ په حيرت راوکتل خو روخشانې په داسې حال کې چې موږ يې مخ خوا ته ټيل وهلو ترڅو روان شو ويې ويل: راشد خان د کرکټ نړۍ يو...

خبره مې ورپرې کړل او ومې ويل: اهاا هغه راشد خان ښايې؟ هغه سپېنر بالر؟

سپوږمۍ په داسې حال کې چې بد بد راته کتل ويې ويل: ښه شوه حافظه دې ځای ته راغلل، هو همغه ښايو بل به څوک وي.

په خندا مې وويل: خو تاسو انسان ګنګس کوې ما فکر کاوه شايد ستاسو خپلوان، ورور، يا هم کوم نامزد شئ وي چې تاسو داسې ورته خوشحال ياست..

د دې څخه مخکې چې سپوږمۍ کوم ځواب راکړې روخشانې په کرار وويل: فکر مو يو شئ ته شوې؟

— نه څه ته؟

روخشانې پداسې حال کې چې سترګي د سړک هغه بلخوا نيولې وه کرار وويل: هغه خوا وګوری.

د هغې په خبره زه پوهه شوم چې مطلب يې څه دې، د روخشانی فکر هم هغه سړی ته شوې وو چې دا څو وخته کېږی تل زموږ پسې وي، خو سپوږمۍ بيحد بی فکره وه د هغې داسې موضوعاتو ته ژر فکر نه کېدو نو ځکه په ناخبره لهجه يې وويل:

— څه يادوې روښان؟

— بلا او درد روښان زر ځله مې درته ويلې چې زما نوم کامل واخله، خوښېږې دې زه درته سپوږو ووايم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اه لیاقت نلرې کنه روښان سومره ښایسته نوم دې.

– که ښایسته نوم دې بیا خپل په ماشوم چې پېداشو کېږده.

سپوږمۍ په خندا وویل: تر هغه وخت څوک مره څوک ژوندي، اوس لپاره ستا سره خوند کوې..

د دې څخه مخکې چې د دې دواړو جنجال زیات شې په بحث کې داخله شوم او ومې ویل: هو زما فکر شوې تقریبا دا یو میاشت کېږې چې دا نفر زموږ پسې دې.

زما په خبرې سپوږمۍ په حیرت شاوخوا وکتل او ویې ویل: څوک؟ کوم سړی زموږ پسې دې؟

ما او روخشانې دواړو د سترګو په اشاره د سړک هغه بلخوا اشاره وکړل. زموږ د نظر په تعقیب سپوږمۍ هم هغه خوا ته وکتل او ناڅاپه یې په تروش تندې وویل: اه دا خیشت کولچه ولې زموږ پسې دې؟

د سپوږمۍ په خبره مې خندا راغله هغه نفر چې زموږ پسې وو، بیحد چاق ؤ او د رښتیا چې دا خیشت کولچه لقب ورسره ارزې. روخشانې د سپوږمۍ پشان په تروش تندې وویل: سم راته هزاره،ازبک معلومېږی ته یې وه دې سترګو ته وګوره بیخې ښکارې لا نه یوازې دوه سورې معلومېږی.

هغوې دواړه لګیا شوه او هغه سړی ته په کتلو یې یو، یو لقب ورباندې کېخودې تر دې چې کار بیخې د ګوتو اشارو ته ورسېده او د لاس په اشاره به یې یو بل ته ویل چې هغه نفر څومره بدرنګ دې او بیا به دواړو خندل، د هغوې په دې کار هغه کس چې عمر یې ما ته د ۲۵/۲۶ کالو ښکاره کېدی او د روخشانې خبره یا هزاره و یا هم ازبک ځکه د پښتنو څهره له ورایه ښکاره کېږی فکر وکړو چې موږ هغه خوښ شو چې داسې خاندو او په لاس هغه ته اشاره کو ځکه نو سړی جرعت وکړو او د سړک له هغه خوا څخه دې بلخوا را واوړېده، د هغه په داسې را نږدې کېدلو زه وډاره شوم او هغه دوه لیونیانو ته چې تر اوسه لګیا وه او القاب او نومونه یې هغه بدبخت ته انتخاب کول په غوصه مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بس دي، د سړک مېنځ کې دا څه حال دې چې تاسو دواړو جوړ کړې؟ وګورې څه کار مو وکړو؟
زما په قهرجنه لهجه دواړه خاموش شول او روخشانې کرار وویل: موږ څه کار کړې؟
په غوصه مې د هغې خوا ته وکتل او پداسې حال کې چې د سترګو په اشاره مې خپل وشاته هغه سړې ورته په نښه کو ومې ویل: دومره مو وخندل او هغه خوا ته مو ګوته ونیول چې هغه دومره جرئت وکړو د یو میاشت وروسته د سړک د هغه خوا څخه دیخوا راشې زموږ شاته.

زما په خبرې روخشانې او سپوږمۍ دواړو هغه خوا ته وکتل او کله چې پوهه شوي چې زما خبره صحیح ده نو سپوږمۍ په ډار او وېرې وویل: یو کار وکړې دا سړی اوس بیخي سر عام زموږ شا نیولې ده که یو څوک مو داسې وګوری وینه مو حلال ده.
د سپوږمۍ په خبره زما زړه کې هم وهم او وېره وولېده، هغې رښتیا ویل که خداي نکرده کوم خپلوان موږ داسې وګورې نو دا نه وایې چې یو کوڅه ډب هلک زموږ شا نیولې وه بلکې وایې دې انجونو ضرور کوم کار او اشاره کړې چې هلک یې شاه نیولې ده. د وېرې او ډار څخه لړزه مې په بدن راغلې وه سپوږمۍ او رخشانه هم وېریدلې وه خو دا هم د خداي فضل وو چې زموږ مېنځ کې روخشانه یوڅه تېزه او چالاکه وه هغې وویل: شابه څه ولاړ یاست هر یو دې خپل ګامونه چابک کړې او خپل کورنو ته دې ځانونه ورسه وې شابه.

د روخشانې په خبره ګامونه مو تېز کړل او سم صحیح مو منډې وهل شروع کړل، زه خپل د کوڅې مخکې رسېدلې وم د روخشانې او سپوږمۍ کور زموږ د کور څخه څو سړک مخکې وو، دلته تل موږ یو د بل څخه خداي پامانې اخیسته خو دا ځل بغېر لدې چې څه ووایو یو دبل څخه جلا شو او زه په تلوار کور ته داخله شوم، او یوځل مې لا شاته و نه کتل چې آیا هغه سړې تر اوسه زموږ پسې وو او کنه؟ د زیات وېرې او وحشت څخه د خولو لانده خیشته شوې وم، ساه مې نشو اخیستې دا هم د خداې بله مهربانې وه چې مور مې کور کې نه او زما په خیال د همسایه کور ته تللې وه. که

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې په دې حال لېدلې وايې نو يوځل بيا او دا ځل د تل لپاره مې بايد د ښوونځي ته د تلو امېدونه ځان سره ګور ته ورلې وايې.

څو دقيقې د دروازې سره ولاړه وم کله چې يو څه مې دمه راسته شوه، په داسې حال کې چې خپل پښې مې د ځان پسې کش کول دهلېز ته ننوتلم، لاس او مخ مې ومېنځه او د آشپزخانې خوا ته روانه شوم کور کې هېڅ څوک نه وه او دا بېحد جالبه وه؟ اخېر دوې ټول په يوځل چېرته تللې وه؟ او دروازه خو خلاصه وه مطلب بايد يو څوک خو کور کې اوسېږي؟ ټول کور کې په کتو شوم کله چې خپل د مشر تره د کوټې خوا ته نږدې شوم نو د هغه غږ مې واوريده چې موبايل کې لګيا وو خبرې کول او د جان او قربان څخه يې پوهه شوم چې خپل د نامزد سره خبرې کوې، نو ځکه مې کوم مزاحمت ونکړو او کرار د آشپزخانې خوا ته روانه شوم فکر مې کاوه د زيات وېرې څخه مې فشار صفر شوی ؤ.

ځانته مې بوډې راوخيسته خو يوه ګوله مې لا د ستونې څخه نه تېرېدل او سپوږمۍ و روخشانه مې ياد ته راتلل هسې نه هغه سړی د هغوی په سر کومه بلا نه وې راوړې؟ غوښتل مې د هغوې د حال څخه ځان خبر کړم خو هغوې موبايل نه درلود نو زنګ مې نشو ورته وهلې، د زيات استرس، وېرې او فکرونو څخه مې په سر درد شو، نه پوهېدم څه کار وکړم؟ د زړه درزا مې خپله اورېده چې ثانيه کې د زيات وحشت له لاسه زر ځله غورځېده اراده مې وکړل چې لاړشم د هغوې کور ته خو داسې يوازې او همدا اوس تللې نشوم نو صبر مې وکړو چې د مدرسې وخت راشي.

د غرمه درې بجې وه چې آمنې د کور دروازه را وټکول او مدرسې ته د تلو لپاره يې را غږ کړل، زه چې د وخت څخه تياره ناسته وم نو بغير له کوم ځنډ څخه ووتم خو د تلو مخکې خپل ورور ته چې تازه کور ته راغلې ومې ويل: مور ته ووايه چې زه د آمنې سره مدرسې ته لاړم.
ورور مې پداسې حال کې چې سر ښکته وو او ګيم يې کوی د سمده په توګه خپل سر وښوراوه، ما هم نور خبره يو پر دوه نکړل او له کوره ووتلم، توله لار مې د وېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه اخوا دیخوا کتل فکر مه کاوه چې اوس به شاید له کوم کوځې یا ځای څخه هغه سرې را بهر شې او زموږ مخه ونیسې په همدې وېرې او وحشت باندې مدرسې ته ورسېدو.

پوهه نشوم چې استاد څه درس راکړو او څه نه؟ ټول فکر او ذکر مې د سپوږمۍ او روخشانې خوا ته وو، خپل د ملګري په غږ چې ویل یې: ولې ناسته یې درس تمام شو په تلوار له کوټې ووتم د مدرسې مخکې آمنه راته په تمه وه کله چې هغې ته ورسېدم نو هغې ته مې د خبرو کولو اجازه ورنکړل او په تلوار مې ورته وویل: سبا زموږ د تاریخ آزموینه ده او زما کتاب زما د ملګرې سره دی.

زما په خبرې آمنې په ګنګس انداز راوکتل او ویې ویل: ښه اوس څه کوې؟
— د هغې کور دلته نږدې دې که زما سره راشې نو زه به کتاب مې ورنه واخلم.
— اممم نږدې دې؟
— هو هغه مخکې کوڅه کېدې.
آمنه په نه زړه زما سره روانه شوه، زه یوازې هم د روخشانې کور ته تللې شوم خو په دوه دلیل مې آمنه ځان سره کړل اول د سپوږمۍ خبره د هغه خیشته کلوچې له سببه او دویم هم زما مورا! که آمنې کور ته تللې وایې او زه ورسره نه وایم تللې نو مور مې دا ټول کابل ښار خبر کوې چې زما لور ورکه شوې ده!

د روخشانې تر کوره مې په وېرې او وحشت شاخوا کتل تر هغه وخت چې د روخشانې د کور دروازه مې وټکول او د هغې کوچنې ورور راته دروازه خلاصه کړه او بیا ترڅو چې خپله روخشانه راتلل همدا حال مې وو خو د روخشانې په لېدو مې یو راحت ساه واخیسته او زړه کې مې شکرونه وویستل چې هغه ښه وه.

زما په لېدو روخشانه اول حېرانه شوه خو سترې مشې وکړل او د کور ته د تلو ست یې پر موږ وکړو خو ما ورته وویل: نه ګرانې ناوخته ده بیا کوم بل وخت به درشو، زه خپل د کتاب پسې راغلې وم.
— کتاب؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې څخه مخکې چې روخشانه کومه خبره وکړې ما په تلوار وویل: هغه زما د تاریخ کتاب ستا بکس کې پاتې که راېکړې.
د سترګو په اشاره مې روخشانه پوهه کړه چې شرمه ول مه کوه،ښه وو هغې هم زما مطلب واخیست او په تلوار یې وویل: ها ... ها هغه کتاب ښایې؟! صبر زه اوس درته راوړم.

د روخشانې په تلو په یو دروغجن مسکا مې د آمینې خوا ته وکتل، هغې هم شاوخوا په مشکوک نظر کتل، آمینه ښه جنۍ وه هم د اخلاقو له لحاظ او هم قد قواره له لحاظ ښایسته وه، خو یو څه اخلاق یې بل رقم ماته ښکاره کېده داسې چې انسان ورباندې اعتبار نشې کولې لکه پټ مضره چې وې! په هر حال الله اعلم زما یې ورباندې څه. روخشانه څو دقېقې وروسته د تاریخ کتاب په لاس زموږ خوا ته راغله او ما ته په نږدې راتلو د سترګګ په وهلو یې کتاب زما خوا ته ونېو او ویې ویل: اها درواخله کتاب دې لکه چې له غلطې څخه سپوږمۍ زما بکس کې کېخودلې وو.

کتاب مې ورنه واخیست لا مې د روخشانې څخه د مننې کولو لپاره الفاظ خوله کې نن وه منظم کړې چې آمینې وویل: راځه چې لاړشو نور ناوخته ده.
د هغې په خبره مجبور شوم ژر د روخشانې څخه خداي پامانې واخلم او د آمنې سره روانه شوم. همدومره چې راسره راغله د یوه خېرات حق یې درلود ما فکر کاوه شاید "نه" راته وواېې او را به نشې، خو بیا هم منندوي وم چې راسره راغله. د روخشانې په لېدو مې فکر د سپوږمۍ څخه هم راحت شو چې ښه ده، او وېره مې هم کم شوه د څو ساعتو مخکې پشان نه وېریدم کور ته ورسېدو او ما د آمنې سره په خداي پامانې کولو کور ته ننوتلم..

د مور غږ مې د دهلېز څخه راتلو لکه چې راغلې وه؟ ژر مې خپل بوټونه وباسل او کور ته داخله شوم، د داخلېدو سره سم مې سترګې په بې شمېره کالو او جامو ولګېده! دا دومره جامې او خرید د چا دې؟ په حېرت مې هغه شیانو ته کتل چې مور مې را غږ کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څه داسې ګورې راشه تاته مې هم اخیستې.
– خېرت خو دې؟
– هو خیرو خیرت دې خبره نه یې؟
– نه د څه څخه؟ څه خبره ده؟
– لخېره روان یو پکتیا ته.

– په څه خاطر؟
– وا نو بل به څه خبره وې ځو لخېره د مجید جان( زما مشر تره) ښایسته ناوې راوړو.

د مور په خبره مې تازه دې موضوع ته فکر شو او بېحد خوشحاله شوم، اول د دې لپاره چې زموږ کور کې یعنې زما د انا په زامنو کې یواځې زما پلار واده کړې ؤ، او دا دوه ترونه مې د انا څخه واړه زما مور ته پاتې شوي وه او هغې را لوې کړې وه نو اوس ورته سم خپل د زامنو پشان ښکارېده نو ځکه بېحد ورته خوشحاله وه، زه هم خوشحاله وم ځکه اول ځل د دومره کلونو وروسته زموږ کور کې د واده مراسم او محفل وو، دویم دلیل چې زه بېحد خوښه وم هغه دا وو چې ما بیخې خپل اصلې وطن پکتیا نه وه لېدلې او اوس هلته روان وو، د یو ساعت په موده کې مې ټول وېره وحشت او هغه بېځایه فکرونه له ذهن ووته او د مور لخوا په اخیستل شوې د ناوې جامو او سینګار څېزونو کې اخته شوم.

ټوله شپه د خوشحالۍ څخه خوب رانغلو سهار هم وخت پاسېدم او په مور و موښتم ترڅو لاړشو بازار ته او زه ځانته د واده لپاره جامې واخلم خو مور مې ویل: زه پرون ټول ورځ بازار کې ګرځېدلې یم او اوس بیا ستا لپاره نشم تللې ملا او پښې مې درد کوی.. او اخیر کې و یې ویل چې خپل د خاله سره لاړه شه پدی خبره لا خوشحاله شوم، هسې مور سره که تللې وایې نو زیات نشوم ګرځېدلې او هغې خپل د زړه خرید ته هم نه پریخودم، نو ځکه مې خپل مجرده خالې ته زنګونه پرلپسې شروع کړل او یوولس بجوا شاوخوا د کوره د خرید په تکل وخوځېدو. که د څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشتې مخکې جنۍ وایې نو همغه اول دوکان کې مې خپل ټول خرید کاوه خو اوس ټول حالات بدل شوې ؤ، او زه هغه عاجز معصوم جنۍ نه وم د خلکو خبره اوس دنیا دیده شوې وم.

— ستا په نظر دا څنګه دې؟
د مروه په غږ مې نظر د یو جوړه آسمانې رنګ نیلې هندې جوړې څخه چې شاوخوا یې په ښایسته غمیو پوښل شوې وه، او زما په اول نظر خوښ شوې وه واخیست او هغې ته چې یو سور رنګ اوږد کمیس یې په لاس کې ؤ وکړو.
— څنګه دې؟
لاس مې ور اوږد کړو او د کمیس لمنه مې لاس کې ونیوه تیکه یې بخمل وو، زیات ورباندې کار شوې وو د غاړې څخه نېولې لستوڼی،لمنه، شاوخوا ټول یو ځېر، ځېره د غمیو ډک وو! په کرار لهجه مې وویل: امم ښایسته خو دې خو ستا په نظر یو څه زیات ډک ندې؟
— څنګه ډک دې؟ سر مې خلاص نشو.
— زما مطلب یو خو بخمل دی بل بیا دومره په غمیو پوښل شوې د اطرافیانو پشان ښکارې دې جامو سره.
زما په خبره مروه یو ځل بیا هغه کمیس ته ځېر شوه، او ویې ویل: زما په نظر خو ښایست یې همدغه د غمیو په زیات کارونه کېدې.

— د رښتیا ته داسې فکر کوې؟
— هو.
— اممم بیا نو زه پکې څه نه وایم مهم ستا نظر دې واخله مبارک دې وې درته.
— مبارک دې وې راته؟
— هو نو ستا خوښ شوې واخله مبارک دې وې درته.
— لیونۍ دا ما ستا لپاره انتخاب کړې ما وخت ځانته کالې اخیستې؟
د حیرت څخه په ډک غږ مې تقریبا چغه کړه: څه؟ تا دا ما ته انتخاب کړې؟
زما په لوړ غږ باندې په دوکان کې موجود ټولو ښځو او سړیو راوکتل چې مروه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلوار په داسې حال کې چې خپل په خوله ګوته د چوپ شه پشان ما ته کيخودل کرار وويل: هيس... ولې چغې وهې؟ ټول خلک دې خبر کړل.

پداسې حال کې چې کوښښ مې کاوه غږ مې ښکته اوسېږی مروه ته مې کرار وويل: اخ دا نو څه دې چې تا ماته انتخاب کړې؟
– څه ندې کالې دې، و ګوره سومره ښکلې جامې دې.
هغه سور د خلقيانو د بيرغ پشان کالو ته مې اشاره وکړل او ومې ويل: ته دېته ښکلې وايې؟
هغې زما په خبره يو ځل بيا هغه کميس له نظر تېر کړو او دا ځل په زړه نا زړه لهجه يې وويل: امممم يعنې ستا په نظر ښکلې ندې؟
په حيرت او پوسخند مې وويل: ښکلې؟ زما په نظر... البته ستا خوا دې بده نشې سم هغه بالان ورته وايې څه ورته وايې هغه جوال چې په خرو، غوايانو اچوی همغه ښکاری راته..
– نا نو... دومره به هم بدرنګ نه وې؟ او هو هغه نه بالان دې او نه هم جوال! هغه ته غورجين وايې.

–هو... هو همغه زما په نظر دا جامې د هغه خورجين څخه لا بتره دې.
زما په خبرو مروه يوځل بيا هغه کميس ته وکتل او د شونډې لاندې ځان سره يې بنګهاری شروع کړو بيا يې کرار ما ته وويل: ښه نو څه ووايم؟ ته غوارې هغه جامې واچوې نو خپل په زړه يې واخله.
د مروه په خبره د خندا څخه په خلاصه خوله مې هغه هندې آسمانې رنګ جامو ته مې ګوته ونيول او په خوشحالې مې وويل: هغه غوارم.
زما د ګوتې په تعقيب مروه هغه جامو خوا ته وکتل..
په شوق او هيجان مې وويل: ښه څنګه دې ستا په نظر؟
مروه دوکاندار ته وويل: هغه جامې زموږ لپاره راښکته کړی، ترڅو موږ يې د نږدې څخه بهتره وکتلې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمیس مې په خوشحالۍ پورته ښکته کو، مروه هم زما پشان کمیس ته کتل.
— ښه نو څنګه دې ستا په نظر ښکلې دې کنه؟
زما په غږ مروه راوکتل او بیا پداسې حال کې چې ټنډه یې تروه کول د کمیس د اړولو را اړولو حال کې وویل: ستا په نظر یو څه زیات آزاد ندې؟
— څنګه ازاد پوهه نشوم.
— اممم مطلب وګوره ټیکرې یې یو لویښت دې هغه هم نازک ګاج! او شاته غاړه یې هم زیاته لوڅه ده، لستوڼې هم تر څنګلې پورې په یو نازک ګاج پوښل شوې چې د اغوستلو وخت کې ضرور ټول لاسونه دې ښکاره کېږې،او بلخوا پرتوګ پایسې دې هم شلوار دې او تخو پوهیږې چې پلار او ورونه دې د دې شان جامو څخه بد راځې.

د مروه ټول خبرې صحیح وه خو زما په نظر دا زیات ښکلې ډیزاین داره جامې وه نو ځکه نشوم ورڅخه تېریدلې، اخیر په سل خواهش او زاریو مې مروه قانع کړل ترڅو هغه کالې واخلم. د زیات خوشحالۍ څخه په آسمانو روانه وم نه ځمکې چې مروه کرار وویل: که وروسته دې مور، پلار ورونو او ترونو دې کوم جنګ او دعوا وکړه نو زه ملامته نه یم ځکه تا خپل په زړه کالې اخیستې نه زما په زړه او مشوره.
په خندا مې مروه ته وویل: ته خلاصه یې زه جیم جواب یم ټولو ته.
— خداې دې خېر پیښ کړې الفاظ او خبرو دې د دې څو میاشتو په پرتله تغیر کړې دی.

د مروه په خبرو مې یوازې وخندل او نور مې هېڅ و نه ویل، مورې همدا یوه جوړه کالې اخیستې وه نور مو هېڅ نه وو اخیستې! ځکه نور پیسی پاتی نشوه دا جوړه کالې ما په پنځه نیم زره افغانیو واخیست....
په خوشحالۍ او خندا کور ته ورسیدو مور مې بغېر له کوم دمې او استراحت لګیا وه او د ناوې کوم کوټه چې مورې ورته په نظر کې نیولې وه جوړه ول. زمورې د سلام پر غږ یې راوکتل او ویې ویل: خرید مو وکړو؟
ما په خوشحالۍ خپل په لاس کې د کالو غوټه ورښکاره کړل مور مې هم خپل کار پریښود او ټول یوځای د دهلېز خوا ته لاړو. همدا چې ورسېدو ما په تلوار خپل کالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلاسیتک څخه وویستل او پداسې حال کې چې خپل پر ځان مې نیول مور ته مې ور وښودل.

– څنګه دې مور؟ ښایسته دې کنه؟
مور مې بغیر له کوم خبرې کالې پورته ښکته کړل او بیا مروه ته چې د سترېیا څخه په نالې ناسته وه وکتل او به قهرجنه لهجه یې وویل: ما ته ورسره استولې وې ترڅو ورته یو جوړه سم کالې انتخاب کړې دا یو ګز ټوکر څه دې چې دې اخیستې؟
مروه زما خوا ته راوکتل او مور ته یې وویل: خورې زه کار نلرم نه ما ورته اخیستې، او نه مې هم ورته انتخاب کړې، هغه دې لور ده ما ورته وویل چې دا جامې مه اخله د مور وپلار دې نه خوښېږې خو دې ویل زه جیم جواب یم ټولو ته اوس هم ته د هغې څخه پوښتنه وکړه ترڅو ځواب دې درکړي.

د مروه په خبرو مور مې په همغه قهرجن نظر زما خوا ته راوکتل بغیر لدې چې هغه کوم خبره وکړې ما په ژړغونې غږ ورته وویل: دا کالې اوس تازه بازار ته راغلې او ټولو انجونو همدا شان کړې...
– هغه انجونۍ به نور کارونه هم کوې نو ته ځان د هغوې سره سم کوې؟
– نو زه خو څه دا کالې د سړیو او خلکو مخ کې نه اچوم د ښځو محفل کې څه پروا لرې؟
– مورې کلی ته ځو.. او د هغه ځاې د کلی ښځې د سړیو څخه زیات خوله کې خوشې دې. هغوې بې سواده خلک دې سبا ورځ ستا په دې شان کالو اچولو زر رقم خبرې کوې....

خلاصه د خبرې تر ماښام زما ټېنګار د مور انکار، اخېر په دې خبرې یو دبل سره په توافق ورسېدو چې د دې لپاره چې د کمیس غاړه او لستوڼې زیات بربنډ او لوڅ دې باید یو بلېز د کمیس په رنګ د کالو لاندې واچوم ترڅو زما بدن ورڅخه ښکاره نشې، او ما هم اخېر په نه زړه دا خبره ورسره ومنل، سهار په داسې حال کې چې ټول د واده  اخیری خریدل لپاره بازار ته روان شول زه د ښوونځي خوا ته روانه شوم، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کال اخېر آزموينې د پيل کېدو حال کې وه او ما نغوښتل چې د امتحان څخه محرومه شم ښوونځي ته لاړم ترڅو د ښوونکي څخه د يوې هفتې رخصتې واخلم.

ټوولګې ته په ننوتلو نظر مې په دريمې څوکۍ چې اوه اته انجونۍ وه و لګېده..
دا انجونۍ به تل د ښوونکي د راتلو مخکې او خالي ساعتونو کې به سره راټولېدل او مجلس به يې کاوه، دا څو مياشتو کې زه هم ورسره لږ بلده شوې وم او د تلو راتلو وخت کې به مې ورسره ستړې مشې او خداې پامانې کول، نور کوم خاص ملګرتيا مو نه وه سره.

د دا څو مياشتو د عادت مطابق هغوي باندې مې سلام واچوې او خپل د څوکۍ خوا ته روانه شوم، سپوږمۍ او روخشانه دواړه راغلې وه خو دومره په خبرو کولو او مجلس کې ګرم راغلې وه چې هېڅ ما ته فکر نشو، زما په غږ يې راوکتل او د لنډ ستړې مسې وروسته بيا دواړه لګيا شوه. خپل ځاې کې کېناستم او د دوي دواړو نه ختم کېدونکې بحث ته مې غوږ ونيوه خو اخير مې زړه صبر ونکړو او ومې ويل: اې تاسو خبر ياست؟
زما په غږ روخشانې په ډار راوکتل او ويې ويل: په څه؟ بيا خو هغه هزاره ستا مخه نه ويې نيولې؟
د روخشانې په خبره مې تازه هغه کس ياد ته راغلو بيخې مې دا دوه ورځو کې لياده وتې وو.

– نه ليونۍ شکر هغه رومې بانجان مې بيخې ليدلې لاندې، خبره داسې ده چې زه سبا ښوونځي ته نه راځم اممم شايد تر درې څلور ورځو پورې.
سپوږمې- ولې کوم خواستګار لرې که څنګه؟
– نه جوګې زه کوم خواستګار شې مې نلرم، بلکې د مشر تره واده مې دې او غواړو لاړشو پکتيا ته.
روخشانه- اهااا ښه... مبارک دې وې.
سپوږمۍ- کالې دې اخيستې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپوږمۍ په خبره خداي نو ماته موقع په لاس راکړه، په بيحد شوق او هيجان لګيا شوم او خپل د جامو اخيستلو څخه نيولې د مور تر خبرو او کارونو ټول مې دوي دواړو ته کيسه وکړل هغه دواړو هم په بېحد توجه زما خبرو ته غوږ نيولې وو زما د خبرو د خلاصېدو وروسته سپوږمۍ وويل: مطلب ته د واده په ورځ خپل د جامو لاندې يو بلېز اچوې؟

— اهوم مجبوره يم

روخشانه- ولې مجبوره يې؟ ستا زړه ستا کالې! ستا په شخصې انتخاب او ټاکنه ستا کورنۍ څه کار لري؟

هېڅ مې ونه ويل او يوازې مې د هغې خوا ته وکتل روخشانې داسې ويل:"ستا زړه ستا کالې" لکه چې دا ځاې کوم خارج امريکا ده نه افغانستان!؟

سپوږۍ- هيلۍ ماته غوږ شه، ګوره که د هندې جامو لاندې بليز واچوې د هغه ټول کالو خوند او مزه وړې. د دې کالو سټيل په همدې لنډ لستوڼې او خوشې غاړه کېدې. هغوي دواړو دومره دا خبري وکړل، تر دې چې زه يې د مور له خبرې او کارونو څخه پښيمانه کړم. د ټولګي نګرانې ته مې خپل حال بيان کړو او ورڅخه رخصت مې واخيست، ښوونځي رخصت شو او بيا موږ درې واړه د هغه بل پرون پشان کور ته د تلو لپاره راهې شوو.

ټول لاره پداسې حال کې چې په ظاهره د هغوې خبرو ته فکر وو خو اصل کې زما نظر زموږ په شاوخوا ؤ، ترڅو بيا هغه سړی له کوم کونج منج څخه حاضر نشې،

خپل د کور کوڅۍ ته رسيدلې وم چې سپوږمۍ ويل: زموږ د خبرو په اړه سم فکر وکړه هلته کلی ته ځې اطارفو ته ځې نو يو څه ځان ورته پورته ونيسه يو څه چالاکه شه داسې ځان عاجزه او معصوم مه کوه.

سر مې ورته وښوراوه وو، او د کور پخوا روانه شوم. د روخشانې او سپوږمۍ خبري راته صحيح ښکاريده رښتيا ويل زما د کالو ټول خوند همغه کې و. څنګه وکړم؟ څنګه مور راضې کړم؟ د کور دروازې ته رسيدلې وم چې يو شيطاني فکر مې ذهن ته راغلو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې که د مور سره په ظاهره سر وښوراوم او په اصل ميدان کې خپل کالې بغير له دې چې د مور خبرو ته غوږ ونيسم واچوم، څه به وشې؟ مړه به مې کړې؟ نه يوازې شايد يو څه پوچ رد او کنځل به راته وکړې خو د خلکو مخ کې هېڅ نه وايې. پدې فکرونو مې يو شيطانې مسکا پر شونډو خپره شوه او په تلوار کور ته ننوتلم. پلار ورورنه، او ترونه مې لګيا وه د واده د مخارجو او څوک څې، او څوک نځې.سومره خلک به راشې؟ سومره به رانشې، د ډوډۍ او نور د واده اړوند موضوعاتو په اړه خبرې کول. په لوړ غږ مې په هغوې سلام واچوې او خپل د کوټې خوا ته په چټکو قدومونو روانه شوم، غوښتل مې ژر تر ژره د هغوې د نظرونو څخه پناه شم چې هسې نه ووايې:" هيلۍ جامې دې اخيستې؟" او که دا پوښتنه وکړې نو مجبور زه خپل هغه نامې کالې ورته ښکاره کړم.

او که کالې زما پلار، ورونو، او تره ولېده نو د واده ته د تلو مخکې اول زما جنازه کوې بيا څې.. په همدې کش مکش کې خبل کوټې ته ورسيدم ژر مې دروازه بند کړل.. د وېرې او استرس څخه مې ساه، ساه وهل فکر مې کاوه زړه مې خولې ته راغلو سم د جنګ د ميدان څخه را وتختېدلم لا مې خپل په دې بريا جشن نه وو نيولې چې د پلار غږ مې واوريده چې ماته يې نارې وهل...

– هيلۍ دلته راشه.
د پلار په غږ مې يوه نيم کله سکته ووهل، د شونډې لاندې کرار مې لځان سره وويل: يا الله بد مې کړې. پخداې چې د مور خبره منم او د کالو لاندې يو نازک بليز اچوم..
پلار- وه جنۍ زما غږ نه آورې؟ راشه وګورم څه دې اخيستې؟
– بد مې کړې خدايه قول درکوم چې غټ ډبل بليز به اچوم چې د بدن هېڅ برخه مې ښکاره نشې خو ...
لا قول او وعدې مې د خداې سره تمام شوې نه وه چې پلار مې د دريم ځل لپاره غږ کړل او ما هم نور ځنډ جايز ونه بلو او په تلور د دهلېز خوا ته لاړم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپې غبرګو سترګو لاندې اوسیدل ډېر بد احساس لري، لکه چې هغوئ خپل حساب کتاب خلاص کړې وو؟ ځکه بیغمه ناست وه پلار مې د چای پیاله لاس کې وه مشر تره مې هم تلویزیون خوا ته کتل خو فکر یې زموږ خوا ته وه او مشر ورور مې هم لکه چې هغه حساب او کتاب را جمع کو. پلار مې خپل د چاي پیالې څخه یو دوه غړپ وکړل او بیا ماته په کتو یې وویل: دا زما غږ دې نه آوریدو دومر مې درته نارې کړې؟

هېڅکله مې دومره زړه او جرئت نه درلود چې مخامخ پلار ته جواب ورکړم، داسې نه وه چې پلار مې قهرجن او غوسه ناک اوسیږی نه زما پلار بیحد نرم زړه او خوش اخلاق وو، خو بیا هم موږ د هغه د غږ او خبرو د هیبت لاندې وو په کرار او په لړزیدلې غږ سره مې وویل: ه... هغه ما غوښتل خپل کالی بدل کړم.

زما په خبری پلار مې خپل سر د پوهېدو په انداز وښوراوه او ویې ویل: خرید دې خلاص شو که لا پاتې؟ مور خو دې ماته پرون ویل چې تاته نور پیسی هم درکړم ځکه تا هغه ورځ په دومره پیسو یوازې یوه جوړه کالې اخیستې!؟
د پلار په خبرې ما خپل د خولې لاړې تېر کړل او د سترګو د کونجونو څخه د مور په لټه شوم چې شابد مرستې ته مې راشې..
پلار- ته لاړشه خپل کالې راوړه چې زه وګورم اخیر دا څنګه کالې دې چې تا دومره قیمته اخیستې.
د پلار په خبری ژړا ته ورسېدم که کالې مې دوې ته ښکاره کړې وایې زما هغه ښایسته کالې ټوټې،ټوټې کول اور یې ورته اچوې، نه پوهېدم څه ځواب ورکړم..!

مشر تره مې په خندا وویل: واده زما دې ما د زر افغانیو جوړه اخیستې هغه وخت آغلې شهزادګې دومره قیمتې جامې اخیستې؟ دا که ستا واده وایې بیخې به دې کالې د خارج څخه راغوښتل..

د دې څخه مخکې چې زه کومه خبره وکړم مور مې وویل: زما د لور په کالو ریشخند مه وهې د اوس وخت انجونی دې دا خو څه پخوا وخت ندې چې په پنځه زر روپې

(c) ketabton.com: The Digital Library

به یې د ناوې کور اخیست. اوس زمانه بدله شوې.
د مور د خبرې په تایید مې پلار وویل: هو ولاې دا خبره خو ده پخوا وخت کې بیحد ارزنې وه، برکت و زما خداي بخښلې پلار به راته ۴۰۰ افغانۍ په لاس کې راکړل او نیم میتر لیست به د کور د موادو وو، خو دومره برکت وو چې همغه روپۍ باندې به هرڅه واخیستل شول. خو اوس وخت یوازې له کور ووځه او بیرته راشه بغیر لدې چې کوم شئ لا واخلې زر دوه زر افغانۍ به درڅخه تللې اوسېږي..

د پلار د خبرې په تایید کې مې مشر تره یوه خبره وکړل، بیا ورور مې تر دې چې زما د کالو موضوع یې له هېره ووته، مور مې کرار راته وویل: ورځه پیسې دې زه د پلار څخه درته اخلم چې ځانته چپلې او نور شیان واخلې دلته مه درېږه اوس بیا یې تاته فکر کېږي او وایې کالۍ دې راوړه.
په خوشحالۍ مې مور ته وکتل او په زړه کې ورنه زر ځله خار او قربان شوم، په چټک قدمونو مې ځان خپل تر کوټې ورسه وه. تر ماښام ډوډۍ وخت پورې د دوې مخکې رانغلم د ډوډۍ خوړلو وخت کې هم زما کشر تره کور ته راغلو هغه جلال آباد پوهنتون کې محصل وو، زما دمشر، تره د واده لپاره یې یو څو ورځې رخصتې اخیستې وه..

د هغه په راتګ زما د کالو او نور شیانو بحث یو دم لیاده ووت، او ټول د واده په مخارج او خبرو اخته شوه، د چاي ډکي پیالې مې د هغوې مخې ته کیخود او خپل د کوټې خوا ته روانه شوم خو خونې ته د داخلېدو مخکې مې مور راته غږ کړو او زه یې خپل کوټې ته ور وغوښتم..
— ها مور څه وایې؟
مور مې پداسې حال کې چې خپل د کوټې په الماري کې لګیا وه ویې ویل: دروازه بنده کړه دننه راشه.

دروازه مې بنده کړه او خپل د مور خوا ته ورغلم چې مور مې د الماري څخه یو پخواني غوټه چې یو څه پکې ترلې وه را بهر کړه. هغه غوټه یې په غالې کیخوده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاصه یې کړه، ما هم ورته په حیرت کتل چې دا اخیر څه دې؟ مور مې د هغه پخواني او قدیمې ټوکر او غوټې څخه یو څو دانې ښایسته لونګین او د لاس بنګړې چې ما ته د سرو زرو ښکاره کېدل را بهر کړل، د هغه شیانو په لېدو زما طاقت ونشو او په هیجانې توګه په داسې حال کې چې هغه ښایسته لونګین مې راخیست ومې ویل:

– مورا ایا دا ستا دې؟ تا ولې مخکې دا ماته نه ښکاره کول؟ پوهېږې اوس وخت دا لونګین د افغانې کالو سره انجونۍ څورند کوې او سومره ښکلې ښکارې..
لا مې لاس کې هغه لونګین نه و راخیستې چې مور مې هغه غوټه زما د لاس څخه کش کړل او په تروش تندې وویل: دا زما ندې دا امانت دې.
– د چا امانت؟
– دا څېزونه ستا د خداي بخښلې انا دې. او د هغې وروسته باید د هغې لور ته مې ورکړې وایې خو دا څو کاله کېږې نه ستا عمه دلته راغلې او نه هم زه ورغلې یم.
اوس چې د واده پسې ځو نو زه به دا امانت هم ستا عمه ته ورکړم او خپل غاړه به خلاصه کړم.

– مور یو دانه لونګین یې ماته راکړه، زه خپل په افغانې کالو باندې څورند کوم خیر دې.
– دا زما ندې لورې امانت دې، او امانت شې خو زه تا ته نشم درکولې که زیات دې خوښ شوې کله چې ستا عمه ته مې ورکړل بیا له هغې وغواړه.
هرڅومره چې زارې مې وکړل خو د مور همغه یوه خبره وه، اخیر مرورہ شوم او غوښتل مې له کوټې څخه ووځم چې راته ویې ویل: ها ته دا پیسې واخله دا دې پلار تاته درکړل او هوو داسې دې خوله کړه مه نیسه زما سره زما د ځوانې د وخت یو څو دانې لونګین پاتې هغه به درکړم.

د مور په دی خبره خوشحاله شوم او بیرته راوګرځېدم هغه هم لګیا شوه او د لس شل دقیقو کتلو او پلټنې وروسته یو دوه دانې لونګین زما خوا ته ونیول، د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنیو په اندازه ښکلې نه وه خو بیا هم ښه وه ګزاره یې کول. لونګین او پیسې مې ورڅخه واخیستل او لاړم خپلې کوټې ته. خپل ځای مې هواره کړه او په ځای پریوتم خپل د ۱۸ پیېړي مات،مات موبایل مې راواخیست چې د زیات استعمال کېدو څخه نور هېڅ شئ پکې نه و پاتې. حتا بترې لا پړسېدلې وه! او زه هرځل وېرېدم چې هسې نه وچوې! دغه هم غنیمت وو زموږ خپلوانو کې پیغلې انجلۍ ته ترڅو چې کوژده ونکړې موبایل نه ورکوی خو ما په سل زاریو دغه خراب مان موبایل ترلاسه کړې و.

څه کوم خاص کس نه وو چې ورسره خبری وکړم موبایل کې یو د مروه نمبر وو، او د یو دوه نور ماماګانو نمبرونه مې وه چې مور مې ورسره کله ناکله زما د موبایل لخوا ورسره خبری کول، هغه دوه دانو لیونیانو" سپوږمی، رخشانه" سره هم موبایل نه وو چې خبری ورسره وکړم د موبایل ګالرې ته لاړم په د ګوتو په شمار ۲۰ دانې ټیک تاک مې درلود چې تقریبا د زر ځله څخه مې لا زیات لیدلی وه خو بیا هم د مجبوری څخه د هغمه کتلو باندې اخته شوم چې یو دانه د راشد خان ویډیو راغله. د هغه په لیدو مې هغه ورځ یاد ته راغلل چې روخشانې او سپوږمۍ د هغه تعریفونه کول، د هغه ورځ په یاد راوړلو مې خندا راغله هغوې داسې تعریف کاوه چې زما ذهنیت بیخې دی راشد خان ته ونشو او ما فکر وکړو ضرور د دوې کوم شناخته یا هم نامزد دې..

خو اوس چې فکر کوم واقعا زه هم ساده یم. زه بیا سپوږمۍ ته وایم چې ژر د خبری مطلب نه اخلې! پداسې حال کې چې زه هم د هغې څخه په کمه نه یم. د دوه درې ویډیوګانو کتلو وروسته مې خوب راغلو او ویده شوم..
د سهار د لمانځه وروسته مور خوب ته پرینخودم او ویل چې خپل شیان سره راټول کړه چې اته بجو ته ځو بازار ته او ته خپل خرید وکړه، او همدا چې د بازار څخه راشو پلار به دې د موټر ټیکټونه کړې او حرکت به وکړو.. د مجبور څخه په پټو سترګو لګیا شوم او خپل ضروری وسایل مې په بکس کې ځای پر ځای کړل او بیا بغیر لدې چې ډوډۍ وخورم د مور سره د بازار پر خوا وخوځېدم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

بازار کې زیات ونه ګرځېدو یوه جوړه څپلۍ مې واخیست او دوه جوړې مې بنګړې لاس کې واچول البته د مور په زیات ټینګار چې ویل یې لاسونه دې خالي دي او بد ښکاري، کور ته چې ورسیږو لا وخته وه خپل اخیستل شیان مې هم بکس کې کیخودل او غوښتل مې لاړشم آشپزخانې ته ترڅو یوه ګوله ډوډۍ وخورم د زیات لوږې څخه مې فشار بیخې صفر شوې وو، لا د کوټې څخه وتلې نه وم چې د هلېز ته زموږ د همسایه ښځه د آمنې مور راننوتل! اه خدایه دېته وایې بد شانس! ددې ښځې څخه ما پر بعضو دلایلو بد راتلل او هېڅ مې زړه نه غوښت ددې مخکې اخوا دیخوا شم خو قسمت ته ګوره هې...

د مجبورې سلام مې ورباندې واچو هغې هم په خوش اخلاقې ځواب راکړو او زما مخ یې ښکل کړو! د دې څخه مخکې چې هغه کومه خبره راسره وکړې مور مې راته وویل: لاړه شه هیله جانې ترور ته دې چاې راوړه..
– سمده مور.
غوښتل مې د چای راوړلو لباره آشپزخانې ت  لاړشم خو د همسایه ښځې وویل: نه ... نه ځان مه په زحمت کوې زه راغلې وم چې خداې پامانې درسره وکړم د خیر سفر ولرې، پخیر لاړشې او پخیر خپل ناوې راوړې.. او دا چې زما هغه درخواست..

زه منتظر وم چې واورم څه درخواست لرې؟ خو مور مې اجازه رانکړل او ویې ویل: ته لا تر اوسه په تمه یې؟ شابه چاې راوړه..
د مور په تنده لهجه مجبوره شم په تلوار د آشپزخانې خوا ته لاړه شم، اشپزخانه د دهلیز څخه یو څه لرې وه او وا مې نه وربدل چې د همسایه ښځې څه درخواست درلود؟ ځان سره مې وویل ضرور کوم شئ به یې زما د مور څخه غوښت لکه پیسې؟ ځکه د دوې اقتصادې حالات یو څه زیات خراب وو، چاې مې دم کړل او بیرته راغلم د هلیز ته د چاې ترموز او پیالې مې د هغوې مخې ته کیخودل او مور ته مې وویل: زه ځم ډوډۍ خورم زیات وږې شوې یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور- سمده لورې ورځه.
همسایه ښځه- هو .. هو لاړه شه ښه ډوډۍ وخوره په ځان پام کوه دوه هډوکې درنه جوړ شوې..
په حیرت مې د هغې خوا ته وکتل خو هېڅ مې ونه ویل او لاړم ترڅو خپل ځانته یو شئ د خوړلو لپاره را واخلم...

د غرمې دوه بجې وه چې بس کې کېناستو او حرکت مخ پر پکتیا، دا یو بس کامل زموږ د خپلوانو څخه ډک وو، زموږ ټول کورنۍ، بیا زما د مور لخوا ماما خیل مې زیاتر زموږ سره راغلې وه، ځکه هغوې یوازې د مور لخوا زموږ خپلوان نه وه بلکې د پلار لخوا هم زموږ خپل وه صحیح نه پوهیږم خو لکه چې زما مور زما د پلار د عمه د لور د ایندرو ملسې وه!!! زه د خپلوې په تشریح ورکول کې یوڅه مشکل لرم بدبختانه تاسو خپل حساب وکړې نو چې دقیقا څه یې راتلل؟ په هر صورت زه خوشحاله وم چې سفر کې راسره مروه ملگرې وه، زموږ څنګ په څنګ څوکۍ وه، موټر چې د کابل څخه حرکت پیل کړو نو زموږ لیونتوب هم ورسره شروع شو.

دایره مو وهل ټپي مو ویل او بد حال مو جوړ کړې وو موټر کې دننه، خو دا مستۍ او شور، تماشا زیاد دوام ونکړو! ځکه د پلار، او ورونو غږ مې پورته شو چې خبري کول او ویل یې: بند کړې دا شور او تماشا...
په خفه انداز خپل په څوکۍ کېناستم چې زما د څهرې په لیدو مروه په خندا وویل: څه وشو؟ ولې دې موډ اف شو؟ خفه شوی؟
په قهرجن لهجه مې وویل: موږ واده ته روان یو کوم جنازی تخو نه یو روان چې دوي داسې کوي.
مروه- خدای دی نکوی. داسې منفې خبرې د خوشحالۍ وخت کې مه کوه. نڅا او سندرې به هم ووایې خو خیر یاده وه چې لومړې پخیر تر مقصد ورسیږو.

هېڅ ځواب مې مروه ته ورنکړو او په همغه خفګان باندی خپل په څوکۍ کېناستم، دا لومړې واده وو چې زموږ کور کې کېدې او زما ورته بیحد تلوسه وه زړه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښت خوشحالۍ او نڅا وکړم پکې خو دوې راته اجازه نه راکول، یو څو دقیقې خفه کېناستم خو ځان سره مې فکر وکړو چې نه ارزي د مروه خبره په دې خوشحالۍ کې په ځان غم ونیسم نو موبایل مې راوباسو او د موټر له ښیښې څخه مې د بیرون د ښایسته منظري ویډیو نیول شروع کړل، دومره ویډیوګانې مې ونیول چې نور د موبایل حافظه مې ډکه شوه او یو عکس لا پکې نه ځاې کېده ..

نیم ساعت بیا د مجبورۍ کېناستم او ځینې هغه ویډیوګانې چې زما په نظر خراب راغلې وه د موبایل څخه ډلیټ کړل، ځکه سبا واده وو او هلته ما زیاد عکسونه غوښتل واخلم نو د موبایل حافظه مې باید خالې وایې. نیم ساعت د ویډیوګانو ډلیټ کولو کې تیر شول. کله چې کار مې خلاص کړو نو سخت خوب راغلې وو ځکه سهار وخت پاسیدلې وم او بیا دومره په بازار کې ګرځېدلې هم وم نو بیحد ستړې وم خو موټر کې خوب نه راتلو، ځکه لاره او سړکونه خراب وه یو متر که پوخ سړک وایې سل متر کنډو کپر وو او موټر داسې ښوربده چې زه وېرېدم چې هسې نه موټر چپه شئ.

خو بیا هم ستړیا راباندې غالب شوه خپل سر مې د مروه په اوږه کېخودو او د دوه دقیقو وروسته مې سترګې ګرمې شوې او ویده شوې وم، د څه کسانو د بنګ بنګ په غږ مې سترګې خلاصې کړې، د مخامخ منظرې په لېدو مې نفس اخیستل لیاده ووت او خوله مې چغې وهلو ته خلاصه کول چې مروه زما په خوله لاس کیخود او په تلوار یې زما د غوږ څنګ ته وویل: چغې مه وه زموږ سره کوم کار نلرې...
د زیات وېرې او ډار څخه مې لاسونه رپ،رپ لړزېدل او ساه مې نشو اخیستل مروه کرار کرار زما پر ملا لاس تېر کړو او دلدارې راکول چې هېڅ خبره او مشکل نشته.

خو زما غبرګې سترګې د موټر په هغه تپ رڼا کې د هغه سړیانو په لاس کې په کلاشنکوف باندې موښتې وه، او په یو ثانیه کې زر رقم فکرونه او زر رقم خبرې مې ذهن کې ګرځېدل راګرځېدل د روخشانې خبره مې یاد ته راغله چې یوه ورځ یې موږ ته خپل د ماما د زوې کیسه کړې وه چې طالبانو یې موټر په لاره کې دره ولې و او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د ماما زوې په دې خاطر وژلې وو چې د مسلم( انګلیسی کورس) کارټ ورسره وو. سترګې مې د اوښکو ډکې شوې او خپل د ورور خوا ته مې وکتل هغه هم مسلم کورس وایو شاید د هغه په جیب کې هم د مسلم کارت وې یعنې اوس به هغوې زما ورور ووژنې؟ په دې فکر مې ژړا نور هم زور واخیست چې مروه په کرار وویل:

– اې لیونۍ ته ولې داسې کوې؟
د ژړا څخه په همغه نیولې غږ مې وویل: ط.... طالبان غوارې مورږ ووژنې؟
– الله اکبر. نه.. ته ولې داسې فکر کوې؟ هغوې خو څه انسان وژونکې ندې.
– ه... هغوې وحشیان دې.
– سیس.. دا رقم توهین که ته ماته هم وکړې زه دې وژنم هغوې خو لرې.
زمورږ خبرې لا نه وه خلاص شوې چې د شالخوا مې په سر باندې کرار یو شې ولګېده او د هغه سره سم د یو ځوان هلک غږ چې ویې ویل: خورې وبخښه فکر مې نشو..
کله چې ور و مې کتل نو یوځوان طالب مې ولېد چې پر اوږه یې کلاشنکوف وو او د هغه کلاشنکوف لاستې زما پر سر لګېدلې وو، د هغه طالب په لېدو دومره وډاره شوم چې بې اختیار د مروه خوا ته نږدې شوم. د زیات وحشت څخه مې غاښونه یو پر بل لګېدل..

هغه ځوان طالب مخکې لاړو او د هغه بل طالب چې د عمر څخه یو څه پوخ معلومېده او لکه چې د دغه ځوان طالب مشر وو شاته ودرېد، هغه ځوان طالب د هغه بل طالب غورږ کې یوڅه وویل بیا دغه مشر طالب خپل ستونې صاف کړو او مورږ ټولو ته یې په کتو وویل:

لارې کې خو کوم چا تاسو ته تکلیف نه وې درسه ولې؟
د هغه په خبره ټولو د "نه" پشان سر وخوځاوه چې یو ځل بیا هغه ځوان طالب د ده غورږ کې یوڅه وویل او مشر طالب د سر ښوراولو حال کې وویل: بخښنه کوې که مورږ په تکلیف کړې اوسیږی خو دا ستاسو د امنیت په خاطر وو نور تاسو ته مزاحمت نکو م ښه سفر ولرې..

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هو مخکې زموږ یو دوه نور ملګری شاید راشی هغوې ته ووایست چې حمید اغا تلاشي اخیستې ترڅو نور وخت مو ضایع نشي. ښه سفر ولرې خداې مو مل..

هغه طالب دا خبره وکړل او له موټر څخه ښکته شو د هغوي د ښکته کېدلو سره سم موټر بیرته خپل عادی مزل بیل کړو خو ما د حیرت او تعجب څخه خوله خلاصې پاتې وه چې موره په خندا وویل: ملامته نه یې لومړې ځل زه هم همدومره وېرېدلې وم خو دا عادی خبره ده د ملې اردو د تلاشي څخه دوه ساعت وروسته د طالبانو تلاشي راځې او دوې همیشه موتران دره وې او همدا پوښتنې کوې چې ملې اردو خو تاسو پعذاب کړې نه یاست؟ اوس د دې ځاې څخه دوه ساعت وروسته بیا د ملې اردو پوسته ده او هغوې هم همدا پوښتنې کوې..

د حیرت څخه مې خوله خلاصه پاتې وه، یعنې څه مطلب دوه ساعت د ملې اردو تلاشي او ګزمه ده او دوه ساعت وروسته د طالبانو؟ زه نه د سیاست په اړه پوهېدم او نه د دولت په کارونو، خو ما تراوسه فکر کاوه چې ټول افغانستان د دولت په لاس کېدې او طالبان لکه یو پټه تروریستې ډلې، او ګروپ پشان غلچکې او پټې حملې او تباهې کوې! خو خبره نه وم چې د افغانستان دولت ولکه او کنټرول یوازی د ولایتونو په مرکزونو ده نه په کامل ولایت! او نه هم په کامل افغانستان! زه پېدا شوې وم په کابل کې د ریاست جمهورې په دوره کې او لویه شوې هم وم په همدې ریاست جمهورې د درې رنګه بیرغ لاندې ما طالبان یوازی د یو مفسد ګروه په صفت پیژندل او بس..

خو نن د دي دوه طالبانو خبري او چلند ما ته د یو دولت د امر لاندې عسکرو پشان ښکاره شوه نه د کوم دهشتګر د ډلې پشان چې کار یې چور او چپاول دې. د ډېر فکرونو څخه مې سر په درد شو.. عه پر ما یې څه چې څوک څه کار کوي؟
د څو ساعتونو وروسته پکتیا ته ورسېدو که څه هم د طالبانو په لېدو یو مرګ راباندې تېر شوی وو او هم د لارۍ سفر د لاس او پښو اچولې وم خو بیا هم د واده شوق دومره زیات وو چې د رسېدو سره سم د دې څخه مخکې چې د چا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترمشې وکړم په تلوار مې یوه جوړه ښایسته کالې واچول او ځان مې ښایسته جوړ کړو عمه مې ویل ځکه چې مورې سترې یو نو نن ورځ او شپه به کوم سیل او تماشا نه نیسې ترڅو مورې استراحت وکړو خو ما مخالفت وکړو او شپې ته د یو وړوکې محفل جوړولو غوښتنه مې وکړه

زما په ډېر غوښتنې مور او عمه دوې راضې شول او یواځې د څو خپلوانو په راټوله ول یو وړوکې محفل یې جوړ کړو خو ما ته یې دومره خوند رانکړو ځکه زیاتره بوډې ښځې راغوښتې وی د محفل د ځایه زیات د ختم جلسه معلومیده په خفه څهره یو کونج کې ناسته وم چې مروه په خندا زما خوا ته راغله او ویې ویل: ولې دی په تندې دولس نوشته دې خیرت خو دې؟

– وګوره څه حال دی.

مروه- څه حال دی؟ همدا دې مګر نه غوښتل؟

– نه ما داسې نه غوښتل دا ټول بوډې راغلې او نه پریږدې یو سندره لا وغړه وم.

مروه- دا کلی دې او د واده څخه دوه درې شپې مخکې سندرې او نڅاګانې دومره نه کیږې.

هېڅ مې ونه ویل او په همغه نارحت انداز کېناستم په څومره امېدو راغلې وم چې د کاکا واده مې دې او ته اوس دې حالت ته وګوره، ټوله شپه بوډې ښځو په خبرو او غیبت تېره کړل دېته مې زړه ښه کړې وو چې سهار ته به یو سم محفل جوړ کړم خو هغه خیال مې هم په اوبو لاهو شو ځکه پلار او ترونو مې پرېکړه کړې وه ترڅو سبا واده ونیسې او بل سبا حرکت وکړې!

– مورې دا نو څه رقم حال دې؟ که زه خبره وایې چې تاسو دا شان واده نیسې زه له سره بیخې راتلم هم نه..

مور- خپل د پلار خبرې خو دې واورېدل کار لرې بیکاره ندې ډېر وخت نشې تېر کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خفګان مې وویل: اخیر ما دومره کالۍ شیان اخیستې او هغه وخت یوازې یوه ورځ تېره وو؟
مور- مجبورې ده ګرانې لوری کنه ما هم غوښتل یوځه ډېر وخت پاتې شو.
نور مې څه ونه ویل او په همغه خفه انداز لاړم خپل ځاې ته ترڅو ویده شم خو خوب چیرته وو؟ خپل اخیستل شوې کالې او هغه نیولې پلانونو ته مې فکر کاوه اه سومره فکرونو او امېدونو سره راغلې وم خو اوس ګوره یوازې یوه ورځ واده دې او بیا بېرته مخ پر کور سفر، د ډېر فکرونو وروسته و دې پایلې ته ورسېدم ترڅو هر کار چې کوم باید سبا یې وکړم باید سبا خپل نېولې فکرونه عملې کړم زه نشم کولې هغه کالۍ چې په دومره شوق مې اخیستې بغیر له اچولو ولاکه له ځان سره بېرته کور ته ویسم، پدې فکرونو مې خندا پر شونډو راغله او ویده شوم.

سهار د مونځ لپاره مور مې راویښه کړم او د لمانځه وروسته سرېان د ناوې د کور خوا ته روان شول ځکه مورِ رواج درلود د واده محفل او ډوډۍ ورکول مو د ناوې په کور کې کول او د هغه ځاېه مو ناوی راوړل او بغیر له کوم دمې نېغ په نېغ تلو د کابل په لور نو ځکه سریان لاړل ترڅو د واده لپاره چمتو والې ونیسې او ځکه چې کلې وو نو انجونو هم د سهار د لمانځه وروسته خوب و نکړو او پاسېدل تر څو د کور کارونه وکړې، ما هم کوم کار نه درلود خو ویده نشوم او خپل د شپې د پلان پر اثاث لګیا شوم ترڅو ځان د واده لپاره تیار کړم د سهار د څلور بجو څخه لګیا شوم خپل په چمتو کولو او د سهار لس بجو خوا وه چې د مور د بېحد خبرو له امله چې ویل یې واده تېر شو ته څه کوی ژر کوه راځه! لاس مې د سینګار کولو څخه واخیست او په خوند سره مې هېنداړې ته وکتل.

د څهرې څخه بغیر له آریش څخه هم ښه وم دومره بدرنګه نه وم سپین مخ، غټې خرمای سترګې، نرې پوزه، لورِ قد تک تور ویښتیا چې تر ملا پورې مې راتلل اوږده بابه، او د روخشانې خبره شمشیری وریځې، او یوڅه چاغه وم البته زیات نه یوڅه داسې چې د لورِ قد سره مې هغه چاغ والې خوند کاوه اوس چې آریش مې هم کړې وو نو بیخې خپل په نظر ځان راته کوم د هالیوډ هېروینه ښکاریده، پدې فکرونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندا سره مې د دې څخه مخکې چې مور مې کوټې ته راشي او ما پداسې حال کې وويني ژر مې خپل پر کالو حجاب واچو، او د کوټې څخه د باندې ووتم.

د کوټې څخه د وتلو سره سم د مور سره مې مخامخ شوم، داسې حال کې چې حجاب مې اچولې وو او په نقاب باندې مې مخ پټ کړې وو خو بيا هم زما د پورته قات شوی باڼه په لېدو د مور تندې مې تروش شو او ويې ويل: دا درې ساعت کېږې درته نارې وهو څه کار کوی؟
– راغلم کنه وا..
د دی څخه مخکې چې مور مې کومه بله خبره وکړې د ورور غوسه ناک غږ پورته شو چې ويل يې دا درې ساعت کېږې موټر ولاړ دې تاسو څه کوې ژر راشې.

زه هم په تلوار د دې لپاره چې د مور د نور پوښتنو او خبرو څخه ځان وژغورم په تلوار د موټر خوا ته لاړم او کېناستم، د لس دقېقو وروسته د ناوې کور ته ورسېدو دا لومړې ځل وو چې ما خپل د پلار خپلوان لېدل هغوې زه يو ځل مخکې لېدلې وم خو بېحد ماشومتوب کې، هلته د رسېدلو سره سم ما غوښتل خپل حجاب بدل کړم ترڅو خپل ښکلی کالی خلکو ته وښايم خو مور مې مخکې کړم ترڅو اول د ټولو خپلوانو ښځو سره ستړی مشي وکړم بيا وروسته حجاب بدل کړم.

– موری زه خو کوم ځای تښتم نه اول اجازه راکړی خپل حجاب بدل کړم بيا راځم د ټولو سره ستړی مشی کوم.
مور- نه لومړی ستړی مشې وکړه بيا دی حجاب بدل کړه، کارونه زيات دی وروسته زه په کارونو بوخته کيږم او ته هم د چا سره ستړی مشی نکوی..
دا ځل مې تقريبا په زاری باندې وويل: پخدای موری ستړی مشې کوم تاسو اجازه راکړی حجا...
خو د دی څخه مخکې چې زه خپل خبره پوره کړم د څو ښځو لخوا کلا بنده شوم او د مخ د ښکلولو شرپ، شرپ پورته شو، تر يوه ساعت ما يوازی د راغلو ښځو سره ستړی مشي کول هر يوه چې راتلل نو په حيرت به يې ماته راکتل او بيا لومړې خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې دا وه چې" سومره لويه شوې يې!" او ما به هم په يوه دروغجن مسکا ورته کتل، د يو ساعت وروسته مې ځان په زر رقم چل او فريب د هغوی له منځ وباسه او د مروه خواته روانه شوم ترڅو ما ته يو ځای وښايې خپل حجاب بدل کړم..

لا مروه ته رسېدلې نه وم چې احساس مې کړو ټول دنيا مې په سر څرخې، غوږونه کی می بنګهار شو او سترګې وړاندې مې ټول نړۍ توره شپه شوه، پر ځمکه د غورځېدو مخکې مې مروه ولېده چې په وحشت باندې زما خواته منډې وهل او بيا د سر لګېدل مې د ځمکې سره او بنـــــــک غږ چې په غوږونو کې مې انګازی کولې او بيا تپه تياره ...

د ژړا او د خبرو په غږونو مې سترګې خلاصې کړې، خپل د عمه د کور کوټه کې وم همغه کوټه چې سهار مې پکې ځان سېنګار کاوه راسته خوا ته مې مور ناسته وه او ژړل يې نور څوک مې سم نشو لېدلې ځان مې نشو ښوره ولې خو باوری وم ټوله کوټه د خلکو څخه ډکه ده، زما لاس کې سېروم وو د څو ثانيو وروسته لومړې کس چې فکر شو زه په هوښ راغلې يم زما کوچنې ورور د هغه په غږ ټولو ماته فکر شو او يوه يوه راڅخه د حال پوښتنه کول خو .. خو .. ما نه ژبه ښوره ولې شوه او نه ځان! فکر مې کاوه ژبه او بدن مې راباندې دروند دې او حرکت نشم ورکولې يوازی سترګې می شاوخوا اړولې شوه، مور مې چې څنګ ته ناسته وه زما د حال په لېدو ورختا شوه او د " يالله خير" پر ويلو يې زه نور هم ورختا کړم...

مور- خبری وکړه لورې څه شوې دربادې؟

مور ته مې په وېرېدلې نظر وکتل او لدې چې نه مې خبری کولې شو او نه مې ځان خوځه ولې شو ژړا راغله چې مشر تره مې وويل: ورينداره مه يې پعذاب کوې ډاکتر ويل لږ فشار يې ښکته شوې نور ښه ده لږ وخت ورکړې لخيره خبری هم کوی. اوس راځې بهر ورباندې زيات شور ماشور مه جوړ کوې.

د هغه خبره ټولو تاييد کړل او يو يو له کوټې څخه بهر لاړل پلار مې زما خوا ته راغلې زما په سر يې لاس کش کړو او بېرون لاړو خو مور مې راسره پاتې شوه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو د تلو وروسته لږ مې فکر ځای ته راغلو او شاوخوا په کتو شوم تر اوسه مې حجاب په ځان ووا خو د حجاب غاړه لږ لانده و، او ما فکر وکړو شاید زما د هوښ راوړلو لپاره يې پر ما اوبه اچولې وي!

خپل حالت ته ګنګسه او وېرېدلې وم! اخير ناڅاپه ولې داسې وشو؟ له يو خوا خپل و دی راپيښ شوی حالت ته غمژن وم له بلخوا دا چې يو واده وو او هغه هم داسی پر ما تېر شو بېحد يې خفه کړې وم داسې چې اوښکې مې د سترګو څخه پر بهېدو شول مور مې زما سر خپل غېږه کې ونيوه او هغه هم راسره په ژړا شوه نه پوهيږم د سيروم تاثير وو که څه خو بيا راباندې د خوب حالت راغلو او ويده شوم دا ځل چې راويښه شوم نو لومړې مې خپل د ځان د خوځولو کوښښ وکړو او شکر خوځولې مې شو، فکر مې کاوه ژبه مې هم سپکه شوی د امتحان لپاره مې کرار خپل مور ته غږ کړل او هو غږ مې هم کولې شو زما په غږ مور مې راويښه شوه او زما په لېدو يو ځل بيا ژړا يې پيل شوه او زه يې په ژړا باندې خپل غيږه کې ونيول.

مور- خدای دې ما ستا بلا ګردان کړې.
— خدايې دې نکوې موری...
مور مې په همغه ژړا باندې وويل: خدای دی د بخيل او وړی انسان سترګي خاوری کړې چې زما د ګل پشان لور يې راته په کټ څملول دا ټول د نظر کار دې..
مور مې لګيا شول او خلکو ته يې خبری شروع کړل او ويل يې دا ټول د بد نظر له لاسه داسې وشول خو ما ژړل پدی چې واده راڅخه تېر شوی وو، ما خپل پدی بد مرغۍ ژړل چې مور مې پاڅه ولم او ويې ويل: کالې دی بدل کړه او راشه ډوډۍ وخوره

هغه خپل د کوټې څخه ووتل او زه په سل زور او زحمت پاسېدم او هغه کالې چې دومره په شوق مې اخيستې وه خو يو ځل مې لا سم وا نچولې شو، بدل کړو او بيا بيرون لاړم، ټول ناست وه او سبا ناری کاوه زما په لېدو تولو په خوشحالې راڅخه د حال پوښتنه وکړه، او ما په کراره د ټول ځوابونه ورکړل او خپل د مور څنګ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېناستم او هغې هم راته ژر ژر ډوډۍ په خوله راکول ځکه ویل یې دا مریضتیا دی ټول د ډوډۍ نخوړلو له سبب ده، حیران وم یوځل به می مور د خلکو بد نظر ملامت کاوه او خبری کول او بل ځل به یې زما ناروغې په ډوډۍ نخوړلو باندی اچوه! خو بلاخره کله چې سم صحیح ډوډۍ راکړه د تلو اجازه صادره شوه، مور مې ویل یوه بله ورځ هم پاتې کېږو او سبا حرکت کوو او دا یوه اضافه ورځ پاتې کېدل هم زما د ناروغی له برکته وو.

ناوی هم د پلار کور څخه راوړی وه او د عمه د کور په یوه کوټه کی ناسته وه، زه همغه خوا لاړم او د هغې سره مې هم ملاقات وکړو هغه کوټه کې ډیر ښځې وه چې د ناوی سره راغلې وه کله چې د ناوی سره مې ولېدل او  هغې زما د حال پوښتنه وکړه د کوټې څخه د بیرته راوتلو حال کې همغه د پرون غرمې احساس مې وکړو او ځای پر ځای وولېدم....

دا ځل چې مې سترګې خلاصې کړی نو د شفخانې سپین چت سره مخ شوم هېڅ نه پوهیدم چې اخر څه چل دی؟ ډاکټر راغلو زما په لېدو زما نبض یې وکتو او زما د لاس سیروم یې بند کړو او بیرته بیرون ولاړی، د څو دقیقو وروسته مور او پلار مې راغله مور مې په ژړا زه خپل سینه پوری ونیولم خو پلار مې په تروش تندی راکتل او هېڅ یې نه ویل د شفخانې څخه ډاکتر رخصت کړو او ویې ویل چې هېڅ کوم خاص مشکل نلری او یوازی لږ کمزوره یی..
خو پلار مې غوسه وو او ویل یی چې د دی ځای ډاکتران مریضي نشی تشخیص کولې او باید ژر تر ژره بیرته کابل ته لاړشو، ترڅو یو سم ډاکټر ما ووینی..
خو مور می بیا ویل چې دا ټول د نظر کار دی او مورږ باید یو مولوی ته لاړشو..

اخیر مور مې دومره خپل خبره وکړل چې پلار مې مجبور شو د مور خبره ومنې او ما د همغه شفخانې د لاری څخه یو مولوی ته ویسې، زما په لېدو مولوی اول خبره چې وکړل هغه زما د مور خبره وه! هغه وویل نظر شوې یی! بیا یو څه دم او چوف راباندې وکړو او یو تعویذ یی هم راکړو، کله چې بیرت  د د عمه کور ته راغلو نو پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې بغیر لدی چې کینې ټولو ته یې وویل چې خپل سامان شیان ټول کړی چې همدا اوس حرکت کوو کابل خوا ته. هر څومره چې عمه او د عمه خاوند مې وویل یو څو ورځې نور هم صبر وکړې ترڅو هیله لږ ښه شي خو پلار مې خپل خبره نیولی وه اخیر په همغه شپه موږ د کابل خوا ته حرکت وکړو...

په ټوله لار نه یم پوهیدلې، په ګنګس او نیمه بې هوښ او نیمه هوښیاره حالت کې به یوځل به سر مې د مروه په غیږ کې وه، بیا به د مور په غیږ کې خو کله ناکله به پلار هم راغلو او زما به تندې به یې لاس کېخودو چې آیا تبه لرم او کنه؟ کاکاګان او ورونه به مې هم د هر ځل موټر درېدو سره ښکته کېدل او رنګارنګ شیان به یې ماته اخیستل خو ما یو څاځکې اوبه لا ونخښل دوبۍ خوړل خو لرې خبره، کله چې کورته ورسیدو نو یوه کوټه کې ناوی ته تخت واچول شو او په بله کوټه کې و ماته د مریضی بستره، همدا چې کمپل مې پر ځان راکش کړو نور په ځان نه یم پوهیدلې...

– هیلۍ ... لور جانې ... پاڅه ... هیلۍ بچیه...

غږ مې اورېده او پوهېدم چې پلار مې راته ناری وهې خو دومره توان راکې نه وو چې ورته د "ها" ځواب ورکړم حتا خپل سترګې مې لانشو خلاصه وی، داسې احساس مې کاوه چې سترګي مې یو پر بل موښتې او نه خلاصیږی په سل زور او زحمت مې لږ سترګي خلاصې کړی او نظر مې په پلار ولګېدی چې زما څنګ ته ناست وو او په اندیښمن نظر یې راکتل، کله چې زما خلاصې سترګي ولېدی نو یو مصنوعې مسکا یې پر شونډو راوړل او ویې ویل: دومره خوب نازولې!؟

غوښتل مې ورته ځواب ورکړم خو هېڅ مې ونشو ویلې او یوازی ورته ومې کتل، پلار مې زما په ویښتیانو لاس کش کړو او زما له څنګ پاڅېدې، او مور ته یې یوځه وویل چې زه پوهه نشوم خو د هغه د تلو وروسته سمدستې مور مې راغله او زه یې پاڅه ولم او داسې حال کې چې زما ټکری زما په ویښتیانو سم کاوه، زما د حجاب خلاص شوی تېې راوتړل او زه یې د دروازی خوا ته ځان سره روانه کړم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

د ډاکټر یوه سترګه د معایناتو په نتیجې وه او بل سترګه یې و ماته وه، چې پر څوکۍ تقریبا څملیدلې وم د کیناستو لځایه، او هېڅ یې نه ویل یوازی کله ناکله یې خپل سر خوځولو نظر مې د ډاکټر څخه و خپل مور او پلار ته شو چې په ورخطا او اندیښمن انداز یې د ډاکټر و خولې ته دوه سترګي نیولې وه، ډاکټر خپل غاړه تازه کړل او زما و پلار ته یې په کتلو وویل: ولای حاجې صیب په نتایجو کې خو کوم خاص څه زما تر نظر نشو یوازی لږ کم خونه ده او کمزوره، زه به ورته یوڅه دوا ...ولیکم ان شاء الله ښه به شې

پلار مې په اندیښمن لهجه وپوښتل: ډاکتر صیب تاسو ډاډمن یاست چې کوم خاصه مریضې نلری؟ دا دوه ورځې کیږی چې بغیر له کوم دلیل څخه راغورځېږې.
ډاکټر یو ځل بیا ماته وکتل او ویې ویل: ولای حاجی صیب معایناتو کې خو کوم خاص شئ ماته نه ښکاری، زما په نظر خو کمزوری ده زه به ورته یوڅه د طاقت دوا ورکړم او هو خوشحاله یې وساتې او که بیا داسې ناڅاپه راوغورځېدل نو ضرور یئ یو عصبی ډاکټر ته ویسې....

ډاکتر راته یو پلاستیک ډک د طاقت دواګانې راکړل او کور ته یې رخصت کړم، خو زما حالت ورځ تر بلې مخ پر خراب کېدو وو. د یو میاشت په موده کې داسې وزن مې له لاسه ورکړو لکه کوم ناعلاجه مرض چې نېولې یم، پدی یو میاشت کې به په کابل داسې ډاکټر نه ویې پاتې چې زه نه یم ورغلې او ټولو هم یوه خبره کول" کوم خاص مرض نلری او لږ کمزوری ده" او بیا به بوجۍ، بوجۍ د طاقت او ویتامین دواګانې راکول خو هېڅ فایده نکول هېڅ....
تر دې چې کورنۍ مې د کابل د ډاکترانو څخه نامیده شوه نو خبره تر پاکستان ورسیده او زما د روغتیا په امید پلار مې زه ځان سره پاکستان ته ویوړم خو هغوی هم د کابل د ډاکترانو خبره تایید کړل او ویې ویل چې هېڅ کوم خاص ناروغې نلری او کمزوری ده ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ویل چې هېڅ ناروغې نلری، خو زه به ځای ناځای راغورځېدم او په ځان به نه پوهیدم، عمومي ډاکترانو به راته ویل کمخونه او کمزروی یی او عصبې ډاکترانو به راته ویل کوم خاص ستونزه نشته یوازی خوشحاله یې وساتی، کله چې کورنۍ مې د ډاکترانو لخوا نامیده شوه نو د مور په زیات غوښتنه دا ځل مو مخ و مولیانو خوا ته کړو چې شاید په دم او دعا مې حالت ښه شې، مولیانو ته چې تګ مې پیل کړو نو د هر مولې خبره د بل سره متفاوته وه یوه مولې به راته ویلې چې دربانديې تور جادو شوې! بل به ویل چې نظر شوی یی، خو بل به بیا ویل چې ستاسو په خپلوانو کې یو چا پر تا باندې جادو کړې خو عام تور جادو نه بلکې په یو هندو پنډېټ باندې دا جادو دربانديې شوی او زر نور خبری مولایانو تګ د خیر لځایه شر زیات کړو!

داسې چې د هغه ناروغې سر بېره د پېریانو لاره یې هم زما ژوند ته خلاصه کړه او ځاې ناځای به یې وېره ولم، خوب ته به یې نه پریخودلم، او هر ځای به مې داسې احساس کاوه چې یو نفر راته ناری وهې، حالت مې دومره بتر شو چې پلار مې دا خبره خپل د ځېنو ملګرو سره شریکه کړه او د خلکو مشوری پیل شوی یو به ویل چې د غزني زیارتونو ته یې ویسې ښه کېږې، بل به ویل د پکتیا ملنګانو ته یې ویسې ښه کیږې، بل به ویل د لوګر جلال آباد آغاګانو ته یې ویسې ښه کېږې خو ځېنو به بیا ویل د کابل پېرخانو ته یې ویسې. خو خلاصه زما ژوند د ټولو د مشوری محور وګرځېده په همدی تګ راتګ کې نه پوهیږم چې د کوم مولاصیب، پیرصیب، آغاصیب، دم او چوف راباندی ولګېده او لږ لږ مې حالت ښه شو.، پېریان راڅخه ولاړل او هغه ځای ناځای غورځېدلم هم څه ناڅه کم شول او زه د څلور میاشتو دربدری او خواری وروسته کرار کرار خپل عادی ژوند ته راوګرځېدم..

***

د ښونځې څخه تازه کور ته راورسېدلم لاس کې مې د روخشانې د خاطراتو کتابچه وه، چې راکړې وه ترڅو ورته یو څو کرښې اشعار او خبری خپل لخوا د هغې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطراتو کتابچه کې ولیکم، په خوشحالۍ باندې مې کتابچه پورته ښکته کول که څه هم هغې راته سل قران او قسم راکړې وه چې د نورو ملګرو خاطرات به نه وایم خو ما ځان سره ویل چې ورسیدم اول د هغه نورو خاطرات وایم بیا پکی یو دوه خط خپل لخوا لیکم په همدی شیطانی فکرونو خندا پر خوله کور ته ننوتلم مور ته مې سلام واچو او خپل کوټې ته لاړم تازه مې خپل کالې بدل کړې وه او غوښتل مې د بوډۍ خوړلو مخکې د خاطراتو د کتابچې څخه یو څو پاڼې ووایم چې مور مې راغږ کړل.

مور- هیلۍ .... لور جانې راشه یو پیاله چای خپل خاله ته راوړه..

خاله؟ ځان سره مې وویل دا مروه چېرته وه چې ما ونه لیدل؟ په ګنګس انداز کتابچه مې د بالښت په سر کیخودل او د باندی ووتم، چې د هلېز کې مې د آمنې په مور شریفۍ خاله سترګې ولګېدی، نه پوهیږم ولې مې د دی ښځې سره جوړه نده؟ اخیر ولې؟ د مور د سترګو په اشاره د زړه په زور مې ورته سلام واچو او سترې مشې مې وکړل، زما په لیدو هغه راپاڅېدل او زما مخ یې ښکل کړو او ویې ویل: وا دا ته ولې دومره ډنګره شوې یې لور جانې؟

بغیر لدې چې ورته خواب ورکړم د مور خوا ته مې په یو خوار نظر وکتل چې مور مې ژر وویل: حمیده جانی ته خو د اوس وخت انجونۍ پیژنې کله د دومره لری سفرونو او مسافرتونو دی؟ د پکتیا هوا ورباندې ښه ونه لګېده کله چې راغله لږه مریضه شوه..

زما د مور په خبره د همسایه ښځې بیا ما ته په ځېر، ځېر راوکتل او غوښتل یې چې یو څه ووایې خو مور مې تلوار وکړو او ماته یې وویل: څه ته ولاړه یې لوری؟ شابه لاړه شه خاله ته دې یوه پیاله چای راوړه..
په تلوار د هغوې د خنګ څخه مې خان پخلنځې ته ورسه وو، اه خدایه دا مصیبت نو ولې همدا اوس نازل شو؟ خو یوی خبری ته حیرانه وم! هغه دا چې مور مې ولې رښتیا ونه ویل؟ او زما د ناروغی خبره یې پټه کړل؟ هر څومره فکر مې چې وکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم خاص دلیل مې پیدا نکړو، په ګاز مې چای باندې کړل او یو پتنوس کې مې دوه پیالۍ او د خوړې قاب کیخودو همدلته پخلنځي کې ګرځیدم راګرځیدم ترڅو چای دم شي چې ناڅاپه مې توجه د مور او د حمیدی خاله خبرو ته شو!

مور مې په تروش تندي هغې ته کتل او هغه په داسې حال کې چې زما د مور لاس یې خپل لاس کې نیولي وو مسکا پر شونډو یوه خبره زما مور ته کول! لږ مې ځان د دروازی خواته کش کړو ترڅو د هغوی خبری وآورم.

حمیده خاله- خوری ستا لور زما د لور پشان ده راته، خپل د دوه سترګو پشان به یې وساتم کورنه مو یو بل ته نږدې دی، خپله دی هم دا اوس وویل چې د لری سفر او مساپرې نده نو مه خپل د لور په حق کې زیاتې کوه او مه ما نامیده استوه.

په بېحد حیرانې مې د هغې خبرو ته غوږ نېولې وو، دا اوس د څه په اړه خبری کوی؟ مور مې پداسې حال کې چې پریشانه ښکاریده په نا ارامه لهجه یې وویل: خوری دا خو لږ خبره نده، د یو ژوند موضوع ده او زه خو یوازی ځان پریکړه نشم کولې زه به دا خبره د کور مشرانو ته ووایم او بیا به تاسو احوال درکړم.
حمیده خاله- هو بی له شک خوری دا خو وړوکې خبره نده، بی له شک د حاجی صیب سره، ترونه او ورونو سره یې خبری وکړه سلا مشوره وکړې، موږ به ستاسو د"هو" د ځوا....

نور خبری مې ورڅخه وا نه وریدل ځکه د چای د ایشیدو غږ پورته شو! داسې حال کې چې ټول فکر مې د مور او د حمیدی خاله خبرو کې وو چای مې دم کړو پتنوس او ترموز مې راواخیست او دهلیز خوا ته ولاړم زما په لیدو شریفۍ خاله خپل خبری بندی کړل او په بېحد خوښۍ او ورین تندی ما ته راوکتل، ما هم په زړ فکرونو او اندیښنو ورته پیاله چای ډک کړل او ژر بیرته پخلنځي ته ولاړم او غوږ مې کېخود چې شاید د هغوې د خبرو څخه په یو څه مې سر خلاص شي خو هغوی نور د هغه موضوع په اړه خبری ونکړل، او د نیم ساعت وروسته حمیده خاله لاړه، خو زما فکر یې همغسې ګډوډ پریخود...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هلېز ته ولاړم مور مې لګيا وه پيالې پتنوس کې کېخودل، په زړه نا زړه لهجه مې وويل: موری حميده خاله د څه لپاره راغلې وه؟
زما په غږ مور مې مخ راوګرځه وو او په کراره يې وويل: مورې چې ناوی راوړه دا نه وه تللې وه خپل د ورونو کور ته اوس راغلې وه نو مبارکې د واده راکړل، او غوښتل يې ستا د کاکا ناوی وګوری خو ما ورته وويل چې هغه خپل د ورور کور ته تللې په ميلمستيا او کور کې نشته.

زړه مې ويل مور مې راځخه يوه خبره پټه وی! غوښتل مې ورته ووايم چې د هغوی خبری مې اورېدلې خو بيا مې ځان سره وويل چې پرېږده هر خبره وی اخير هم معلوم کېږې، په همدی فکرونو تر ماښام مې ځان ارام کړو، ماښام د ډوډۍ خوړلو وروسته د معمول پر خلاف مور او پلار مې ژر خپل کوټې ته ولاړل او ورونه مې هم د تل پشان د مور او پلار د تلو وروسته خپل کوټې ته روان شول ترڅو خپل ګيم وکړی! يو خو دا پاپجی ګيم دا څو وختو کی ټول ځوانان او هلکان د کار او ژوند څخه اچولی وه، لوښې او سرخان مې ټول کړل او يو ترموز چای مې هم دم کړو ځکه د پلار مې عادت وو د ماښام د ډوډۍ وروسته چای وڅښې، خو هر سومره چې په تمه شوم نه مور راغله او نه هم پلار! اخير مجبور شوم چای ورپسی د هغوی کوټې ته ويسم.

کوټې ته چې نږدی شوم نو د پلار قهرجن غږ مې واوريده چې ويل يې: ښځې ته په خبره پوهيږې او کنه؟ زه درته وايم دا ماشومه تازه لږه ښه شوې سترګې خلاصې کړې، او بل دا چی ستا په نظر دا د خاوند ده؟ دا تر اوسه خپل ماشوم ده تازه د 14 کالو ده تر اوسه خپل په ښه او بد نه پوهيږی تر اوسه د يو چاکليټ په سر ژاړی او هغه وخت ته غواړې دا ورکړی خاوند ته؟ هغه هم داسی کور ته چې نه مشر معلوم دی او نه هم کشر؟
د مور ورخطا غږ مې واوريده چې ويې ويل: ما هم همدغه ستا خبری ورته وکړل ورته ومې ويل چې زما لور ماشومه ده، او مورې نغواړو اوس يې واده کړو خو هغه بيحد شله وه ويل ته يوځل د حاجی صيب سره خبری وکړه شايـ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار مې د مور خبره پرې کړل او په همغه قهرجن لهجه یې وویل: دا ځل چې راغله په کلک لهجه ورته ووایه زموږ ځواب نه دی نه ... سم یې غوږونه ورته خلاص کړه زه بیګانه خلکو ته لور نه ورکوم او هغه هم داسی کورنۍ ته چې مشر یې معلوم نه وی بیخې نه ورکوم خبره خلاصه..

بې روح جسد پشان پتنوس په لاس د پلار د کوټې مخکې ولاړه وم او نه پوهېدم چې څه وکړم؟ اوس مې تازه د مور او د خاله شریفې په خبرو سر خلاص شو، یعنې هغه راغلې وه ترځو ما خپل زوی ته وغواړی؟ هغه زما مرکې ته راغلې وه؟ نه پوهېدم ولې خو ناڅاپه مې بېحد د غوسې او کرکې احساس د هغې لپاره په زړه کې راوګرځېد، یعنې دا ټول مهربانۍ او خوش اخلاقی د دی لپاره وه ترځو ما خپل زوی ته وغواړی؟ په همدی فکرونو کې غرقه وم چې ناڅاپه د کوټې دروازه خلاصه شوه او پلار مې راووت خو زما په لېدو چې د دوې د کوټې مخکې ولاړه وم تندی تروش شو...

خو هېڅ یې ونه ویل او د هلېز خوا ته روان شو زه هم د څو دقو وروسته لږ پر خود شوم او د دهلېز خوا ته ولاړم، نه پوهېږم په څه رقم مې چاې او پتنوس د پلار مخ ته کیخودو او په تلوار خپل د کوټې خوا ته روانه شوم، د کوټې دروازه مې وتړل او په ګنګس انداز مې ځان تر نالې ورسه وو او کښېناستم، یو ناشنا غوندې وېره او احساس مې زړه کې راغلې وو او هر دقه په تمه وم چې یو کار وشې، دومره مې فکر خراب وو چې بیا همغه حالت لږ لږ راباندې څرګند شو او په نالې را وغورځېدم احساس مې کاوه چې د بدن څخه مې روح وځي، تقریبا نیم ساعت همغسې بې حرکت په نالې پرته وم او هېڅ غږ مې نشو اوریدلې په غوږونو کې مې یوازې د بنګهارې آوازونه وه ....

د نیم ساعت وروسته کله چې لږ لږ مې حالت ښه شو لځایه پاڅېدم، او د دې فکر پر کولو چې پلار مې انکار وکړو او د "نه" ځواب یې ورکړو لږ مې ځانته تسلې ورکړه، او خپل د فکر د بدله ولو په خاطر د روخشانې د خاطراتو کتابچه مې راوخیسته او پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېلو مې پیل وکړو خو ټول فکر مې تر اوسه د مور، پلار او د شریفې خاله په خبرو کې تاو را تاو کېده نو ځکه بیخي پوهه نشوم چې څه مې وویل؟ نه پوهېږم سومره وخت به مې خپل فکر د خاطراتو پر وېلو باندې مشغول کړې وو چې بلاخره د خوب نړۍ ته تللې وم، سهار په پرېدلي رنګ او سر درد باندې راویښه شوم

د صبا ناري په سر زما د حالت په لېدو د مور چیغه پورته شوه " چې څه درباندې شوی" خو پلار مې یوازی په تروش تندې او اندیښمن نظر راوکتل او هېڅ یې ونه ویل، زما د بد حال په لېدو مور راته د ښونځي تلو اجازه رانکړل، خو ما غوښتل د کور څخه یو څه لرې شم ترڅو دا فکرونه د ذهن څخه وباسم نو ځکه بغیر لدی چې دمور خبرو ته کومه خاص توجه وکړم ښونځي ته لاړم.هلته ښه وو د سپوږمۍ او روخشانې په لېدو مې دا د مرکې خبري بلکل لیاده ووتل..

روخشانه- ما دا کتابچه د څه لپاره تاته درکړې وه؟
– د دې لپاره چې درته یو څو کرښې اشعار او خاطرات ولیکم.
روخشانه- ښه نو کومه دی هغه اشعار او خاطرات! زه یې ولې نه وینم؟
د دې څخه مخکې چې زه کومه خبره وکړم سپوږمۍ په خندا وویل: هغه یې دلېمو په اوبو لیکلې(د لیمو په اوبو د خط لیکل په پخوا زمانه کې د جاسوسي یو خاص هنر وو،کله چې د لیمو په اوبو کوم خط ولیکل شې نو په ظاهره هېڅ نه ښکاری خو کله چې خط اور ته نږدې ونېول شې بیا ټول الفاظ واضحه ښکارې.)او یوازی هغه وخت یې لېدلې او ویلې شې چې د اور مخکې ونیسې ...

د سپوږمۍ په خبره زما پر شونډو نرې مسکا راغله چې روخشانې په حیرت وویل: هیلۍ! سپوږمۍ رښتیا وایې؟ آیا تا د لیمو پر اوبو خط لیکی؟ په کومه صفحه دې لیکلی؟

روخشانې دا خبره وکړلو او په کتابچه کې لګیا شوه ترڅو کوم نښانه د مخفې خط پیدا کړې، چې ما په خندا د روخشانې د لاس څخه کتابچه واخیسته او ومې ویل: نه لېونۍ هغه درسره ټوکي کوي ما کوم مخفې خط مط ندې لېکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبری د روخشانې تندې تروش شو او ویې ویل: نو ولې دې ندې لیکلې؟ ما درته کتابچه درکړل ترڅو یو دوه خط خاطرات ولیکې، یعنې زموږ دوستې او ملکرتیا په دوه خط لیکنې لا نه ارزی؟
په غوسه مې ورته وکتل او ومې ویل: ډېره بیعقله یې که داسې فکر کوی..
روخشانه- نو که داسې خبره نده نو بیا ولې دی هېڅ ندی لیکلې؟
نه مې غوښتل اصل رښتیا خبره روخشانې یا هم سپوږمۍ ته وکړم! ځکه دوی بېحد شوخې وه او پوهیدم که پدی خبره د مرکې خبر شې ولاکه مې د عمر تر اخیره راحت پرېږدې نو ځکه مې په دروغو وویل: یو خو بېحد کار مو کور کې درلود او له بلخوا لږ زما سر هم درد کاوه نو ځکه وخت ونشو چې څه ولیکم، خو وعده ده سبا درته ضرور لیکم...

ښونځې رخصت شو او زه د سپوږمۍ او روخشانې سره یوځاې د کور پخوا روانه شوم، خپل د کور کوڅې ته پر رسېدلو د روخشانې او سپوږمۍ سره مې خداې پامانې وکړو او کور ته ننوتلم، زما د ننوتللو سره سم مور او حمیده خاله د دهلېز څخه انګړ ته راووتل! د هغې په لېدو مې فکر وکړو چې یو چا زما زړه په لاس کې ونېوه او د سینې څخه یې راوویست، دومره ناڅاپه مې ورڅخه وحشت وکړو، هغې راسره د تل پشان په همغه ورین تندې سترمشې وکړه خو ما په تلوار ورته یو سلام واچوه او کور ته ننوتلم او مخامخ خپلې کوټې ته ولاړم، تر اوسه مې زړه ناکراره درزېده لاس مې خپل په زړه کېښود او یو څو ژوري ساه ګانې مې واخیستې ترڅو لږ ښه شوم، چې همدی وخت کې مور مې په قهرجن څهره کوټې ته راننوتل او ویې ویل:

مور- دا نو څنګه کار وو چې تا وکړو؟ خاله دې درته سلام واچو او تا ورته یو علیک لا ونه ویل! او په منډه ورڅخه وتښتېدلې.
– سترې وم موری حوصله مې نه درلود..
مور مې غوښتل بیا کوم څه وواېې خو زما د حال په لېدو چې بیا مې رنګ پرېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، نور یې خبرې کش نکړل او د کوټې څخه ووتل، خو د وتلو مخکې وویل: راشه
بوډۍ دی وخوره ...

غوښتل مې د بوډۍ خوړلو لپاره پخلنځي ته لاړه شم چې د کلا دروازه وټکېدل!
مور- هیلۍ دروازه خلاص کړه ورور به دی وی د ښونځي څخه راغلې.
– سمده مور ...
د دروازې خوا ته روانه شوم او خلاصه مې کړه چې د دروازې خلاصه ولو سره سم د
مروه چیغه پورته شوه، او په همغه چیغو پوغ کور ته راننوتل..
مروه- ته اوس ماته خپل د راغلو مرکو په اړه خبر نه راکوی! ته اوس زما څخه خبري
پټه وي ها؟؟

په حیرت مې ورته کتل، دا نو له کوم خبره شوه؟ زما د حیران نظر په لېدو مروه یو
دوه ټکه زما پر اوږو راکړل او ویې ویل: اوس وخت هېڅ خبره پټه نه پاتې کېږي،
دیوال لا غوږونه لري...
دروازه مې بنده کړل او کور ته تلو حال کې مې وویل: هو ولاړ معلومېږی خو
همداسې...
مروه زما پسې راغله او موښتې وه ترڅو زه ورته خپل د راغلې خواستګارانو په اړه
معلومات ورکړم خو ما ورته په تنده لهجه وویل: بس کړه مروه حوصله نلرم.

زما په کلکه لهجه مروه هم خاموشه شول او نور څه یې ونه ویل، او زما پسې
راروانه شوه کور ته په ننوتلو د مور غږ مې پورته شو.
مور- څوک وو هیلۍ؟
مروه په شیطنت وویل: اینجانب ملکه انګلستان وه خورې.
مور- وا مروه ته یې؟څنګه یې؟ څنګه ناڅاپه دیخوا راغلې؟
مروه او مور لګیا شوه په خبرو او زه هم کښېناستم ترڅو بوډۍ و خورم، خو دومره
مې فکر خراب وو چې ګوله بوډۍ مې لا زړه نه غوښتل، د دوه ګوله بوډۍ خوړلو
وروسته پاڅېدم ترڅو په اودس او مونځ خپل فکر د دې خبرو څخه واړه وم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لمانځه سلام مې وګرځاوه چې مروه ته مې پام شو چې په تروش تندی پر نالې ناسته وه او دوه سترګي ماته نېولې وه، بغير لدې چې ورته توجه وکړم چپ خوا مې هم سلام وګرځاوه او لاسونه مې دعا ته پورته کړل، او د تل پشان مې دعا کول پيل کړل.

— خدايه ما وبخښه،زما مور و پلار وبخښه، زما نيکه او انا وبخښه،هر څومره ګناهونه مې چې کړې هغه را وبخښه، خدايه ته ....

لا مې دعا کامل کړې نه وه چې د مروه غږ پورته شو.

مروه- خدايه ته زما خورزی ته يو ښه،ښايسته، باسواده، با شخصيته، ډاکټر.... او د پاک زړه خاوند په نصيب کړې آمين ثم آمين...

په چوپه خوله مې مروه ته وکتل چې هغې وويل: وا آمين ووايه چې نصيب دی شی کنه!

د جای نماز قات کولو حال کې مې وويل: هغه دعا ځانته وکړه نه ماته.

مروه په خندا وويل: اول ځان پسي جهان؛ځانته خو يې اول کوم بيا يې تاته کوم.

— نو خدای دی ستا په حق کې قبول کړې.

مروه- يعنې ستا حق کې قبول نکړې؟

هېڅ مې ونه ويل چې مروه رانږدی شوه او زه يې د اوږی څخه ونېولم او په کراره لهجه يې وويل: څه شوی هيلۍ ته ولې دومره خفه يې؟

د هغې په کراره لهجه نه پوهېږم ولې خو زړه مې ناڅاپه را ډک شو او د سترګي څخه مې اوښکي را وبهېدلي چې مروه په غېږه کې ونېولم او په خندا يې وويل:

مروه- وا ته ولې ژاړي لېونۍ؟ دا خو د ژړا خبره نه ده يوه جنۍ چې پيغله شې نو د مرکو په راتلو بايد خوشحاله شې نه خفه!

په همغه نيولې غږ د ژړا څخه مې وويل: خو زه يې نغوارم..

مروه په خندا زه د لاس څخه ونېولم او دواړه په نالې کښېناستو، او هغې نصيحت کولو ته پېل ورکړو....

هغه شپه مروه زموږ کور کې پاتې شوه او تر نيمه شپو يې ماته نصيحتونه کول ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

په همدی خبرو او تلو راتلو کې یوه میاشت تېره شوه، داسې یوه میاشت چې یوه ورځ یې لا ما پکې د حمیدی خاله د مخ لېدل قضا نکړل! بېحد شله ښځه وه یعنې دا یو میاشت کې هره ورځ او هره ورځ زموږ کور ته راتلل ترڅو زما پلار رضا کړې او ما خپل زوی ته وغواړي خو زما پلار هم یوه خبره نېولې وه "نه" او تمام خو کله چې شریفه خاله زیات راغلل او ولاړل او دلیل پوښتنه یې کول چې ولې نه راکوی؟ لور دی؟او په څه دلېل؟ نو پلار مې ورته بهانی راوړل شروع کړل، یوه ورځ به یې ورته ویل چې زما لور ماشومه ده، بله ورځ به یې ورته ویل زه غواړم پر هغې درس ووایم، او حتا کله ناکله یې داسې د نه منلو بهانې راوړل چې هر عقلمند سړی پری پوهېده چې دا هسې بهانه ده...

خو دا ښځه هېڅ نه منع کېدل او دومره شله وه چې باید د ګینس په کتاب کې د دې نوم د شله ترین انسان په نوم ثبت شې! یعنی زما د پلار هر بهانې ته دی هو ویل! پلار به مې ویل لور مې ماشومه ده نه یې ورکوم، نو دی به ویل چې اوس یوازی دسمال راکړه موږ یې هم ژر نه واده کوو! پلار به مې ویل زه غواړم ورباندی درس ووایم! نو دی به هم ویل درس ویل ښه دی او زما زوی هم باسواده ښځه غواړي، نو سومره چې مو زه غواړې نو ورباندی درس ویلې شې، یعنې په یو کلام کی باید دا ووایم چې زموږ هر بهانه د دی مخکې ناکامه کېدل تر دی چې پلار مې ورته پرون مخامخ وویل چې زما زړه نه غواړی درکړم او نور هره ورځ زما کور ته مه راځه ..

او په بېحد تعجب کې نن نده راغلې! یعنې د سهار څخه تر همدا اوس زما یوه سترګه پر دروازه وه او بله د کور په کارونو وه خو رانغله، لدی چې زما د پلار اخری خبری ورباندی تاثیر وکړی او رانغله بېحد خوشحاله شوم دا یو میاشت ددی له لاسه هوسا ساه مي لا نشو اخیستې هر چیرته تللې وایې ټولو ویل څنګه شوه مرکه دی؟ خو ان شاءالله لکه چې ورڅخه بیغمه شوم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور په غږ چې د کاکا د ښځې سره يې د ماښام د ډوډۍ په پخه ولو يې مشوره کول زه هم له کوټې ووتم او د دوی په بحث کې مې ځان داخل کړو.

— امممم زما منې نن ماښام وريژې پخي کړی!؟

مور- ډوډۍ زياته ده بايد ترکاری پاخه کړو کنه ډوډۍ پاتې کېږې او بيا سبا مجبور لری ختا کړو ځکه تاسو بيا يخ ډوډۍ نخوری.

— خير دی مور نن زما وريژو ته بېحد زړه شوی...

د دې څخه مخکې چې مور مې کوم ځواب راکړې د کور دروازه وټکېدل، د دروازی د ټک، ټک سره ناڅاپه مې د زړه درزا پورته شوه او يو ناشنا غوندې وېره مې پر بدن خپره شوه!

کوچنې ورور مې د دروازی خوا ته منډه کړل او يوه دقه لا نه وه تېره شوه چې بېرته په همغه منډه او نېولې ساه دهلېز خوا ته راغې..

مور- ولې داسې منډی وهې خو په کراره راځه، چا دروازه ټکه ول؟

کوچنې ورور مې بغېر لدې چې زما د مور پوښتنې ته ځواب ورکړې د ميلمنو د کوټې په خوا کوم ځای کې چې پلار، ورورنه او ترونه مې ناست وه ولاړ او تقريبا په چيغه يې وويل: پلاره هغه ښځه قران په لاس زموږ د کور مخکې ولاړه ده ...

د ورور دا خبره مې نشوه سم د اسرافيل "ع" شيپلې شوه چې ټول يې د انګړ خوا ته په منډه کړل، پلار، ورونه او ترونه مې په ورختای د کوټې څخه ووتل او ځانونه يې د حويلې دروازی ته ورسه ول، زه هم د دوی پسې د کور څخه ووتلم او د دهلېز و کونج کې و درېدلم چې نظر مې په حميدی خاله ولګېده چې زموږ د حويلې د دروازی ومخ ته قران په لاس ولاړه وه!

د حويلې د دروازی څخه تر دهلېز ډېره لاره وه او ما نه اوريدل چې هغوې څه وايې؟

خو د پلار د غوسه ناک انداز او قدم وهلو څخه معلوم وه چې ناراضه دی، څو ځله مې پلار د شريفې خاله په لاس قران ته لاس ويوړو ترڅو ورڅخه يې واخلې خو هغې نه ورکو او يو څه يې ويل ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې هم د هغوي په بحث کې شامل شوه او يوازېنۍ کس چې د هغوي د بحث څخه لرى او بې پروا پاتې وه هغه زه وم! نه پوهيږم څومره وخت به دوى د دروازې مخکې ولاړ وه او خبرى کول چې بلاخره د حميده خاله د خوشحالى غږ پورته شو چې زما پلار ته يې دعاګانې کول..
حميده خاله- حاجى صيب دنيا او اخرت دى ښه شه، خداى دى د اولادونو نيکمرغې درباندې ووينى چې د يو کونډې زړه دى خوشحاله کړو، خداى دى...

هغه لا لګيا وه زما پلار ته يې دعاګانې کول خو زما پلار په تروش تندى د کور څخه ووت مور مې هم حميده خاله د لاس څخه ونېول او د کور خوا ته راروانه شوه کله چې ما ته راورسيده حميده خاله په خوشحالۍ زما مخ ښکل کړو او ويې ويل: اخيره هم زما د زوى ناوى شوى، اخيره هم زما د کور رڼا شوى ...
هغه همداسې لګيا وه خبرى کول خو زه لکه بت پشان ورته ولاړه وم چې د کاکا ښځۍ د لاس څخه کش کړم او خپلې کوټې ته يې ويسم! نه پوهېدم چې څه شوى؟ او څه خبره ده؟ ولې مې پلار په ناراضه توګه د کور څخه ووت؟ ولى حميده خاله ورته دعاګانې کول؟ ولى هغې ماته وويل" زما د زوى ناوى" يعنې پلار مې ومنله؟ يعنې زه يې ورکړم د شريفې خاله زوى ته؟

نه پوهېدم چې څه وشو خو کرار کرار مې احساس کاوه چې لاس او پښې بې حسه کېږې او نور توان نلرم چې ځان ته حرکت ورکړم او پر نالې پريوتم او د تل پشان همغه لعنتې غږ مې پر غوږونو انګازه کول بنګ ...... بنګ ..... بنګ

کله چې مې سترګې خلاصې کړې د کاکا د ښځۍ کوټه کې وم، او سبروم مې په لاس کې وو، مور مې څنګ ته ناسته وه او ژړل يې پلار مې هم د کوټې په بل سر کې د ترونو سره ناست وو ټولو خبرى کول هر چا يوڅه ويل هيڅا و دى ته فکر نه وو چې زه په هوښ راغلې يم!
مور مې په ژړا وويل: دا د يوه خبرى د اورېدلو توان نلرى او راغورځېږې دا به څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کور کې ژوند وکړې؟؟
او ژړا نور د خبرو وار ورنکړو چې دا ځل د پلار قهرجن غږ پورته شو.

پلار- ما ورته ورکړه؟ ستا په نظر زه پدی مرکی خوشحاله وم؟ د اول څخه مې درته وويل چې ښځې د قران روی ته وګوره او دا ښځه خپل د کور څخه منع کړه، او دومره تګ راتګ مه کوه ورسره خو تا ويل چې نه ښه ښځه ده، قوم دار او کورنۍ داره ښځه ده، خير که کونډه ده خو خپل اولادونو ته پلار و مور ده! و دی ليده نن يې په کوم بې شرمې زموږ څخه "هو" واخيسته! يو اصل ښځه داسې نيمه شپه قران په لاس د خلکو د کور دروازه نيسې؟ ها؟؟

پلار مې په غوسه باندې و مور ته خبری کول او هغې يوازی ژړل چې مشر کاکا مې وويل: هر کار چې وو اوس خو وشو تاسو "هو" وويل څه په رضا څه نارضا خو هو مو کړل هغې هم ټول کلې خبر کړو چې د حاجې محمود خان لور مې خپل زوی ته وکړل اوس خو د خبری څخه بېرته تګ نشې کېدی نو بهتره به دا وی چې سر له سبا لاړشو وګور هلک څه کاره دی؟ څه کوی؟ څه نکوی؟ اوس د هيلۍ د ژوند مثله ده( بيا لږ خاموش شو خو د څو ثانېو وروسته يې وويل: تاسو هلکانو کې څوک دا هلک پېژنې؟ لېدلې مو دی څه کار کوې؟

مشر ورور مې وويل: ما يو ځل لېدلې! البته څه خاص خو يې نه پېژنم خو دومره پوهېږم چې کابل پوهنتون کې د طب محصل دې. او د کور مشر زوی هم همدی دی د درس څنګ کې زما په خيال کار هم کوی زحمت کش هلک دی نه د چا سره جنګ لری او نه هم کوم کار، خپل د کار سره يې کار دی.

مشر کاکا- امممم معلوميږی خو ښه هلک(دا ځل مشر کاکا مې پلار مخاطب کړو او ويې ويل: ورور تا ندې لېدلې دا هلک؟
پلار مې د څو شيبو چوپتيا وروسته وويل: ما يوځل د جمعې لمانځه کې ولېده ځوانې کې خو ښايسته ځوان راته معلوم شو، خو په يو سلام باندی د سړی اخلاق چاته نه معلوميږی، خو په هر حال زه د هلک لخوا نه يم ورختا هلک به خدای ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرې خو ...

مشر کاکا- خو څه ورور؟ تاسو کوم خبرې ته ورختا یاست؟

د دې څخه مخکې چې پلار مې کوم ځواب ورکړې کوچنی ورور مې وویل: هیله په هوښ راغله ...

د هغه په غږ ټولو ما ته فکر شو او پلار او ترونه مې هم زما د حال د لېدو وروسته د کوټې څخه ووتل، خو زما زړه کې داسې وو لکه اور چې بل وي دومره مې بد احساس درلود چې بی اختیاره مې ژړل هرسومره چې مور او د کاکا ښځې راته دلداری راکول خو زما زړه کې همغسې ناشنا وېره او وحشت وه، ټولو د ماښام ډوډۍ وخوړل مور مې زما لپاره وریژی پخې کړې وه خو ما ګوله ډوډۍ لا ونخوړل او لکه بې ساه جسد پشان ناسته وم کله چې سرېان د ماسخوتن لمانځه ته لاړل زه هم خپلې کوټې ته ولاړم او پر نالې پریوتم..

سر مې د زرګونو فکرونو څخه ډک وو او د ټولو فکرونو څخه یو فکر بېحد زیات زما ذهن مشغول کړې وو او هغه دا چې پلار مې په کوم دلیل د دې مرکې څخه انکار کوو؟ په څه دلیل؟ خو بیا مې ځان سره ویل څه فاید د دلیل په پوهېدو؟ کله چې د کاکا خبره کار تر کار تېر دی او پلار مې"هو" ویلې بیا پر دی فکر چې پلار مې هغوي ته "هو" ویلې ژړا مې زیاته شوه او خپل بالښت مې خپل په غېږه کې کلک ونیو..

یوه هفته په دې موده کې تېره شوه داسې یوه هفته چې ما هره ورځ او هره ورځ پلار او مور ته ویل چې زه نغوارم واده وکړم او ما د هغوی کور نه خوښېږي خو ټولو یو ځواب راکوو "اوس کار تر کار تېر شوی مور څه نشو کولې" دا یوه هفته کې نه ښونځي ته ولاړم او نه حتا د کور څخه ووتلم زما یوازینې د زړه هم رازه او ملګري مروه دوی هم لاړل پاکستان ته او زه ببخې یوازی پاتې شوم، ما خپل ټول امیدونه هیلې دې مرکې ته په "هو" ویلو باندی د خاور سره خاوری لېدل که څه هم حمیده خاله ویلې وه چې درس ویلې شې او مثال د خبرې کامل اجازه یې راکړی وه خو بیا هم ما فکر کاوه چې راتلونکې مې تباه شوی او درس ویلو ته مې زړه نه کېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوټه کې ناسته وم او خپل د لاس ګوتې ته مې کتل د طلاو نرۍ حلقه وه چې شریفې خاله د هغه ورځ په سبا زما پر ګوته کړې وه، او دا مثلا زما د نامزدۍ چله وه! یوه هفته تېره شوې وه او پدې مډرن زمانې کې ما تر اوسه د هلک عکس لانه وو لېدلې! عکس خو لرې زه تازه پرون خبره شوم چې د هغه نوم عابد دی "عابد محمدی" دومره په فکرونو کې غرقه وم چې د دروازې د خلاصیدو غږ مې وا نه وریدو د مور په غږ پر خود شوم..

مور- هیلۍ دوه دانې انجونۍ راغلې وایې ستا د ښونځې ملګرې دی دهلېز کې ناستې دی..

د مور په خبره په حیرت لځایه پاسیدم زما دوه د ښونځي ملګرې؟ ذهن کې مې یوازې د دوه کسانو نومونه ګرځېدل سپوږمۍ او روخشانه! کله چې د هلیز ته ولاړم نو دا شک مې په رښتیا بدل شو دواړه مې په غېږ کې ونېول بېحد مې ورپسې زړه تنګ شوی وو..

سپوږمۍ- ولې دا یوه هفته ښونځي ته رانغلې؟ سالانه امتحانو ته یوازې څو ورځې پاتې ښونکې مهال ویش د امتحاناتو وویشو...

روخشانه- سپوږمۍ رښتیا وایې د شنبې په ورځ لومړی امتحان مو دی د تاریخ..

هغوی خبرې کول خو زما سترګې د اوښکو ډکېدل اخیر طاقت مې ونشو او د دې لپاره چې خپل اوښکې د هغوې څخه پټې کړم و مې ویل: تاسو زما کوټې ته لاړې شې زه چای راوړم..

هغوی د دهلیز څخه زما د مور او د کاکا د ښځې سره زما کوټې ته ولاړه او زه د پخلنځي په خوا راوانه شوم، هلته په رسیدو مې اوښکې له سترګو پر بهیدو شول او د پخلنځي کونج کې کښیناستم په ژړا چې مور مې راغله او زما په لېدو یې په تروش تندې وویل:

مور- تا ولې داسې قیامت پر ځان جوړ کړی؟ دا یوه هفته کېږې کار دی ژړا ده، ته فکر کوې ستا پر ژړا به کوم څه بدل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دی خبری سره سم د مور اوښکي هم پر بهېدو شول او ويې ويل: همدا به قسمت وو زموږ د لاسه څه نکېدل، اوس هم دومره خراب کور ندی هلک ډاکتر دی کور وضع يې هم ښه ده په هېڅ شي کې تر چا کم ندې نو دا ليونتوب دې پرېږده او خپل ځان و خدايه ته وسپاره، او نه نور مور خفه کوه او مه هم ځان ...

مور مې دا خبری وکړل او د پخلنځي څخه ووتل ما هم په زوره ځان لږ راسنبال کړو چای مې دم کړو او د کوټې خوا ته روانه شوم، زما پر راتلو د کاکا ښځه هم پاڅېدل او ويې ويل: تاسو انجونۍ به يوازی پرېږدم ترڅو خپل د ملګری سره مجلس وکړې.
د هغې د تلو وروسته سپوږمۍ زما خوا ته راوکتل او ويې ويل: وه جنۍ ولې دا يوه هفته رانغلې ښونځي ته؟ خير خو وو؟
د دی څخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم روخشانې زما لاس چې ترموز مې ورباندې نېولې وو او غوښتل مې دوی ته چای واچوم کش کړو او په حيرت يې وويل: دا چله ده؟ د نامزدی حلقه ده؟
د هغې پر خبره سپوږمۍ هم زما لاس ته فکر شو او دواړه په حيرت راوکتل چې ما سر د "هو" په ډول وښوره وو..

روخشانه- څوک؟ کله؟ ولې داسې ناڅاپه؟ موږ ته دي ولې ونه ويل؟
– بس ناڅاپه وشو..
سپوږمۍ او روخشانې څو شيبې يو بل ته هک حيران وکتل او بيا روخشانې په خندا وويل: مبارک... مبارک همراه شيرنې خو ظالمې خپل پر دی ناڅاپه کوژدی دی خپل يو عاشق و مرګ ته برابر کړو...
او بيا دواړه په خندا شول چې دا ځل ما په حيرت وپوښتل: پوهه نشوم څه مطلب؟
سپوږمۍ- په ياد د دی دوه مياشتې مخکې کله چې د ښونځي څخه راتلو يو هلک زموږ شا نيولې وه!
لږ مې فکر وکړو او ومې ويل: همغه چې تا ويل خيشته کولچه؟
دواړو په خندا سر وښوراوه او روخشانې په خندا وويل: شايد باور ونکړې چې هغه موږ ستا کور ته راستولې يو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

— څه؟؟

زما په حیرت ناکه غږ سپوږمۍ په تلوار وویل: هیس چغې مه وهه اوس به دی مور فکر وکړی موږ تا بدې لاری ته باسو او د یاراني خبری درته ورېو راوړو..

— د څه یارانه؟ د څه خبری ورل راوړل؟ سمه خبره وکړي.

روخشانه- ګوره هغه هلک دا یو هفته کېږی چې هره ورځ او هره ورځ زموږ تر شا راتلو تر دې چې پرون موږ د تیښتې لځایه و دربېدو او اراده مو وکړه وه ترځو د هغه په راتلو هغه سم جوړ بیاب کړو خو باور به ونکړې هیلۍ کله چې راغې نو په ډېر احترام او ادب یې وویل زما ستاسو هغه دریمې ملګري( روخشانې خپل د خبری په دی ځای کې په کامل جوش او شوق وویل: یعنی جناب هیلۍ جانه خوښه شوی او ورباندې سینه چاق مین شوی یم، او خواهش کوم ستاسو څخه چې زما دا لیک هغې ته ورسه وی ...

په حیرت مې هغه دوارو ته چې د لېونیانو پشان خندل وروکتل..

سپوږمۍ- البته اوس خو هغه لیک دېته نشو ورکولې ځکه دا خو نامزد شوی ...!

روخشانه- اممم مشکل نسته موږ یې د هیلۍ لخوا ځواب ورکو..

سپوږمۍ- ای ماشالله ستا پر ماغزه رښتیا وایې موږ به یې ځواب ولیکو..

او بیا دواړه په خندا شوي چې ما په غوسه وویل: کومه دی لیک؟

روخشانه- د سپوږمۍ سره دی څه یې کوی؟

— را ماته.

سپوږمۍ په شیطنت وویل: وه جنۍ ګوره ستا د شیطنت وخت تېر شوی اوس نامزد لری نو دا خبری موږ مجردانو ته پرېږده...

دا ځل مې په تنده لهجه وویل: درته وایم خط راکړی..

زما په تنده لهجه سپوږمۍ او روخشانې یو بل ته وکتل او روخشانې خپل د بکس څخه یو کاغذ زما خوا ته ونېو، لیک مې ورڅخه واخیست او بغیر لدی چې ویې لولم د دواړو مخکې مې څېري کړو او ومې ویل: سبا زه راځم ښونځي ته او که زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکی راغی زه خپل ځواب ورکوم ضرورت نشته تاسو زما په نوم یو هلک ته چل او فریب ورکړی.

روخشانه او سپوږمۍ تر نیم ساعت نور هم ناستې وي بیا ولاړې، د هغوی د تلو وروسته بېرته خپل په همغه پخواني فکرونو کې غرقه شوم نه پوهېږم سومره وخت به په همدی فکرونو کې وم چې کوچني ورور مې کوټې ته راغې او ویې ویل: پلار جان درسره کار لری وایې زما کوټې ته راشه.
هغه دا خبره وکړل او بیرته په منډو ولاړی خو زما زړه کې بېحد وېره واچول! چی د څه لپاره پلار زه غوښتې یم؟ او څه خبره ده؟ کله چې د پلار و مور د کوټې دروازی مخکې ورسېدم خپل کړی او نه کړی ګناهونه مې د سترګو و مخ ته و درېدل او قران وهلې شیطان لومړې فکر چې را واچوه هغه د خط خبره وه!

که څه هم ما هغه خط ونه وېلو خو ټوله وېره مې له همدی خوا وه او فکر مې کاوه چې هسې نه پلار ته چا د هغه خط په اړه غلط خبر ورکړی وی؟ په زر وېرې او ډار مې دروازه خلاصه کړه او دننه ورغلم پلار مې د کړکي څنګ ته پر نالې ناست وو او مور مې هم په الماری کې لګیا وه، خو زما په ورتګ مور مې د الماری څخه لاس واخیست او د کوټې څخه بهر ولاړه، اوس نو زه او پلار مې کوټه کې یوازی پاتې شو! د زړه درزا مې خپله اورېده، پلار مې تسبیح لاس کې واړه ول او زما خوا ته چې د کوټې دروازی سره په لړزانده جسم ولاړه وم راوکتل او ویې ویل: راشه کېنه ولې ولاړه یې؟

د پلار په غږ مې اوږی له وېرې څخه وپرېدل او په همغه لړزانه ګامونو د پلار د څنګ نالې ته نږدی شوم او کښیناستم نه پوهیږم چې دا وېره له کومه شوی وه خو لاسونه مې لړزېدل او د هغه د پټ کولو لپاره مجبوره شوم خپل د کمیس لمنه په لاسونو کې ونېسم، پلار مې بغیر لدې چې څه ووایې د څو شېبو لپاره زما دا ټول حرکات د نظر لاندی ونېول او بیا په یو دروند او کلک لهجه یې وویل: دا یوه هفته کېږې چې مور دې راته لګیا ده چې د هیلۍ سره خبری وکړه، ځکه هغه پدی نامزدی راضی نده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار مې چې دا خبره وکړل د ډار او استرس څخه مې لاړې په زحمت سره تر ستونې تېر کړل چې پلار مې بیا په همغه توجه راوکتل او ناڅاپه د هغه په خبرو زما زړه د سینې څخه راووت.
پلار- کوم څوک خو دی خوښ ندی؟ زما مطلب پر چا خو مینه نه یې؟
د پلار پدی خبره مې رنګ یو دم والوت او په لړزانه غږ مې وویل: ن .... نه ... پلا...
پلار دا څه وایست .... داسې هېڅ کومه خبره نشته..
خو پلار مې بغیر لدې چې کوم ځواب راکړې په همغه دروند نظر د څو شیبو لپاره راوکتل او بیا یې په کراره پداسې حال کې چې خپل د لاس تسبیح اړول وویل: ګوره بچیه زه خپل غلطي منم چې بغیر لدي چی ستا څخه سلا او مشوره واخلم هغوی ته مې "هو" وویل خو زما موقعیت خراب وو،

هغه شرایط او حالاتو کې ما "نه" نشو ویلې، زه د خدای د کلام د بې عزتي او بې حرمتي څخه و ډار شوم خو، خو همغه قران کې راغلې چې نکاح کې مهم د لور نظر دی نو ځکه زه ستا څخه پوښتنه کوم که هلک دی خوښ نه وی یا هم که کوم ..(پلار مې لږ خاموش شو او بیا په کراره لهجه وویل: یا هم که کوم څوک دی خوښ وی بغېر لدې چې وشرمېږې یا هم و ډاره شې ماته ووایه تر اوسه نه نکاح تړل شوی او نه هم کوم دسمال ورکړل شوی! یوازې یوه ګوتمي ستا پر ګوته شوی هغه هم مورږ اجازه نده ورکړې او هغې خپل په سر ستا پر لاس کړې، نو ته داسې فکر مه کوه چې مورږ به تا په زوره ورکړو او ستا نظر به وا نه ورو نه هرګز ما ته راوغوښتلې یې ترڅو خپل د زړه خبره و ماته وکړې چې آیا قبول د دی او کنه؟ که ځواب دی "هو" وی نو بسم الله به کړو او ستاسو نکاح به وتړو، خو که ځواب دی"نه" وی نو زه همدا اوس د ټول مخ کې خپل د "هو" ځواب بېرته اخلم ..

د پلار په خبرو مې سترګې د اوښکو ډکې شوې، نه پوهېږم ولی خو ناڅاپه مې ټول وجود کې سکون او ارمتیا خپره شوه، لدی چې پلار مې وویل زه هر حال کې ستا سره یم هغه د زړه وېره مې لمینځه ولاړه، پلار ته مې مخامخ وکتل او کرار مې وویل: تاسو چې هرڅه ووایست زما قبول دې پلاره..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د ځواب په آورېدو د پلار پر شونډو مې مسکا خپره شوه او زه په تلوار له کوټې څخه ووتلم، څلور ورځې وروسته د دواړو کورنۍ په حضور کې يو کوچنې جشن او محفل ونېول شو او زموږ نکاح وتړل شوه، د نکاح د تړلو وروسته کله چې نارينه د ميلمه خانې څخه وتل نو وسوسه شوم ترڅو خپل د کوټې د کړکي لخوا وګورم پدی اميد چې شايد هلک ووينم؟ چې څه رقم دی؟ کوټه کې څوک نه وه مور او د کاکا ښځه مې د همسايه د ښځي او لورګانو سره پر خبرو بوختې وي، البته بايد اوس ووايم زما د خواښې او ايندرورګيانو سره يې مجلس کاوه، زه په کراره د کړکي خوا ته نږدی شوم او لږ مې خلاصه کړه، مشر تره د هغه پسې مې ورور،او بيا بل تره مې د ميلمه خانې څخه را ووتل، او د هغوې تر شا يو جګ چهار شانه ځوان چې اول نظر کې ما د هغه ويښتيانو ته پام شو چې څوښې پريخودلې وه او يو جوړه شين آسمانې رنګ جامې اغوستې وه جلب شو..

د ميلمه خانې څخه راووت ما ته يې شا وه او ما سم نشو لېدلې، د څپلکو پر پښو کولو وروسته د تلو حال کې ناڅاپه زموږ د کور خوا ته راوکتل او ما د سترګو په رپ کې کړکي بنده کړه...
د زړه درزا مې يو سلو اتيا ته پورته شوی وه، وای يعنې ويې لېدلم او کنه؟ نه پوهېږم ولې خو غمبوری مې د شرم څخه تکي سري شوي، يو رقم ناشنا او مزی داره احساس مې درلود لدې چې د يو هلک پسی مې د شا لخوا وکتل او هغه هم هر هلک نه! بلکې هغه هلک چې زما د ټول ژوند خبره ورسره تړلې وه بېحد هيجان زده يې کړم، تر نيم ساعتو مې د زړه درزا نه کرارېدل، که ووايم په لومړی نظر کې حتا بغير لدی چې سم په جزياتو يې و لا ګورم مين مې ورباندې راغله شايد د جاهلت اخيری حد وی! خو زما په همدی نيم نظر باندې خوښ شو!

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوژدی څخه څو ورځې وروسته زموږ د ښونځي سالانه آزمويني پيل شوي، او ما هم پکې ګډون وکړو خو هوايي! مطلب نه يمه خبره چې ما به د امتحاناتو په ورقو کې څه ليکلې او څه نه؟ د امتحاناتو د خلاصېدو وروسته پلار مې وويل چې تا استوم پاکستان ته! ځکه زما مرض يوځل بيا راغلې وو او په هر خوښې او غم کې به راغورځېدم خدای داسې نا علاج مرضې راکړې وه چې د ښه کېدو نوم يې نه اخيستو، د پلار د خبری په سبا زه خپل د کوچني کاکا سره د نيکه د کور په خوا پاکستان ته روانه شوم، هلته تګ بېحد زما روحيه بدله کړه، ځکه د يو مياشت وروسته مې خپل د زړه همرازه او هم دم مروه ولېده، موږ دواړه به درسته ورځ بحث او کيسې کولي او نور هېڅ شې په اړه مو غم او فکر نه وو.

اول ځل مروه راته د عابد عکس خپل په تيلفون کې وښود! هغې د فسبوک څخه راخيستې وو او سومره يې زه د هغه عکس په سر و زوره ولم تر دی چې د زيات شرم او حيا څخه کمپل مې په سر کش کړو ترڅو نور د هغې خبری وا نه ورم، خو د کمپل لاندی مې مسکا پر شونډو راغله د عابد د عکس په راياد راوړلو د لومړی ځل لپاره مې د غرور احساس وکړو، خوشحاله وم لدې چې د داسې انسان سره مې نکاح تړل شوې چې ټول يې د ښايست، شخصيت او علم تعريفونه کوی...
دری مياشتي ژمې بېحد پر ما ژر تېر شو د ښونځي د پېل کېدو څخه يوه هفته مخکې کابل ته بېرته راغلم، که څه هم زړه مې د درس ويلو سره نه وو خو بيا هم د زړه د زوره هفته کې به دوه ځله ښونځي ته تلم ...

چای مې دم کړو او د پلار د کوټې خوا ته روانه شوم ځکه مور مې ويل چای هلته ويسم هغوی ته! دروازه مې کرار وټکه ول او داخله شوم پلار او مور مې يو د بل څنګ کې ناست وه د هغوې دواړو په لېدو مې مسکا پر خوله راغله لدې چې په پلار مې مور تل ګرانه وه او د هغې خيال يې ساتې او زياتر وختونه يې زما د مور خبره هم منل، پدی کار مې پلار راته تل يو محترم او مهربان انسان معلومېده دا رقم سړيان ډېر کم پيدا کېدل چې خپل د ښځې سره ښه اوسيږی او د هغې خبره ومنې بلخصوص زموږ مخکې خلک هغوې مينه او محبت هم د وهلو پر ژبه وو خو زما پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅکله زما په مور لاس ندی پورته کړې، او دا د هغه د نرتوب او غوره اخلاقو معنا ده نه د بې غیرتی بلکې زما په نظر بی غیرته هغه څوک دی چې خپل نرتوب د ښځو پر وهلو ښايي ...

پلار او مور دواړو ته مې د چای پیالي ډکې کړل او غوښتل مې چې د کوټې څخه لاړه شم چې مور مې وویل: کینه یوه خبره غواړم درته وکړم.
په حېرت مې د مور او پلار خواته وکتل چې پلار مې خپل پیاله چای راواخیست او خپل فکر يې همغه خوا ته کړو خو مور مې زما خوا ته کتل په کراره مې وویل:
خیرت خو دی موری؟
مور- خیرو خیرت دی غوښتل مې ستا څخه یوه مشوره واخلم.
د مور په خبره حیرت مې لا پسې زیات شو او ومې ویل: زما څخه مشوره؟ د څه په اړه؟
مور- غواړم ستا ملګري حمید جان ته وکړم( مطلب زما مشر ورور)
په حېرت مې و مور ته وکتل او ذهن کې مې د سپوږمۍ او روخشانې تصویر راغلو په تلوار مې وویل: کومه یوه يې؟
مور- آمنه ...

که مور مې راته د سپوږمۍ یا هم د روخشانې نوم اخیستې وايې دومره به نه وایې حیرانه شوی سومره چې د آمینې د نوم په اخیستو حیرانه شوم او په همغه حیرت مې وویل: آمینه؟
مور- هو ماشالله ورور دی ځوان شوی او اوس چې ته هم واده کېږې او ځې او کاکا دوی دی هم په همدی لنډ وخت کې زموږ څخه جلا کېږي نو زه یوازی پاتې کېږم زما څخه هم عمر تېر دی او نور د ټول کور کار یوازی ځان نشم کولې، نو غواړم ستا ورور ته واده وکړم چې هم مې لاس سپک شې ورباندې او هم خپلوي مو کلکه شې ستا د خسر خېلو سره..

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ورختای مې وویل: نه موری دا کار ونکړې.
زما په ورختا لهجه مور مې په حېرت وپوښتل: ولې؟
په همغه لهجه مې ورته وویل: موری که تاسو دا کار وکړو نو دا به بدل(موخې) راشې او تاسو خو پوهېږې چې د بدل کار هم غلط دی او هم بېحد د ستونزو او جنجالونو څخه ډک دی..

مور- نه مورې بدل نه کوو ته مو اول ورکړې یې او اوس د څو میاشتو وروسته د هغې لور خپل زوی ته غوارم، د هغه لور زما خوښه ده زیات کارینده جنۍ ده د کور ټول کار هغه کوی که را واده یې کړو نو زمورې کور به هم وربادندې و ساتل شي او زما لاس به هم وربادندې سپک شې.
— نه موری خیر دی داسې کار مه کوه یو خو مو بېګانو خلکو ته ورکړم او بلخوا اوس غوارې و دی خپلوي ته د بدل نوم هم ورکړی ...؟!
دا ځل د دې لځایه چې مور مې کوم ځواب راکړې پلار مې وویل: مورې هم د همدي لپاره غوارو ستا ایندرو ستا ورور ته وکړو!(په حیرت مې د پلار خوا ته وکتل چې هغه خپل د چای پیاله لاندې کیخودل او ویې ویل: منم چې ډېر کلونه کېږې همسایه ګان یو او تګ او راتګ لرو سره خو، خپل مو ندی او سم باوری هم نه یو او ډاډمن هم نه یو چې څنګه خلک دی!

که خپلوي مو د یو لځایه دوه شې نو لا به ښه شي، که د هغوي کور لور مو خپل کور ته راوړل نو هغوي به په تا نور هم زیات پام کوی! ځکه هغه وخت یوازی ستا خبره نده بلکې د هغوې د لور د ژوند خبره هم ده، نو دا کار ستا په خیر دی لوری.
پلار ته مې وکتل او هېڅ مې ونه ویل نه پوهېږم ولې خو پلار مې راته اندیښمن معلومېده زه په هغه بېحد ګرانه وم او د پلار دا کار راته د هغه د پلارنې اندیښنو څخه ښکاره شو. او که څه هم زما زړه نه وو خو بیا هم، آمینه یې زما ورور ته وکړل یعنې په همغه اول مرکې باندې هغوي "هو" وویل او دوه ورځې وروسته یې دسمال ورکړو او نکاح یې وتړل..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند وو جریان یې درلود خپل په ټول خوښۍ او بدې خپل په ټول پورته او ښکته بیا هم تېرېده، دا کال هم زما ځای په ښونځي کې د سپوږمۍ او روخشانې څنګ کې وو البته په دومره بدلون چې د اخرۍ څوکۍ څخه دوه څوکۍ مخکې راغلې وو د هغه نهه انجونو څخه چې تل به د استاد نه راتلو په وخت کې په صنف کې را به جمع کېدل دوه دانې زمونږ شاته څوکۍ باندې ناسته وه، یو خبری باندی زه بېحد حېرانه وم او هغه دا چې په هغه دومره بد آزموینې زه څنګه کامیابه شوی وم؟ دا پوښتنه تر څو میاشتو زما ذهن کې ګرځېدل تر دی چې یوه ورځ مې د سپوږمۍ څخه پوښتنه وکړل او هغې بېحد عجیب ځواب راکړو..

سپوږمۍ- تا به لا زمونږ په پرتله څه ناڅه که نور نه وی یو د دروغو خط خو به دی په صفحې کې لیکلی وی خو ما او روخشانې دواړو سپین ورقه ورکړه خو بیا هم کامیاب یې کړو پوهېږې ولې؟
په حیرت مې خپل سر د "نه" پشان و خوځه وو چې روخشانې په کراره وویل: په اووم ټولګي کې زمونږ یو ملګري وه هغه ناکامه شوه او مجبوره شوه چې بېرته اووم ټولګي له سره ووایې خو باور کوی پلار او مور یې هغه د ښونځي څخه وباسل! ورته ویلې وه چې مونږ پدی لا راضی نه وو چې ته ښونځي ته لاړه شې او اوس ته غواړې چې هر ټولګي له سره دوه، دوه ځلي ووایې؟ له سر څه مه...

زما د حیرت په لېدو سپوږمۍ په خندا وویل: اوووو مای خواهری اینجا افغانستان هست، دلته انجوني د درس ویلو لپاره باید یو خان رستم شاته پرېږدې ترڅو ورته اجازه ورکړل شې، خو که یوځل ناکامه شوی نو هغه د تل ناکامي ده. دا کار په څو نور ټولګي کې هم مشابه تکرار شو او اخیر ښونکو دا پرېکړه وکړه چې نور به د امکان تر حده شاګردان نه ناکام کوی او دا اخري امید د درس ویلو به پر دوی نه نامیده کوی..

هېڅ مې ونه ویل او په فکرونو کې غرقه شوم،سپوږمۍ او روخشانه هم د ښونکي د نه راتلو څخه ګټه پورته کړه او بېرون د ټولګي ولاړې خو زه ورسره لا نرم، خپل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوکۍ ناسته وم او غرق خپل په فکرونو کې وم چې د شاته څوکۍ څخه د انجونو د خندا غږ مې واورېده همغه نهه انجوني راټول شوي وه خپل د هغه ملګرو په څوکۍ چې زما د څوکۍ شاته وه، نه پوهېږم ولې خو د هغوی خوا ته ورغلم چې ومې لېده په دوی کې یوه جنۍ خپل دا نورو ملګرو باندی قلم ویشي او هر چاته یو یو دانه ورکوی، لکه خپل همدی اته ملګرو ته یې ډالۍ اخیستې وه زما پر لېدو ناڅاپه یو قلم یې ماته هم راکړو!

که څه هم ما دهغې سره یوازی یو سلام علیک درلود او نور کوم خاص ملګرتیا مې ورسره نه درلود، خو دهغې دا کار ډېر ښه رابانديې ولګېده او ددی سبب شو چې کله هغه نور انجوني د دی دوارو د شاوخوا څخه لری شوه زه د هغوی د څوکۍ خوا ته ورغلم او د لومړي ځل لپاره مې د دوی سره خبری کول پیل کړل.

– څنګه یاست ښه یاست؟

همغه جنۍ چې ماته قلم راکړې وو په خوش اخلاقي ځواب راکړو: شکر د خدای فضل خپله څنګه یې؟

– شکر ژوند دی تېرېږي..

هغوي دواړه دومره خوش اخلاق وه چې په نیم ساعت کې د پېژندګلوی څخه یو دبل د ژوند کیسو او پیښو ته داخل شو، هغه جنۍ چې ماته قلم راکړی وو د هغې نوم حیا وه او هغه چې تل ورسره په څوکۍ کېناسته د هغې نوم حسنات وو! دواړه بېحد ښه انجوني وی..

او په بېحد چټکي سره موږ یو دبل سره صمیمی شو داسې چې هر وخت ښونځي ته راتلم نو لومړي به مې د دی دو نفرو سره ستړی مشی او مجلس کاوه که څه هم زما پدی کار روخشانه او سپوږمۍ یو څه زما نه خفه معلومېدل خو ما کوم بد کار نه کوو ما یوازی یو دوه نوی ملګري مې پیدا کړی وه، یوه ورځ چې دهغه دواړو سره ناسته وم او مجلس مې کاوه ناڅاپه مې یوه پوښتنه چې د ډېر وخت څخه زما ذهن کې وه د دوی څخه وپوښتل.

– یوه پوښتنه کوم البته خفه نشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیا په خندا وویل: بووو دومره با ادبانه! وکړه جانم هر پوښتنه چې کوې.
ما هم وخندل او ومې ویل: زه چې لومړي دی ټولګي ته راغلم او دا چې دویم کال زما په دی ښونځي کې راځې زه ګورم چې تاسو یوازی دوه نفره یوازی په څوکۍ کینې او دریم نفر ځان سره نه پرېږدې دا ولې؟

هغوي دواړو یو بل ته وکتل او بیا حسنات په غمژن لهجه وویل: موږ د لومړی ټولګي څخه درې ملګري وو چې تل به یوزای کېناستو خو اووم ټولګي کې زموږ ملګري چې د خور پشان وه موږ ته هغه ناکامه شوه او بیا د هغې کورنۍ هغه د ښونځي څخه وویستل، خو د دومره کلونو وروسته هم موږ د هغې ځاي بل چاته نه ورکو نو ځکه موږ دوه نفر یوازی کېنو..

د حسنات په خبره مې د سپوږمۍ خبره رایاد شوه او پوهه شوم چې دوي څوک یادوی! د دوی دواړو دا کار نور هم پر ما ښه ولګېده لدې چې د کلونو وروسته هم خپل د ملګري په یاد کېدې او د هغې ځای و چاته نه ورکوی دا کار زما زیات خوښ شو، او ددی سبب شو چې نور هم د دوی خوا ته نږدې شون او بیا یوه ورځ داسې هم راغله چې ما د حیا د موبایل نمبر هم واخیست او د ښونځي نه علاوه زموږ مجلس او کیسې کور کې پر واټساپ هم پیل شوی، د یوه میاشت په موده کې دومره د هغوي سر صمیمی شوم چې زما خپل باور لا نه کېدو، خو د حسنات څخه زیات د حیا سره صمیمی شوم لکه دوه خویندو پشان ما هغې کې د مروه پشان مهربانې او همدردی لېده ...

دوی هم شوخي او شیطاني وی خو د دوی شوخي او شیطاني د روخشانې او سپوږمۍ پشان نه وو، دوی داسې حال کې چې شوخې وی درس خواني هم وي، او تل ۳/۴ درجه کې راتلل، د لسم ټولګي د چهارنیمه امتحانونه مو ورکړل چې ناڅاپه د کرونا د راتلو آوازه په ټول مملکتونو کې وپیچل شول، او افغانستان هم د هغه څخه بې برخي نه وو! د کرونا په راتلو د څلور میاشتو لپاره د ښونځي دروازی وتړل شوي او عمومي رخصت اعلان شو، او موږ پر کورنو کېناستو دا چې بیا د کور په څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوالونو کې بندې شوم نو زما خبری پر موبایل بېحد زیات شول د حیا سره، او نه پوهېږم زما د موبایل سره زیات د خبرو علت وو که کوم بل څه خو ناڅاپه یوه ورځ ورور مې زه خپل کوټې ته وغوښتم او راته یې وویل:

ورور- موبایل دی ماته راوړه هیلی.
په ګنګس انداز مې وویل: څه؟
ورور– موبایل دی یوځل ماته راکړه په کار مې دې.
که څه هم کوم غلط کار مې نه وو کړی چې اوس وغوارم د موبایل په ورکولوګ و ګاره شوم خو نه پوهېږم بیا هم و وېرېدم او په لړزانه لاسونه مې موبایل خپل ورور ته ورکړو هغه هم بند! مطلب د موبایل پاسورډ مې خلاص نکړو ورور بغیر لدې چې څه ووایې موبایل رانه واخیست او پورته ښکته کاور او مات شوی سکرین وکتو او ویې ویل: اممم نن تللې وم بازار ته او ستا ورېندار ته مې موبایل واخیست.

– ها! مبارک دې وی ورته.
خوشحاله شوم لدی چې ورور مې خپل نامزد ته موبایل اخیستې او خبري ورسره کوی، خو له یوی خوا لږ خفه هم شوم لدی چی ما د دوې څخه مخکې کوژده کړی وه خو عابد راته یو موبایل لا وانخیست! موبایل خو لری حتا زما پدی زاړی موبایل لا ماته پدی دومره میاشتو کې یو زنګ او یو مسج لا ونکړو،که غوښتلې وایې نو په ډېر آسانۍ زما نمبر پیدا کولې شو، په همدی فکرونو خفه وم خو د ورور خبرو زما ذهنیت یو دم بدل کړو.
ورور- خپل د نامزد څخه مه خفه کېږه هغه خپل هم موبایل نلرې، د هغه لاس ډېر تنګ دی د اقتصادی لحاظ زموږ پشان ندی! له یو خوا درس وایې له بلخوا د کور خرچه هم پیدا کوی، اوس وخت یې حالت لږ درک کړه..

په حیرانتیا او تلوار مې وویل: نه ورورا! ما داسې کوم فکر نه کوو خدای دی تا او وریندار تل خوشحاله لری، خدای مهربان دی د هغه حالت به هم ښه شې. زما سره مو کوم کار وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروړ- هو یو دقه ...
وروړ مې دا خبره وکړه او خپل د جیب څخه یې یو نوي موبایل زما خوا ته ونېو او ویې ویل: دا مې تاته اخیستی.
د موبایل په لېدو ټول غم او خفګان مې لیاده ووت او په خوشحالۍ مې وویل: رښتیا وایې لالا؟ دا زما دی؟
زما د خوشحالۍ په لېدو د وروړ پر شونډو مې مسکا راغله او ویې ویل: هو دا ستا خپل موبایل دی راشه واخله..

په خوشحالۍ د هغه خوا ته ورغلم او د لاس څخه مې ورنه موبایل راوخیست، دومره نرې وو چې وېرېدم د لاس څخه مې ونه غورځېږې په بېحد هیجان مې خپل نوی موبایل ته کتل چې وروړ مې وویل: یوه شماره د موبایل په دفترچه کې ثبت ده هغه د ...
په ګنګس انداز مې وروړ ته کتل ترڅو ووایې د کوم چا شماره یې و ماته ثبت کړې؟ چې هغه خپل ګیره کې لاس کش کړو او کرار یې وویل: اوخښې ته مې هم موبایل واخیست د نوي سیمکارت سره، او د هغه شماره مې درته ثبت کړې کولې شې د دی نه وروسته ورسره خبري وکړې...

له یوه خوا په حېرت کې وم! له بلخوا خپل د وروړ پدې کار حیرانه هم وم او خوشحاله هم! خو د دی ټولو احساساتو سره یو بل حس بېحد قوی وو! او هغه وو د شرم او حیا احساس د وروړ په خبره مې غومبرې د شرم او حیا څخه تکي سري شوي او په تلوار ځان مې د هغه د نظرونو څخه پناه کړو ...

د دومره وخت وروسته مې سم یاد ندی چې اول مسج او زنګ عابد وکړو که ما؟ خو پر هر حال پر موبایل باندی مو خبر کولو ته پیل ورکړو او دا هغه نشه ده چې خدای دی هر انسان ته په حلاله لاره نصیب کړې شپه او ورځ مو یو دبل سره په خبرو کولو تېرېده که یو دقه عابد نه وایې بیا نو حیا وه د درس ویلو او آینده کې د یوځه جوړېدو ټول آرمانونه او خوبونه لیاده ووت، حتا تر دي حده چې غوښتل مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښونځي د تګ بيخي پرېږدم خو عابد اجازه رانکړل او ويې ويل چې زه غواړم ښځه مې با سواده اوسېږې او تعليم يافته وی.

او دومره نور خبرې او تشويق يې کړم چې بيا زما زړه لږ د درس سره ولګېده د کرونا څخه دوه مياشت وروسته د لسم ټولګي د سالانه امتحانات مو ورکړل يعنې دا کال موږ بيخي له سر درس سم ونه وېلو...

زموږ د نامزدی څخه څه کم يو يو نيم کال تېر شو خو پدی دومره وخت کې ما عابد مخامخ ونه لېده يوازی پر موبايل مو خبری کول، د جمعې ورځ وه عابد د پوهنتون څخه رخصت وو د هغه بل ماښام څخه پر ما موښتي وو چې راشه زموږ د کور خوا ته زه غواړم د نږدی څخه دې ووينم! دومره يې وويل او زاری وکړل ترڅو زه رازی شوم او ورته"هو" مې کړل خو اوس چې وقت يې راغلې د وېرې او ډار څخه زما ګام تر ګام نه تلو، کوټه کې ناسته او خپل فکرونو کې غرقه وم چې اوس څه وکړم؟ موږ رواج نه درلود د واده مخکې دی هلک او جنۍ يو بل وګورې همدا موبايل کې خبری کول لا د يو معجزی پشان وه! او اوس عابد غوښتل زه ورسره مخامخ ملاقات وکړم هغه هم د جمعې په ورځ؟ چې ټول د کور نارينه په کور کېدې؟

په انديښنې او ډار کوټه کې ځانته يوازی ناسته وم او فکرونه مې کول چې څنګه د عابد سره يو ملاقات وکړم؟ چې همدې وخت کې د هغه زنګ راغلو د موبايل په صفحه د هغه د نوم په لېدو مې د زړه درزا نور هم زياته شوه او په لړزانه لاسونو مې موبايل راواخيست، شنه بټن د زنګ مې کش کړل او موبايل مې خپل د غوږ څنګ ته ونېوه خو جرئت د خبرو کولو مې نه درلود، هغه هم خاموش وو د څو شېبو خاموشی وروسته يې کرار وويل: امممم د خاموشې څخه داسې ښکارې چې د راتلو هوډ نلرې!؟

په کراره او شرم مې وويل: ه.... هغه نن.... جمعه ده او ټول پر کور دی نشم درتلې، که بل کومه ورځ وايې شايد ښونځي ته تګ مې بهانه کړې وايې او درغلې وايې! خو اوس هېڅ امکان نلری..

(c) ketabton.com: The Digital Library

عابد- څومره غلط رسم او رواج دی کنه؟
— کوم؟
عابد- همدا چې د واده مخکې هلک او جنۍ یو بل نشي لېدلې ..
هېڅ مې ونه ویل چې هغه بیا وویل: همدا د نامزدی وخت بهترېنه وخت د آشنای او د شناخت دی خو مورِ پښتانه د نامزد کور ته تګ راتګ بند کو او ورته د شرم او غیرت نوم اخلو، کنه د نامزدی خوند همدی کېدی چې سړی د خسر کور ته ولاړشی او د خواښې او نور د کور د غړو سره مجلس وکړی او شناخت حاصل کړې..

کرار مې وویل: ته خپل هم ډېر ښه خبر یې چې زمورِ واده ته لا ډېر وخت پاتې او ډېر خبری و مخ ته لرو، نو ځکه زما کورنۍ اجازه نه درکوی ترڅو ته راشې..
عابد- اممم پوهېږم... پوهېږم خو خدای مهربان دې، ښه ته اوس دا خبري پرېږده راځي او کنه؟
په نا آرمه لهجه مې وویل: ما خو وویل چې پلار او ورونه مې کور کېدې او نشم راتـ..
هغه زما خبره پرې کړل او ویې ویل: زه هم نه وایم چې ته زمورِ کور ته راشه یوازی لږ د کور څخه راووځه ترڅو زه دی ووینم بس.
— نه کېږې ..
عابد- کېږې.. کېږې هېڅ شې پدی دنیا کې ناممکنه نشته، کله چې دی پلار او ورونه د جمعې لمانځه ته ولاړه همغه وخت ته خپل د کور د دروازی مخې ته راشه، نو ستا یو دیدن به زمورِ په نصیب شې نازولي.

هېڅ مې ونه ویل او د هغه د خبری په تایید مې سر وخوځو او موبایل مې بند کړو، بېحد زیات وېره او استرس مې درلود فکر مې کوو چې کوم غلط او اشتباه کار کوم!
او څومره چې د ملاقات وخت ته ساعت نږدی کېدو هغومره زما وېره ډېرېدل، تر دی چې پلار او ورونه مې د جمعې د لمانځه د ادا کولو لپاره له کوره ووتل او د هغوي د تلو څو دقېقې وروسته ما هم ځان د کور د دروازی خوا ته ورسه وو، او کرار مې دروازه خلاصه کړه، ګډوډ احساسات مې درلود هم وېرېدلې وم او هم مې هیجان

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود، دروازه مې خلاصه کړه او د کوټې خوا ته مې وکتل خو هېڅوک مې تر نظر شوو! یو څو شېبې نور هم و درېدم خو نور کرار کرار د هغه د راتلو څخه نامیده کېدلم چې ناڅاپه مې د کوټې سر ته پام شو!

دا د څه وخت راهیسې هلته پټ ولاړ وو؟ هغه چې کله زما نظر ولېد نو په خندا زموږ د کور کوټې ته راننوت چې ما د ډېر شرم او خجالت څخه ژر دروازه بنده کړه او کور ته ننوتلم، وای وای زه دا دری ساعت لکه لېونیانو پشان کوڅه کې اخوا دیخوا ګورم چې ولې نه راځې؟ خو داسې حال کې چې هغه دا دری ساعت کېده په پټه ماته راکتل! د هغه پدی کار زړه مې د هېجان او یو ناشنا حس څخه په غورځېدو شو او غومبري مې تکي سري شوي په تلوار مې ځان خپلې کوټې ته ورسه وو چې د موبایل غږ مې پورته شو، داسې حال کې چې زړه مې د ډېر هیجان د سینې څخه په راوتلو وو موبایل ته مې ځواب ورکړو، او د هغه خوا یو آرامه زمزمه ...

څوک په مسجد کې د سجدو لیوني
څوک میخانو کې د نشو لیوني

څوک ټوله ورځ ورسره ناست وي په خنګ
څوک یې دیدن پسې د شپو لیوني

څوک ورته وایې راته ګورې ولې
څوک یې د سترګو د لیدو لیوني

***

یو مشهور خبره ده خلک وایي: کله چې انسان خوشحاله وې نو وخت وربانديې ژر تېرېږي! او زما د ژوند حالات هم څه ناڅه همداسې وه. یو خوا تازه د پیغلتوب په نرۍ کې مې پښه کېخودلې وه او له بلخوا په همدی د احساساتو او جذابتو څخه ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې نامزد شوی وم، نو سم پر هوا ګرځېدم شپه او ورځ زه وم موبایل وو عابد وو که څه هم زیات مصروف وو خو بیا هم تل کوښښ یې کاوه زما سره د خبرو کولو لپاره وخت پېدا کړې. نن زموږ د یولسم صنف د څهار نیمه امتحانات وه ښونځي ته د تلو مخکې عابد راته مسج کړې وو او د ښه امتحان ولری او بریالۍ اوسیږی پر ویلو یې زما حوصله پورته کړې وه، د هغه هم امتحان وو نن او ویلې وه چې موبایل خاموش کوم ځکه د امتحان مېنځ کې موبایلونه نه پرېږدي، او دا یې هم ویلې وه چې امتحان خلاص شې خپل زنګ وهې..

خو زما ډېر زړه کېدو چې ورته زنګ ووهم! خو ځان مې را سنبال کړو او هغه ته د زنګ وهلو لځایه خپل د موبایل ګالرې ته ولاړم او د هغه په یو عکس مې ګوته ووهل او څو شېبې وروسته د هغه دوه خرماي سترګی د موبایل په سکرین را ځرګند شول، د هغه ټول څهره مې تر نظر تېره کړه منظم ګېره چې زما په غوښتنه یې داسې ډېزاین ورکړې وو منظم ویښتیان جګ برابره پوزه غنم رنګ او مردانه څهره چپ لاس کې هغه ساعت چې ما ورته اخېستې وو او ګوته کې د سپین زرو ګوتمي چې یو غټ غمي د عقیقو درلود او زما کورنې ورته د نامزدی د حلقې پشان اخیستې وو، او تور کالې چې دا ټول ښکلا یې لا پسې زیاته کړې وه! د هغه څخه یو ښکلۍ او باشخصیت ځوان جوړ کړې وو داسې چې هر جنۍ د هغه په لېدو آرمان کاوه چې کاش دا د هغې نامزد وایې!

د مور په غږ چې ویل یې ښونځي ته نه ځې؟ ژر مې موبایل بند کړو او په تلوار د کوټې څخه ووتم..

—دغه دی ولاړم موری ..

مور- په ځان پام کوه ژر لاړه شه او بېرته راشه الله دی مل.

— سمده خدای پامان.

په کراره کراره د ښونځي خوا ته روانه شوم ټول ښار او خلکو کې بد حال ګډو وو د هر چا په څهره اندیښنه او وېره له ورایه ښکارېده، ټول د راروان راتلونکې څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحشت او ډار کې وه هغه کسانو چې پیسي او قدرت درلود لا د وخت د افغانستان څخه ځانونه ویستلې وه اوس یوازې عام ولس پاتې وو چې څه به ورسره کېږي؟

د کوم وخت څخه چې زما یاد ته راځي مورږ د طالبانو کیسي یوازې خپل د مور او پلار د خولو څخه اورېدلې وه خو اوس یو ځل بیا هغوي د ټول افغانستان د نیولو حال کېدي زیاتر ولایتونه د هغوي په لاسونو سقوط کړې یوازې کابل او یو دوه نور د ګوتو په شمار ولایتونه پاتې، خو لا تر اوسه امېد شته ځکه اشرف غنې بابا لا په ارګ کېدي د هغه شتون لا دا امید د خلکو په سینو کې ژوندی ساتلې چې امکان لری طالبان بیرته شاته وشړې، په همدی ګډوډ فکرونو کې ښونځي ته ورسېدم، چې ومې لېده د ښونځي دروازه بنده ده! او زما پشان یو څو نور انجونې هم د ښونځي د بندی دروازی سره ولاړ دی، په حیرت د هغه نور انجونو خواته نږدې شوم ترڅو پوښتنه وکړم چې څه خبره ده؟

چې همدی وخت کې مې نظر په همغه هلک ولګېده چې دا دوه دونیم کال کېده زما پسې وو! هو د سپوږمۍ خبره همغه خیشته کولچه چې ما د هغه خط وروسته په ډېر تند انداز ځواب کړی وو او ورته ویلې مې وه چې زه نامزد شوی یم! او د هغه ورځې وروسته نور ما هغه نه وو لېدلې! خو اوس هغه په تلوار زما خواته منډې را وهل د هغه پدی رامنډه وهلو بېحد وډاره شوم او نور هم د ښونځي خوا ته ورنږدې شوم چې هغه ځان تر ما را ورسه وو او په نېولې ساه د سترېيا څخه یې وویل: ژر خپل کور ته لاړه شه..
په حیرت مې وویل: ولې؟
– ځکه طالبان راغلې!
په وحشت مې وویل: څه؟

– ژر بېرته کور ته دې لاړه شه ژر کوه..
د هغه دا خبره لکه چې ټولو ته ورسېدل ځکه ټول کسانو په شور ماشور پیل وکړو او ډېر ژر د مکتب د دروازی مخه خالې شوه او ټول خپل د کورنو پخوا روان شول، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لزړانه ګامونو په تلوار سره د کور خوا ته روانه شوم لا د ښونځي څخه دومره نه وم لرې شوی چې پلار مې ولېده چې زما د ښونځي خوا ته راروان وو! هغه هم زه ولېدم او زما په لېدو یې یو راحته ساه یې واخیسته، د پلار سره یوځاي کور ته ولاړم.
باور مې نه کېدو چې افغانستان دی د دومره کلونو وروسته یوځل بیا د طالبانو لاس ته غورځېدلې وو! او اشرف غنی تللې وو...

د هغه په تلو مې وژړل، لدې چې ښونځي ته نشوم تللې و مې ژړل، لدې چې بیرغ مو د درې رنګ څخه سپین رنګ ته راغلو و مې ژړل، خو اوس زما په ژړا هېڅ هم نه کېدل څه چې کېدونکې وه هغه شوی وه، یوازی امېد مو و دی خبري ته ساتلې وو چې ویل یې د امارت د تنظیم او قوانینو د جوړلو وروسته هغوی ښونځي د انجونو لپاره خلاصه وی. د طالبانو د راتګ سره سم حیا کورنې خارج ته تللې وه البته د هغه ټول کورنې د اول څخه هم خارج کې وه یوازی دی دلته کابل کې درس وایو چې د طالبانو د راتلو سره دا هم ولاړه ما یوځل بیا خپل یو راز داره او خور له لاسه ورکړه که څه هم پر موبایل به مو خبری کول خو موبایل چیرته د مخامخ لېدو او خبرو ځای نېولې شې..

د حیا خارج ته تګ، د ښونځي بند کېدل، د طالبانو راتلل، او دا ټول خبرو زما پر ژوند دومره اغیزه وکړه چې زه یې یوځل بیا د مریضې په بستره و څملولم، لا یوه میاشت د طالبانو د راتلو نه وه تېره شوی چې زما خواښې یو ځل بیا زموږ کور ته په تلو راتلو شوه او زما د پلار څخه یې غوښتل ترځو واده ورکړې، که څه هم زما پلار او کورنۍ راضی نه وه خو زما د خواښي په زیات ټېنګار هغوی د تل پشان"نه" ونشو ویلې او د واده د شیانو د اخیستو او کور جوړه ولو په فکر کې شول، هره ورځ به بازار ته تلل او خرید به یې کوو کله ناکله به د ځېنو شیانو د اخیستلو لپاره زه هم لځان سره ورم. زما د خاوند د کور اقتصادی وضعیت ډېر خراب وو، زما پلار دوي غوښتل په همدی یو وخت کې ما ورکړې او خپل ناوی راوړې خو زما خواښي دومره پیسي نه درلود چې خپل لور ته کور واخلې..

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زما پلار مور، دوارو ته د کور شیان واخیستل هم وماته او هم آمنې ته، هره ورځ چې د واده ورځ ته نږدې کېدل زما وېره او وحشت زیات کېده که څه هم عابد ښه هلک وو او ډېر زما خیال یې ساته خو زه له یو پلوه د هغوی د کور د ماحول څخه وېرېدم او بلخوا خپل مریضی اندېښمنه کړې وم، زه د مور یوه لور وم او مور و پلار مې داسې لویه کړې وم چې د خلکو خبره تور او سپین ته مې لاس نه وو وهلي او زیاته نازولې وم، خو زما د خواښې کور ماحول او خلک زمور، پشان نه وه! ما دوه ایندروګیانې درلود یوه آمنه چې اوس زما وریندار وه او بله فرشته چې په سترګو ړنده وه! او یو لېور مې درلود چې د عابد څخه ځو کاله کوچنې وو! که څه هم د هغوې کورنۍ دومره غټ کورنۍ نه وو خو بیا هم د هغوی د کور ټول مسئولېت زما په غاړه راتلو، او همدې خبرې زه بېحد اندیښمنه کړې وم ...

د یوه میاشت په موده کې د واده چمتو والې ونېول شو، د واده څخه درې ورځې مخکې زما خواښې زمور، کور ته راغله او زما پلار ته یې وویل چې زه غوارم د واده مخکې تاسو اجاره راکړې ترڅو زوی مې راشې ستاسو کور ته! (په عام اصلاح مور، ورته بازي وایو هههه همغه نامزد بازی مطلب) زما د پلار زړه نه وو او بد یې راتلل د داسې خبرو او کارونو څخه خو د تل پشان بیا یې څه ونه ویل او زما د خواښې خبره یې ومنل، او په همغه شپه زما خواښې او عابد زمور، کور ته راغلل، هغه شپه چې څنګه پر ما تېره شوه هغه بیان د قلم په الفاظو زه نشم بیان کولې خو دومره ویلې شم چې عابد راته بېحد دلداری راکول او د یو ښه راتلونکي قولونه او وعدی راکول او زه یې په همغه خبرو راضی کولم...

درې ورځې وروسته د واده د مراسمو لپاره د دوارو خوا وو خپلوان دعوت شول او د واده دیګونه باندې شول، یو کور د سرېانو او بل له ښځو ډک شو پلار مې د ټول واده خرچه خپل په غاړه واخیسته او داسې واده یې ونېو چې ټول خلک ورته ګوته په غاښ پاتې شول، ماسپېښین د ډوډۍ ورکولو وروسته زما خسر ګېي زما د ورلو لپاره راغله، دا هغه حالت دی چې که جنۍ خپل په خوښه واده کړې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور و پلار په خوښه یې کړې وی، په مینه یې کړې وی او په هر حال چې راضی شوی وی په دغه وخت کې ژړا حتمی او ضروری ده، دغه وخت کې چې د مور، پلار، ورونو او خپل خپلوانو څخه جلا کېږې دلته نو هېڅ شئ ستا د ژړا مخه نشې نیولې او بیا زه چې بېحد نازولې هم وم خپل د پلار او مور او داسې ځای روانه وم چې راتلونکی ماته نه ښکاره کېده نو ژړا مې لاپسی زیاته شوه داسې چې نور مې د ژړا لځایه چغې وهل.. خو کوم فایده یې نه درلود که ما چغې وهلې وایې یا هم وینه مې ژړلې وایې رسم او رواج معلوم وو!

که څه هم زما د خسر البته بهتره به وې چې زه ووایم زما د خواښې کور! ځکه خسر بیچاره مې لس کال مخکې وفات شوی وو! نږدې وو خو بیا هم موټر کې کېنولم او د هغوې تر کوره یې ویوړم ټوله لاره مې وژړل، د هغوی کور هم د میلمنو څخه ډک وو زه یې یوه کوټه کې کېنولم او راته وویل شول چې دا به نور زما د عمر تېره ولو جونګړه وی! حتا یو ګل لا په ټوله کوټه کې نه وو ټکول شوي چې مثال د ناوی کوټه وه! زړه مې بېحد ونېول شو او کرار کرار مې لځان سره ژړا پیل کړل زما کورنۍ راغله او خپل ناوی ویوړل او زه پاتې شوم یوازی د هغه یو څو ښځو سره چې زما سره راغلې وه! هغوي هم د ماښام خوا ته زما څخه رخصت واخیسته او روان شول!

نه راسره مور وه نه خور، نه خاله، نه یو خپل او خپلوان، یوازی ځان هغه کوټه کې د څو بیګانه ښځو سره چې زما د خواښې خپلوان کېدل ناسته وم، زموږ د خپلوانو د تلو وروسته یوه، یوه زما د خواښې خپلوان ښځې زما خوا ته راتلل او راته یې نصیحت کاوه او ویل به یې"خواښې دی یواځې ځان ده کور کارونو کې ورسره مرسته کوه" د خواښې احترام او عزت دی ساته" خواښې دی مه سترې کوه" خواښی هم د مور لځایه ده زړه یې ورڅخه ساته" ټولو همدا یوه خبره کول خواښې ... خواښی .. او خواښی... هیچا زما په اړه څه ونه ویل! چې مثال زما خواښی ته و نه ویل چې دا هم ماشومه جنۍ ده ستا د لور پر ځاي ده ورسره مراعات کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ زما په حق کې کومه خبره ونکړل او د هغړي پدي کار نور هم زما زړه ونېول شو، خو ځانته مې دلداری ورکول او ویل مې ضرور دا د دوی کوم رسم او رواج دی! او بده خبره هم نکوی که څه ما ته دلداری نه راکوی بیا هم بده خبره نکوی، زه خپله هم پوهېدلم چې اوس د کور ټول مسئولېت زما تر غاړی دی او باید خپل د خواښې مرسته او لاس نېوې وکړم، خو ناڅاپه خپل د خواښي په خبرو مې سترګي د حیرت څخه خلاصې پاتې شوی! هغه کوټې ته راننوتل او په ناڅاپه توګه یې چغي او بغاری شروع کړې او په ژړا یې ویل: خدایه بدبخته شوم خاوري مې په سر شول، خپل د ګل پشان لور مې واده کړه اوس به زما خیال څوک ستاتې؟ اوس به زما خدمت څوک کوی؟ خدای خاوری مې په سر شول...

هغې په چغو،چغو ژړل او همدا خبري کول د هغې پدی کار زه هک حېرانه شوم! دا نو څنګه کار دی؟ دا ولې داسې کوی؟ د هغې خبري داسې وه لکه مخامخ چې ماته وایې ستا په راتلو زما کور برباد شو! د هغه پدی کارونو زما ژړا یوځل بیا پیل شول او په زوره زوره مې وژړل هغه ښځو چې تر همدا څو دقیقو مخکې ماته دلداری راکول اوس زما پر خواښې راټول شوي وه او هغې ته یې دلداری ورکول او خپل د خبرو په مېنځ کې به هم یو نظر زما خوا ته هم کتو داسې کتل او داسی نظر لکه غواړی ما ته ووایې چې تا ددی ښځې کور ورته تباه کړو! دومره مې وژړل چې نور بې حال او ګنګسه غوندي ځای کې ناسته وم او هېڅ خبره مې سم نه اورېدل، د ډېر ژړا او بد حال څخه مې فشار ښکته شوی وو!

ما د سهار څخه لا یوه ګوله ډوډۍ نه وه خوړلې، همداسې ګنګسه حالت کې ناسته وم چې د ماښام ډوډۍ چمتو شول او ټول لاړل ترڅو دهلیز کې ډوډۍ وخوری، خو ... خو هېڅا نه زما څخه د ډوډۍ پوښتنه وکړل او نه یې هم راته راوړل!
خپل د واده په لومړي شپه خپل د کوټې کونج کې له کونډه ناسته وم او اوښکي مې تویه ول، یوازی امید مې عابد ته وو چې هغه راشي ترڅو زه ورته ګیله وکړم د دی ټولو کارونو او خبرو څخه ماښام ساعت د اتو څخه نهه شو د نهه څخه لس شو خو عابد رانغلو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هم د ډېر ستړیا او ژړا څخه د بې هوښي حالت کې وم چې د کوټې د دروازې کړار خلاصېدل مې تر غوږ شول، په تلوار کېناستم ترڅو وګورم څوک دی؟ د کوټې ګروپ خاموش وو او سم نه معلومېده چې څوک دننه راغې؟ خو د بیرون څخه چې کومه رڼا راتلل د هغه رڼا په مرسته پوهه شوم چې عابد دی!

د هغه په لیدو مې یو ځل بیا دا ټول غمونه راتازه شول او سترګي مې د اوښکو را ډکي شوي، په تمه وم ترڅو هغه ګروپ روښانه کړې او زما خوا ته راشي ترڅو زه خپل ګیلي ورته پیل کړم خو.... خو عابد بغېر لدې چې د کوټې ګروپ روښانه کړې کوټې ته راننوت او دروازه یې د ځان پسې وتړل او بیا بغېر لدې چې زما خوا ته نیم نظر لا واچوی یا کومه پوښتنه وکړې د بستري په اخیری څنډه پرېوت او ما ته یې شا کړل! دومره د هغه پدی کار حېرانه شوم چې تر څو شېبو یوه خبره مې لا ذهن ته رانغله! د کوټې په همغه تیاره کې مې دوه سترګي د هغه خوا ته نېولې وه چې ماته یې شا کړې وه!

شاید زما دروند نظر ته یې پام شو چې زما خوا ته را وځرخېده او کرار یې وویل: پوهېږم نن دې زیاته سخته ورځ تېره کړې نو ځکه کراره ویده شه، سبا به هم خبری وکړو او هم به د کورنۍ د خلکو په خوی او خاصیت پوهه شې، نو نن کراره ویده شه.
هغه دا خبري وکړل او بیا زما لاس یې خپل لاس کې ونېو زه هم د هغه ځنګ ته څملېدم او نه پوهېدم چې څه ووایم! هغه خپل په خبرو زما خوله رابنده کړې وه، بغیر لدی چې زما لاس خوشې کړې هغه کرار ویده شو او زه یې هم خوب ته دعوت کړم، نه پوهېږم تر کوم وخته به په هغه تیاره کې مې د عابد ومخ ته کتلې وه؟ تر دي چې خوب زه هم د ځان سره د غفلت نړۍته ورې وم ...

سهار د خواښې په قهرجن غږ مې راویښه شوم.
خواښې- دا موږ راویستې چې تر غرمي خوبونه وکړې؟ کار خو هسې هم نکوې مونځ تخو یې راویښه کړه! زموږ کور به خپل پر بې لمانځي نه بې برکته کوې، د همدا اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه معلومېږي چې خپل همغه شلیتې خاله ته ورغلې...
عابد کوښښ کاوه چې خپل مور کراره کړي خو هغې د کرار کېدو نوم نه اخیستو، د هغه پدی رقم خبرو د وېرې او وحشت څخه خپل پر ځای کښېناستم د زړه درزا مې خپل آورېدل، نه پوهېدم چې ما څه کړي؟ او زما خاله څه کړي؟ او بې نماز څوک دی؟ د کړکي خوا ته مې وکتل چې آیا لمونځ د رښتیا قضا شوی؟

خو نه تازه د مولا آذانونه وه، هوا تر اوسه تیاره وه. د ډېر وحشت څخه پر بدن مې لړزه راغلې وه ما هېڅکله خپل په عمر کې داسې خبري نه وه اوریدلې او هېڅکله له خوب څخه پداسې وحشیانه توګه نه وم راویښه شوي، بیا مې خپل د خوابښي غږ وآورېده چې په غوسه یې وویل: د همدي لومړي ورځ څخه یې خپل پر سر مه پورته کوه، ته د ښځو ذات نه پېژنې چې ترکوم حده مکار دی، هغه یې د خاله څخه چې په نه خبره یې زما سره خوله واچول او زه یې د سیالانو مخ کې په یوه روپي کړم او دا یې هم د خورزي څخه چې ...
عابد یې خبره ورپرې کړل او ویې ویل: بس دې موری زه نه یم خبر چې ستا عصاب له کومه خوا خراب دی، خو داسی سهار د مولا د آذان سره ته داسې چغي نشې وهلې. لږ خو یې مراعات وکړه تازه ناوی ده همدا پرون دی راوړل کور ته تر څو چې زموږ د کور په عادتونو پوهېږي لږ وخت نیسي...

حیرانه وم چې خوابښې مې د څه مکار او فریب و چل خبري کول؟ کوم ذات؟ او تر ټولو مهمه دا چې زما خاله ورته څه ویلې وه؟ او د څه جنګ؟ اوس لږ لږ مې و دې خبرو ته فکر کېږي کله چې زما مشره خاله زما څخه تلل نو تندې تروش وو او خفه معلومیده او د تلو وخت کې کله چې زه غېږه کې ونېولم نو زما د غوږ څنګ کې کرار ویلې وه خدای دې پرده وکړه ددی خلکو سره! اوس تازه د هغې ددی خبرو پر معنا پوهیږم یعنې دوی د واده په همغه اول ورځ زما د خاله سره جنګ کړي وو؟ خو په څه دلیل؟ زما خاله داسې ښځه نه ده چې وغواړی د چا بې احترامې لا وکړې جنګ کول خو لری، حېرانه، پرېشانه او ډارېدلې په نالې ناسته وم او بدن مې د زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحشت څخه لړزېده چې عابد په تروش تندې دننه راغلو او زما په لېدو څهره کې یوڅه شرمنده ګې ښکاره شوه.

شاید هغه هم لدې چې داسې مور لری شرمېدلې وی؟ بغیر لدې چې څه ووایم لځایه پاڅېدم اودس مې وکړو او پر لمانځه و درېدم ټول لمونځ مې پر ژړا وکړې! عابد هم ناست وو او بغېر لدې چې څه ووایې راکتل، یاالله دا نو څنګه امتحان دي چې تا زه ورسره مخ کړې یم؟ یاالله زه دې عاجزه بنده یم که ته راسره مرسته ونکړې زه به هېڅکله د دې امتحان څخه بریالې را ونه وځم، تر ډېره هلته ناسته وم او د خدای سره مې د زړه درد شریک کوو او ژړل مې، او یو ځل بیا چې د خواښې چغې مې پورته شوی چې مثال د خبری مورې یې د سبا ناری ته بللو د لمانځه څخه پاڅېدلم خپل اوښکي مې پاکې کړې او بېرون ولاړم، میلمانه ټول تللې وه او د پرون د کسانو څخه یو هم نه تر نظر کېدو.خواښې مې داسې حال کې چې د قهر او غوسي څخه د انفجار حال کې وه په همغه غوسي باندې یې پیالې او ډوډۍ د دسترخوان په سر کېښودل..

البته باید ووایم چې غورځه ول! ځکه کېښودل هسې نه وی خپل د لېور په لېدو مې ژر خپل مخ پټ کړو، ځکه مورې رواج درلود د خاوند څخه بغېر د ټول سرپیانو څخه مو ستر کوو! که هغه د کاکا زوی وایې یا هم ماما یا خاله! او لېور خو هم نامحرمه وو نو ځکه ما ورڅخه مخ پټ کړو او داسې د عابد څنګ ته کښیناستم چې د لېور نظر مې راباندې ونه لوېږې، زما و دې مخ پټ کولو او ستر کولو ته زما د خواښي پام شو چې ناڅاپه زما خوا ته را برګه شوه او په غوسه یې وویل: وا وا دا نو څه نوي تماشا ده؟ دلته کوم پردي سړی ته وینې چې مخ ورڅخه پټ کوی؟

د هغې په خبره په بند، بند لهجه مې وویل: ه.... هغه ... م... مو.... رِ عادت نه یو چې د هلکانو مخکې بې حجابه راشو که هغه د کاکا زوی وی یا هم لېور...
زما په خبري زما خواښې داسې د غوسي څخه تکه سره شوه چې ما فکر کاوه دم په دمه به د ډېر غوسي څخه و چوې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوابښې- پردې هلک؟ دا ستا لېور دې، ستا د خاوندورور دی. او هو دا ذهنیت ستاسو خراب دی او شکي خلک یاست او فکر کوی که د کاکا یا ماما د زوی سره که روغبړ وکړی نو هغه به کومه اشاره او لین او دین جوړ کړی زموږ کورنی داسی نده شکر، نو پام به کوی که دی کورته زما وراره ګان راغله یا هم که خوریان مې راغله نو ته به ورڅخه مخ نه پټ کوی او په ورین تندی به ورسره سترې مشي کوی، خپل د مخ پټ کولو دا مردار رواج به زما په کور کې نه کوی.

د هغې په خبره یو دم هک حېرانه شوم، چې دا څه وایې؟ زه خپل د ماما او خاله زامنو سره لا سترې مشی نکوم او دا راته وایې چې خپل د خاوند د کاکا او ماما زامنو سره سترې مشی وکړم؟ په همغه حیرت مې د عابد و خوا ته وکتل چې شاید خپل د مور د خبری څخه انکار وکړی خو هغه همغسی سر ښکته اچولې وو او ډوډۍ خوړل! که څه هم د دا څو ورځو وړی وم خو د دوی خبرو داسې راباندې بده اغیزه وکړه چې د څه خوړلو پرته د سرخان څخه پاڅېدم! په همغه ګنګس او حېرلن حال باندې خپل و کوټې ته ولاړم، او سر مې پر بالښت کېښود زړه کې مې امېد وو چې شاید عابد راشي او خپل د مور خبری رد کړي یا هم ماته څه دلداری راکړی خو، د کور د دروازی په ټک او بیا د عبدالله زما د لېور په غږ چې ویې ویل الله دی مل لالا پخیر ولاړشې، ټول امېدونه مې د خاورو سره خاوری شول او اوښکي مې د مخ څخه په رابهېدو شول..

عابد بغېر لدې چې زما سره خدای پامانې وکړې پوهنتون ته ولاړی! هغه هم زموږ د واده په لومړې ورځ؟ کله چې په موبایل کې مو خبری کول د نامزدی وخت کې نو تل به یې راته ویل کله چې واده شوی او زموږ کور ته راغلې نو هر کله چې زه تلم پوهنتون ته نو ته باید د کور تر دروازی زما سره راشې او بیا د ښکلولو او غېږې راکولو وروسته ما په خیرو او خیرت رخصت کړې، او ترڅو چې زه د کوڅي څخه نه یم وتلې نو د دروازی سره به درېږې! خو اوس!؟ فکر مې کاوو کوم بل کس د هغه په ځای راغلې یو داسې کس چې زه یې نه پېژنم دا زما همغه مهربان او خوش اخلاق عابد ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره مې وژړل چې بلاخره زما قديمې ملګرې او دوست چې هر خوښي او غم کې زما سره وو راځرګند شو! لاس او پښې مې يخي شول او غوږونو کې مې همغه آشنا غږ وپيچل شو بنګ... بنګ ... او زه د بې خبرۍ نړۍ ته ولاړم کله چې لږ پر خود شوم سر مې درونډ وو او ټول بدن مې درد کوو. په ګنګس حالت مې شاخوا وکتل ترڅو پوهه شم کومه ځاې کې يم؟ د څو شېبو وروسته د يو چا په غوسه ناک او قهرجن غږ پوهه شوم چې کوم جهنم کې يم!
خوابښي- دومره آشنا او خپلوان راغله چې ناوې ووينې او ناوې د سهار څخه چې خپل کوټې کې ننوتلې تر اوسه نده راوتي، دېته يې مور او پلار د ميلمنو او عزت او احترام ندي زده کړې...

هغه لګيا وه او خبري کول او زه خپل په ځاي کې ناسته وم او ژړل مې، نه پوهېږم تر کله به همغسې په بستره کې ځملېدلې وم او ژړل مې چې د کوټې دروازه کراره خلاصه شوه، هېڅ غږ مې وانهورېدو خو د څو ثانېو وروسته خپل وځنګ ته د يو کس په کېناستلو مخ مې د هغه خوا ته وګرځه وو، او يوځل بيا مې زړه راډک شو او څو ځاځکي اوښکي مې پر مخ توي شول چې هغه کرار وويل: مه ژاړه ...
د عابد پدې خبره ژړا مې نوره هم زياته شوه، چې هغه لږ رانږدې شو او خپل لاس يې پورته کړو ترڅو زما ويښتيان زما د مخ څخه لرې کړې خو ناڅاپه مخکې لدې چې لاس يې زما ويښتيانو ته راورسېږې حالت يې بل شانتې شو او راڅخه لرې شو! د څهري رنګ يې سور والې ته نږدې کېده او داسې وو لکه چې کوم درد لرې؟

عابد- مور مې ويل د سهار څخه تر اوسه د کوټې څخه بهر نه يې تللې؟!
هېڅ ځواب مې ورنکړو او يوازې د اوښکو څخه په ډک نظر مې ورته کتل، زما د اوښکو په لېدو بيا د هغه تندې تروش شو اوبغير لدې چې څه ووايې يو څه يې زما خوا ته ونېول! کله چې ور ومې کتل نو کباب او ګرمه ډوډۍ مې تر سترګو شول، زيات وږې څخه مې معده پر تاوېدو را تاوېدو شوه، خو بيا هم بغير لدې چې ډوډۍ ته کوم پام وکړم عابد خوا ته مې وکتل چې هغه بغېر لدې چې زما و سترګو ته وګرې ډوډۍ کې کباب وپېچل او زما د خولې خوا ته يې را نږدې کړل خو زما د نظر په لېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې كرار وويل: پوهېږم خفه يې، پوهېږم زما د مور په خبرو غمژن شوی یی، خو هيلۍ زه همدا يوه مور لرم! هغې زموږ د لويه ولو لپاره زيات سختيانې ګاللې، لږ ورسره مراعات وکړه، لږ يې درک کړه، باور وکړه که د هغې په زړه لاړه شې نو وبه ګوري چې سومره مهربانه ده!

هېڅ مې نه ويل او په همغه نمجن نظر مې ورته کتل چې هغه په پريشانه حالت خپل ويښتيانو کې لاس تېر کړو او ويې ويل: اوس دی ډوډۍ وخوره، دا خبری به وروسته وکړو، رنګ دې پرېدلې همدا يوه ورځ کې داسې خرابه شوی یی لکه د کلونو مريضه چې يې!؟
غوښتل مې ورته ووايم ستا د مور له لاسه دی حالت ته رسېدلې يم، غوښتل مې ورته ووايم چې د ناوی توب په لومړی ورځ يې راسره بد اخلاقې وکړه، غوښتل مې ورته ووايم ستا د هغه بيځايه خاموشي چې خپل د مور په وړاندې کوې داسې حالت ته رسيدلې يم، خو د مور خبری مې ياد ته راغلل او هېڅ مې ونه ويل هېڅ ...
مور مې راته ويلې وه چې هغه د پلار کور ندې چې نازونه وکړې هلته چې څه درته خاوند وايې هغه به منې، ما هم خپل دا ټول خبرې زړه کې وساتل او د هغه په لاس کې نېول شوی ګوله کباب مې وخوړل!

زما پدی کار د هغه پر خوله مسکا راغله او د جان او قربان پر وېلو يې څو نور ګولې ډوډۍ هم راته ونېول، او د هر ګولې ډوډۍ راکول سره يې راته ويل"هيلۍ زما د مور خبره منه"هيلۍ زما د مور خيال ساته"هيلۍ زما مور ډېره ښه ښځه ده" هيلۍ زما مور او هيلۍ زما مور....
شايد نيم ساعت زما سره ناست وو او دی نيم ساعت کې يوازی او يوازی خپل د مور خبره راته وکړل او بس! د نيم ساعت وروسته يې موبايل ته زنګ راغلو داسې حال کې چې زما خوا ته يې د کباب يوه ټوټه نېولې وه موبايل ته يې ځواب ورکړو، چې د موبايل د هغه خوا څخه زما د خواښې غږ پورته شو چې ويل يې څه کوی هغه کوټه کې؟ ژر راشه درسره کار لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عابد هم د سمده درځم پر ویلو یې موبایل بند کړو، او په شرمناک نظر یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: لکه چې مور مې زما سره لږ کار لری ته خپل بوډۍ پوره وخوره زه ژر بېرته راځم.
هغه دا وویل او بغېر لدې چې بله کومه خبره وکړې د کوټې څخه ووت! حیرانه وم او هم غمجنه حېرانه پر دې وم چې زما خواښې ورته وویل چې څه کوی کوټې کې؟ او ژر راشه! دا نو څه معنا چې څه کوی کوټې کې؟ مثال د خبري زه تازه ناوی یم همدا پرون را واده شوی یم که زما خاوند زما کوټې ته راشې نو دی کې ستونزه څه ده؟ که زما سره وخت تېر کړې دي کې مشکل څه دی؟ او غمجنه پر دې وم چې زما خاوند هم بغېر د اګر او مګر څخه خپل د مور هره خبره منل!

خپل و څنګ ته په بوډۍ کې پیچل شوی کباب ته مې وکتل که څه هم وږی وم خو نور د خوړلو اشتها مې نه درلود، بېرته خپل پر ځاې پرېوتم او زړه مې راډک شو او سترګو څخه مې بیا اوښکې پر بهېدو شول، بیا د واده د لومړې شپی پشان عابد ناوخته کوټې ته راغلو او زما څنګ ته څملېدې! بغېر لدی چې یوه خبره وکړې یو څه ووایې همغسې ماته شاه کړل او څملېدې، د سهار تر آذانه مې خوب ونشو کړې او زړه کې مې بیحد خبری تلل راتلل چې اخیر ولې عابد دا رقم شوی؟ دی خو پخوا داسی نه وو! د مولا د الله اکبر سره پاځېدم ترڅو مونځ وکړم مخکې لدي چې خواښې مې بیا خپل چینجنې خبری شروع کړې، د لمانځه وروسته مې خپل ټېکرې په سر راکش کړو او خپل د واده په دویمه ورځ د کور پخلنځي ته ولاړم او په کار لګیا شوم!

وړه مې راوخیستل ترڅو خمېر یې کړم خپل د لاسونو څخه مې بنګړي او خپل د طلا ګوتمي مې لرې کړل خپل د نېکرېزو څخه سره لاسونو ته په کتلو مې ژړا راغله موږ رواج درلود تر یوه میاشت یا هم څلویښت شپو ناوي تور او سپین ته لاس و نه وهې، خو اوس زه خپل د واده په دویمه ورځ لګیا وم وړه مې خمیر کول! ترڅو د خواښي فریادونه او چغې مې بیا پورته نشي کرار کرار ټول راویښ شول زما په لېدو خواښي مې تندي تروش کړو خو څه یې ونه ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوډۍ مې تياره کړه سرخان مې هوار کړو چې عابد هم راغلو زما په لېدو هغه غمجن شو خو لدی چې د مور خوله يې بنده شوی وه او څه يې نه ويل، خوشحاله ښکاره کېده، بوډۍ وخوړل شول لوښي مې ټول کړل و مې مېنځل د عابد سره تر دروازی ولاړم ترڅو ورسره خدای پاماني وکړم هغه هم خوشحاله وو د خدای پامانی سره يې همدا يوه خبره راته کول د مور خيال مې ساته او خبره منه..

ما هم د سر په خوځولو ورته د سمده ځواب ورکړو چې د تلو مخکې هغه زما لاس خپل لاس کې ونېو او زه يې خپل خوا ته کش کړم د شرم څخه مې مخ تک سور شو او سترګي مې پټې کړل، پوهېدم چې غواړې ښکل مې کړې خو د څو شېبو وروسته چې هغه هېڅ کار ونکړو کرار مې سترګي خلاصې کړل چې د عابد د څهري په لېدو وډاره شوم! د هغه مخ بيا د پرون ماښام پشان تک سور شوی وو هغه په تلوار زما څخه لری شو او د خدای پامان پر وېلو په چټک قدمونو باندې زما د څنګ تېر شو!

حيرانه او پريشانه د دروازی مخکي ولاړه وم! دا څه چل وشو؟ د څو شيبو وروسته لږ پر خود شوم او د کور خوا ته روانه شوم د کور انګړ بېحد مردار وو د واده د ورځی څخه چې همداسې خيرن وو تر اوسه همغسې وو هېچا نه وو پاک کړې، جارو مې راواخيست او د انګړ په جارو کولو لګيا شوم، يو ځل به مې خپل د ناويتوب کالو ته وکتل او بيا به مې خپل په لاس جارو ته وکتل، عجب ضد او نقيض تضاد دی کنه! په بدو کې لا څوک که ناوی راوړی داسی کار ورباندی نکوی، هغه وخت زه! چې زما د غوښتلو لپاره يې قرآن زموږ د کور مخکې راوړی وه، داسی کار راسره وکړو؟

همغه ګډوډ فکرونو کې لګيا وم او انګړ مې جارو کوو چې خواښي او ايندرو مې د برنډی مخکې راغله او په خبرو لګيا شول..

خواښي- دا اوس زموږ له قصد انګړ جارو کوی ترڅو دا خلکو ته موږ وشرمه وی، او دا خلک ووايې نوی ناوی باندی کار کوی..

خپل د خواښي په خبره يو دم حک حيرانه شوم، او جارو په لاس ورته ولاړه وم!

يالله دا نو څنګه ښځه ده؟ دا ولی داسي کوی؟ چي کار هم کوم خبری کوی؟ او چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه یی هم کوم خبری کوی! زما ایندور هم د هغی سره لګیا وه او مخامخ یې ماته خبری کول د هغوی دا رنګ بداخلاقی او خبری دومره بد اغیزه راباندی وکړل چې جارو په لاس د انګړ مېنځ کې راوغورځېدم!

په درد سره مې سترګي خلاصې کړې، خپل کوټه کې وم او سر مې د عابد په غېږ کې وو او اندیښمن نظر باندی راکتل، د خبرو توان مې نه درلود بېرته مې پټې کړې، له خدایه مې غوښته چې سترګي پټې کړم او نور یې خلاصې نکړم، بدن مې داسی درد کو چې بی اختیاره یې زما له خولی د "اخ" غږ وباسه زما په غږ د عابد اندیښمن غږ پورته شو چې زما د حال پوښتنه یې کول خو ما ورته هېڅ ځواب ورنکړو او کوښښ مې وکړو چې د هغه د زنګون څخه خپل سر لری کړم چې همدی وخت کې زما د خواښی غږ پورته شو چې ویل یې: خدایه خپل د ګل پشان لور مې ورکړل چې د دوي کور او ژوند وروباندی خوندی وی، او هغه وخت دوی ماته خپل مریضی او ناروغه لور راکړل، یالله د زوی کور مې تباه شو، کور مې خراب شو، خاوری مې په سر شول..

د هغې د داسی خبرو په اوریدو ژړا مې راغله او د نفرت څخه په ډک نظر مې عابد خوا ته وکتل، ما ګیله خپل د خواښي او ایندور څخه نه درلود زما ګیله د عابد څخه وه! زمونږ خلک یوه خبره کوی وایې د پلار په کور کې عزت دی د پلار او مور په لاس کېدي، که مثال مور او پلار درته قدر درکړی نو وریندارګیان او ورونه هم قدر درکوی. همداسې د خسر کور کې عزت او احترام د خاوند په لاس کېدی که خاوند دی عزت او احترام وکړو نو خواښي او ایندورګیان هم کوی، او که خاوند دی ستا طرف ونه نېو او عزت یې درنکړو، نو دا نور یې خو له سر نه درکوی، په غوسه باندی د هغه د څنګ پاڅېدم او په بېحد خراب حال باندې په کمپل کې مې ځان وپېچو، د ټولو څخه مې کرکه راغله، هغه شپه مې په همغه بد حال تېره کړل خو سهار وخت خپل ځان مې تیار کړو او خپل د پلار کور ته روانه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواښي چې راځخه هرسومره پوښتنه وکړه چیرته ځې؟ او د ناویتوب دریمه ورځ چېرته روانه یې؟ خلک به څه وایي؟ هېڅ مې ورته توجه ونکړل او خپل د پلار کور ته ولاړم هلته په تلو د زړه درد مې نور هم زور واخیست! ځکه آمینه کراره ناسته وه او د ناویتوب مزی کول او مور مې لګیا وه یواځې ځان د کور کارونه یې کول! زه ذاتً بخیله او کنجوسه نه یم خو دا چې د دی مور پر ما دومره ظلمونه وکړل او دا داسی راحت او بیغمه په مزو او خوند کېده زړه مې درد وکړو او د دی سره مې هم د حسد او کیني احساس وکړو، خو ځانته مې وویل چې د مور عمل نه باید په لور باندې حساب کړو، زما په لېدو د مور رنګ مې وپربېده او په تلوار زما خوا ته راغله او ما په ژړا باندی هغه په غېږه کې ونېول، او د زړه د خلاصه مې ساندي کړي..

مور مې د زیات وېرې او وحشت څخه رپېدل او همدا یوه پوښتنه راځخه کول" څه شوی قربان دی شم؟ " او ما بغیر لدی چې کوم ځواب ورکړم های های ژړل، همدا چې لږ مې دمه راسته شوه او غوښتل مې ورته خپل د خواښي د کارنو او بد اخلاقیانو څخه ووایم چې زموږ د کور دروازه خلاصه شوه او خواښې مې زموږ کور ته راغله! د هغې په لېدو په وېرې سره مې خپل ځان مور ته نږدی کړو، ما ددی ښځي څخه وحشت درلود هغه راته د انسان په څهره کې شیطانه ښکاریده ما فکر کوو چې شاید دلته هم خپل بد اخلاقې او بد چلند ټولو ته څرګند کړي! خو د هغې په خبره خوله مې د حیرت څخه خلاصه پاتې شوه.

خواښي- خوری زه درته شرمنده شوم ته مو هم پدی سهار وختي ورخطا کړی، خو دا دوه ورځې کېږي چې د هیلۍ زړه ستاسو پسي تنګ شوی وو، او غوښتل راشی خو ځکه چې میلمانه وه او ټول راتلل د ناوی د لېدو لپاره نو ما ورته ویل مه ځه، خو نن د هیلۍ زړه دومره تنګ شوی وو چې بغیر لدې چې زما خبرو ته غوږ ونیسې راغله...

د هغې په دا رقم رسوا دروغو باندې که ووایم ښکر(شاخ) مې وکړو دروغ به نه ویې. د زیات حیرت څخه مې ژبه بنده شوی وه او خبره مې لانشو کولې، مور مې په همغه اندیښمن نظر یوڅه زما خواښي ته وویل چې زه پوهه نشوم بیا یې زما مخ ښکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو او کور ته ننوتلو، زه همغسې هک حېرانه او ګنګس حالت باندې د مور پسې شوم او خواښې مې هم زما پسې راغله، او دهلېز کې زما وځنګ ته کښیناستل چې ما خپل ځان خپل د مور خوا ته ټول کړو، نه پوهېدم چې ددې دا دوه مخې څه معنا لرې؟ او ولې داسې دروغ وویل؟ زما د پرېدلې رنګ په لېدو مور مې وویل:

مور- قربان دې شم ولې دې رنګ داسې پرېدلې؟ ښه خو یې؟
د دې څخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم زما خواښې تلوار وکړو او ویې ویل: وا خورې لکه چې زمونږ دوېدې مالګه نلرې، چې ته داسې وایې.
مور مې په تلوار وویل: نه ... نه زما مطلب داسې نه وو خدای دې نکوی، خو رنګ یې بېحد پرېدلې او لږ ستړې راته معلومېږي!
خواښې- خورې د واده کارونه دې ستړیا لرې یوه هفته تېره شې ان شاءالله رک روغه به شې.

مور مې داسې حال کې چې زما خوا ته په اندیښمن نظر راکتل زما د خواښې په خبره یې د شونډو لاندې یو ان شاءالله کرار زمزمه کړل.
چې همدې وخت کې آمینه په سور او سپین مخ چې د آریش څخه پرکېده دهلېز ته راغله او خپل د مور خوا ته ورغله، د هغې د ناویتوب په کالو او د بنګړیو څخه په ډک لاسونو مې اوښکې په سترګو کې راغله، چې مور مې هم لکه چې تازه و دې شیانو ته فکر شو چې کرار یې ما ته وویل: هیلۍ لاسونه دې ولې تش دې؟ د طلاو ګوتمې دې کومه دې؟
بیا هم د هغه بل ځل پشان زما خواښې ما ته د خبرو اجازه رانکړل او په تلوار او دروغجنې مسکا یې وویل: وا خورې د اوس وخت انجونې لکه چې ته نه پېژنې؟ او بیا هیله جانه! ویل یې دا بنګړې آوازونه کوی، او دا ګوتمې مې ګوتې خوږ کوې، په همدې بهانو او خبرو یې خپل د لاسونو څخه لرې کړل، ما ورته زیات وویل چې مه لرې کوه او د ناوې لپاره خالي لاسونه ښه ندې، خو د اوس وخت انجونې کله زمونږ سپین سرو خبرو ته غوږ نیسې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د خوابنې په خبره زما د مور تندې تروش شو او ماته یې وویل: لوري داسې کار څوک نکوی خپل د خوابنې خبره دی منه...
د مور پدی خبره چې راته یې وویل" د خوابنې خبره دی منه" عصاب مې سرچپه شول، یالله ما اوس څه بد کار کړی چې تېول راته وایې د خوابنې خبره منه؟ غوښتل مې په چغو، چغو ووایم چې دا ښځه په ظاهر محترمه څه شیطان صفته ده. خو د مور خبرو مې خوله بنده کړل، کله چې هغې خپل د ناوی تعریف وکړو، کله چې زما و خوابنې ته پداسی لور راوړلو د افتخار کولو وویل، کله چې خپله پاڅېدل ترڅو مورِ ته چای راوړی او خپل اینګور ته یې وویل خپل د مور سره مجلس وکړه، د مور دا تېول کارونه د دی سبب شول چې سترګي مې د اوښکو راډکې شې..

د آمني خوا ته مې وکتل آمنه د عمر له لحاظ زما د ورور څخه مشره وه! داسی حال کې چې زما ورور تازه ځوان وو خو هغه د عمر پخه معلومېده، همداسی عابد د هغه عمر هم زما څخه زیات وو، آمینه د قد او ښایست له نظر زما څخه کمه وه خو وګوره د هغې څومره قدر کیږی او هغه وخت زما؟؟ دلته د رحمان بابا هغه شعر راته تفسیر شو چې ویلې وه:

عقل مه غواره طالع غواره رحمانه
عقل مند د طالع مندو غلامان دی.

رښتیا هم مهمه طالع او بخت دی کنه زه څه کم لرم د آمني څخه چې دا دی داسی ونازول شی او هغه وخت زما سره دی داسی ظلم وشی؟ یواځې یو څه کم لرم "طالع" او بخت ...

تر غرمي د مور کور کې مې وم، او یو دقه لا خوابنې مې د مور سره یواځې پرېښودم ترڅو زه ورته خپل د زړه خبره وکړم! له بلخوا خپله هم پښیمانه شوی وم! دا چې د واده په دریمه ورځ راشم او مور ته مې ووایم چې داسي ظلمونه راباندی کوی! خلک به څه ووایې؟ بغېر له کوم شک چې تېول به زما خوا ته د ملامتي ګوته ونیسي او تېول به ووایې چې د واده په دریمه ورځ دا د خاوند د کور څخه راغلې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلار کور ته نو ملامته همدا ده! په همدي فکرونو په چوپه خوله د غرمي وروسته د خواښي سره د کور طرف ته روانه شوم، همدا چې کور ته ورسېدو نو بېرته همغه آش همغه کاسه! حیرانه وم، چې څنګه یو کس دومره دوه مخي کېدلې شې؟

زموږ د رسېدلو سره سم زما خواښي اول پر ما خوله خلاصه کړه او ښه یې کنځل راته وکړل بیا یې عابد ته زنګ ووهلو او په موبایل کې په چغو، چغو ورته وویل چې راشه خپل ښځه درکنټرلو کړه کنه د دنیا رسوا به دي کړي، د هغې پدي دوه مخې نور مې هم ورڅخه کرکه راغله او بغېر لدې چې څه ورته ووایم خپل کوټې خوا ته ولاړم او د هغې چغو پوغ ته چې ماته یې ویل نن به تا پر عابد داسی کوم، او هغسې کوم، او زه به تا انسانه کوم، هېڅ توجه مې ونکړل خپل پر ځاي کې پرېوتم او اوښکي مې پر بهېدو شول، یالله دا نو څنګه امتحان دی چې ته یې زما څخه اخلې؟ تخو پوهیږي خدایه چې زه د دومره سخت آزموینو او امتحاناتو نه یم بیا ولې ما داسې آزمایې؟

نیم ساعت به لا نه وو تېر شوي چې د کوټې دروازه په کلکه خلاصه شوه او عابد د دروازې په چهار چوکاټ کې راڅرګند شو، د ډېر خشم او غضب څخه یې د پوزې سرونه پړېدل، د سترګو څخه یې سم اورونه بادېدل د هغه شاته خواښي مې ولاړه وه او اور ته یې نور هم تېل او خشاک اچول ترڅو د عابد غوسه نوره هم زیاته کړي، عابد د کوټې دروازه بنده کړه او زما خوا ته راغلو او په کراره یې وویل: ولې زما د اجازې بغېر تللې وي خپل د پلار کور ته؟

د هغه په خبره لږ خوشحاله شوم او امید مې په زړه کې پېدا شو، ما فکر کوو خپل د مور په خبره به وکړې او د رارسېدلو سره سم به زما پر وهلو پیل وکړي! خو د هغه داسی پوښتنه کول زه لږ خوشحاله کړم، خو هغه خوشحالي مې زیاته دوام ونکړل، د هغه دویم لفظ زما ټول امېدونه د خاور سره خاورې کړل...

عابد- یوځل بیا.... یواځې یو ځل بیا که زه خبر شوم تا زما او زما د مور د اجازې بغېر د کور څخه بهر پښه کېخودلې وه، دا دواړه پښې دی درته قلم مات کوم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

عابد دا خبره وکړل او ویې نه لېدل چې زما زړه یې څنګه مات کړو، ویې نه لېدل چې زما غرور یې څنګه بوتې، بوتې کړو اوښکې مې بې اختیاره د سترګو څخه راونې شوی چې هغه خپل اخری ګوزار هم وکړو او ویې ویل: زما مور ما ته کعبه او مدینه ده! زه خپل مور ته احترام نه بلکې عبادت کوم که یوځل بیا! یواځې یو ځل بیا داسې کار دې وکړو خیر به دې نه ویې هیلی، زما خبری سم پر خلاص غوږونو وآوره...

***

یوه میاشت زما د ژوند د تباهي څخه تېرېده، یوه میاشت زما د زندان او دوزخ ته د راتلو څخه تېرېده، د هغه ورځې وروسته ما خپل خولې ته کشک نه بلکې باید ووایم قلف واچو او نور مې خپل د خواښي په وړاندې یوه خبره لا ونکړل، د سهار د مولا د الله اکبر سره به پاځېدم بول د کور کارونه به مې وکړل او د یوه نوکرې او کنېزی په توګه به مې خپل د خواښي د کوټې مخکې تر ماښام آذانه ولاړه وم! ځکه که ناري کړل همغه دقه ورته حاضر صیب ووایم او د هغې کار تر سره کړم. خو د دې دومره کارونو وروسته ماښام خوا ته به چې عابد راغلو نو دا به ورته لګیا شوه چې" زویه پښې مې درد کوی د زیات کارونو له لاسه" زویه ملا مې درد کوی د زیات کارونو له لاسه" زویه د ستړیا څخه د مرګ په حال یم د زیات کارونو له لاسه" او خلاصه د خبری عابد ته به یې د دروغو دومره زما شکایتونه او فریادونه به وکړل چې هغه به یې لکه ډک توپک زما خوا ته را حواله کړو..

او ما به چې هرسومره ورته قسمونه او قرآنونه اخیستل زما خبری به یې باور نه کوو، او ویل به یې زما مور ستړې ده او ته درسته ورځ کوټه کې پرته یې خوبونه کوې!

د هغوي پدی خبرو به زه ورته هک حیرانه شوم، چې یالله دا نو څنګه بندګان د دي؟ زه خو درسته ورځ لګیا یم لکه یو کنېزې پشان کار کوم بیا ولې داسې کوی؟ ولې ما خپل د زوی په ګېر ورکوی او هسې جنجال جوړ کوی؟ دا خبرو او کارونو دومره پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما بد اغېزه وکړل چې زما مرضتیا او ناروغي بېرته را څرګنده شوه او دا ځل بېحد په خطرناک او جدی توګه! داسې چې ورځ کې به یې دوه درې ځله ځاي ناځاي غورځېدم، اول دوه هفتو کې عابد به زما پدی حالت ډېر اندېښمن کېدو او ډېر به یې زما خیال ساتو خو کرار، کرار خپل د مور شیطاني خبرو ته غوږ ونېو چې ویل به یې ورته" ستا ښځه همداسې مریضي ده تر کله به ته ورپسی یې چې چېرته دا راغوځېږي؟ "دومره د ښځي غلام دې مه جوړېږه سبا ورځ به د ورور د پیغور به شې" دومره زنچو مه اوسیږه" دومره د ښځي تابع مه اوسیږه"

خلاصه چې دومره یې د عابد غوږونو کې یې دا خبری وکړل چې نور هغه هم زما خیال ساتل پریښودل، خواښي خو د واده اول ورځ باندی راسره دښمني راخیستې وه او ماته یې د اینګور په نظر نه راکتل، اوس یې د عابد زړه هم را څخه تور کړو، او دا کار زما د مرضتیا د لا بتره کېدو سبب شو هرځای چې به وغوځېدم نو څوک به نه راتلو چې سر لا راپورته کړې همغسی به پرته وم ترڅو خپله به په هوښ راغلې وایې او پاځیدلې وایې، کله به چې پاځېدم نو ځای ځای بدن به مې تور او شین وو! ځکه په ځان به نه پوهېدم کله به په د انګړ په کلک سمینټ غورځیدم او کله به هم د پخلنځي په خیرن فرش، خو د دی دومره خرابو حالاتو با وجود ما به خپل د خواښي، لېور او ایندرو ډېر ښه خیال ساتو ترڅو خواښي مې و چاته زما شکایت ونکړې..

سهار به د مولا په آذان پاځېدم او ماښام به د مولا د آذان سره کارونه مې خلاصیده د یو میاشت تېرېدو وروسته کله چې خواښي مې ډاډمنه شوه چې زه نوره ښه کنېزه شوی یم او نافرمانې نکوم، نو سهار به له کور څخه ووتل او ماذدیګر د عابد دراتلو څخه نیم ساعت مخکې به راغله خیال به یې راحت وو چې زه لکه یو وفاداره کنیزی پشان کور ساتم خو ای کاش همدغه کنیز توبی ته یې لا پریخودی وایې زه به همدی هم راضی وم خو دا به چې کله راغله نو عابد ته به یې شیطانت کوو او ویل به یې چې زه درسته ورځ د کور کارونه کوم او ښځه دی زما مرسته نکوی..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عابد به هم خپل د مور خبری اورېدل او زما څخه به خفه کېدو او ویل به یې: مور مې ستا څخه شکایت کوی ته ولی کار نه کوی؟ تل مې په مور کار کوی. هغه به هېڅ نه کتل چې د رښتیا کار څوک کوی؟ یوازې به یې خپل د مور خبری اورېدل، ما به ورته خپل سپیناوی کوو او ویل به مې چې اصل خبره څه ده؟ خو هغه به نه منله او یوه خبره به یې تل راته کول: زه خپل د مور لپاره ستا پشان سل ښځو څخه هم تېر یم، ته خو لا یوه یې ...

په همدی بد حال کې راته د پلار کور د ناویتوب بوږ. وکړل، داسی میلمستیا چې زما یاد کېدې ندې چې زه کله ورغلم او کله ورڅخه راغلم؟ شاید یو ساعت به یې لا زه هلته نه یم پریخودلې او ژر یې بېرته کور ته راوړم، د عابد د کاکا او ماما کورنو هم ما ته د ناویتوب میلمستیا وکړل خو عابد نه خپل ورغلو او نه یې هم زه پریخودلم، نه پوهېږم شاید عابد او زما خواښې ډارېدل چې زه به د دوی اصلي څهره خلکو ته وښایم! نو ځکه یې کور کې لکه زنداني ساتلې وم. خو د دی ټولو خبرو سره یو بل موضوع بېحد زما فکر خراب کړې وو او هغه وو د عابد لری والې زما څخه!؟ زموږ د واده څه کم او زیات دوه میاشتي تېري شوی وه خو دی دوه میاشتو کې په عام اصطلاح زه د عابد سره په یوه کوټه کې د خور او ورور پشان اوسېدم! یعنې هغه هېڅ تمایل او احساس زما خوا ته په راتلو کې نه درلود!

خپل ځاي به یې زما څخه دری متره لری واچوه چې حتا زما بوی لا ورباندې و نه لږېږي! د هغه دا کار به زما ذهن کې سلګونه فکرونه را برسېره کول، چې هسې پر بل چا خو مئین ندی چې زما څخه یې بد راځي؟ کوم تکلیف خو نلری چې داسې لری والې کوي؟ زما د بدن او ځان څخه خو یې بد نه راځې چې داسې کوی؟ خو دا ټول پوښتني به مې بې ځوابه پاتې کېدل تر دی چې یوه شپه د ژمي یخه شپه وه ساعت لس بجو شاوخوا وه چې د تل پشان بحث د کارونو په نه کولو او د هغه د مور په سترېیا راپورته شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ما چې هرسومره ورته وویل چې داسی نده او مور دی دروغ وایي هغه زما خبره ونه منل او اخیر سر داسې خبره یې راته وکړل چې زما زړه یې د دی ژوند او ددی کور څخه تور کړو، زه هم په ژړا پاڅېدم د کوټې ګروپ مې مړ کړو او کمپل مې په سر کش کړو، نه پوهېږم تر کله به مې د کمپل لاندې ژړلي ویې چې بالاخره خوب د غفلت نړۍ ته وړی وم..

خپل په نس کې د نرۍ،نرۍ درد په درلودو له خوبه راپاڅېدم، اول مې فکر وکړو چې شاید د میاشتني مریضي درد وی، خو یاد ته مې راغله چې زه دوه ورځي مخکې فارغه شوم بیا دا درد د څه دی؟ تر څو دقیقو د دی څنګ څخه په هغه څنګ شوم او د هغه څخه پدی، چې شاید درد مې لمېنځه لاړ شي خو نه د وخت په تېرېدو نور هم زیات کېدو اخیر مجبوره شوم او ځاي کې مې کښیناستم د ډېر درد څخه مې زړه غرق،غرق کېدو په سل جبر او زحمت مې ځان د عابد د ځای خوا ته کش کړو او کرار مې ورباندې غږ کړل.

– عابد... عابد...
عابد- هوممم څه دی؟
د ډېر درد څخه ژړا راغلې وه زما د ژړا په غږ هغه لږ ورخطا شو او لځایه پاڅېدو.
عابد- څه شوي؟ څه خبره ده؟
د ډېر درد څخه راباندې بې هوښی شانتې راتله یواځې دومره مې وویل چې "اوبه" او نوره د ډېر درد څخه بې هوښه شوی وم، په مخ مې د اوبو د څاڅکو پر شېندلو په هوښ راغلم چې عابد مې ورخطا خپل وڅنګ ته ولېده.
په ژړا مې ورته وویل: زه بېحد درد لرم ما ویسه ډاکټر ته.

عابد- پدی نیمه شپه؟ لږ اوبه وڅښه ښه به شې.
د ډېر درد څخه په زاریو شوم ورته او ومې ویل: خیر دې مور دی راویښه کړه، لاړشو ډاکټر ته زه درد لرم.
عابد- نه ته اوس ښه کېږې هغوي وېده دې ولې خوب ورخراب کوي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېر درد څخه نه پوهېدم چې څه وکړم د لومړې ځل لپاره مې د هغه لاس ونېو او په ژړا مې ورته زاری پیل کړل ترڅو خپل مور راویښه کړې او ډاکتر ته لاړشو، زما د داسی حال په لېدو عابد یوڅه زړه کې د رحم اوبه راغلې او ولاړې ترڅو خپله مور راویښه کړې، زه همغسې د زیات درد څخه د مار پشان خپل پر ځان پېچېدلم چې عابد او مور یې کوټې ته راننوتل..

زما خواښي په تروش تندي کوټې ته راننوته، او همدا چې خبرو ته یې خوله جوړه کړل زما د حال په لېدو خاموشه شوه، او په تلوار زما خوا ته راغله نه پوهېږم زما حالت په تر کومه حد خراب وو چې دی ظالمې ښځي لا زما مراعات وکړو؟ خواښي مې ژر بخاري ته اور واچو ترڅو کوټه ګرمه کړې، نه پوهېږم د کوټې د ګرم کولو سبب څه وو؟ خو هغې مثال غوښتل د بخاری په بل کولو زما حالت ښه کړی؟ خو زما درد نور بېخې له حده زیات شوی وو او د ژړا لځایه مې چغې وهل.

عابد- موری ویې به یې سو ډاکټر ته؟
خواښي- نه ډاکټر ته ضرورت نشته ښه به شې لږ صبر وکړه.
خپل د خواښي د خبری اورېدو وروسته په ژړا مې ورته وویل: زه نه ښه کېږم ته وخدای ما ډکتر ته ویسې، دا یوه هفته کېږي لږلږ درد مې درلود خو اوس د حد زیات شوی.
خواښې مې په تروش تندی وویل: په دومره لږ درد پدی نیمه شپه ډاکټر ته تلل څه معنا؟ لږه ګرمه شې ښه کېږې..
د هغې د دی خبرو د اورېدو وروسته، چې ویل یې ډاکټر ته تګ نشته نور مې نه د هغې څخه مرسته وغوښته نه هم د هغي و څنګ ته ولاړ په نامه خاوند څخه، او په چغو، چغو مې ژړا پیل کړل او ویل مې:

— وه موري مړه شوم چېرته یې؟ وه ظالمانو یا مې ویسې ډاکټر ته یا مې مور او پلار راخبر کړې، وه پلاره مړه شوم... وه مورې..
ما همداسې چغې وهل او د درد څخه رېږدلم چې خدای د دوي په زړه کې لږ رحم

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچو او زه یې ډاکټر ته ویورم، نه پوهېږم چې زه یې کوم ځای ته ویورم خو زما په نظر خو شفخانه نه راتلل؟ ځکه مثال د خبرې زه چې د ډېر درد څخه د مرګ حال کې وم بغېر لدې چې کوم چک آپ مې وکړې یا کوم پوښتنه راڅخه وکړې یو د درد سېروم راته ولګوه او رخصته یې کړم! په همغه بد حال بېرته کور ته راغلو! ټوله شپه مې په درد او ژړا تېره کړل، د مولا د آذنو وخت وو چې د عابد موبایل ته زنګ راغلو!

پداسې حال کې چې ما درسته شپه د درد څخه په ویښه تېره کړې وه هغه کرار خوب کړې وو، بغېر لدې چې زره اندازه لا زما و ژړا ته کومه توجه وکړې؟ زه د ډېر درد څخه بېخوده وم او سم نه پوهېدم چې څه خبره ده او څه حال دې؟ همغسې خپل ځای کې پرته وم چې عابد مې څنګ ته کېښیناست، سترګې مې نیمې خلاصې کړې او د هغه تروش تندې ته مې وکتل هغه په غوسه باندې خپل د لاس موبایل زما خوا ته ونېو او ویې ویل: مور دې غواړې درسره خبرې وکړې.

دومره مې حال خراب وو چې حتا خپل د مور سره د خبرو کولو حال کې نه وم، د هر ساه اخیستلو سره مې درد د بدن ځانګې،ځانګې ته خپرېده او حتا زما د خبرو کولو توان یې لا راڅخه اخیستې وو، عابد چې کله زما بد حال ولېده نو موبایل یې زما د غوږ څنګ ته کېخود او ما د مقابل کس د غږ په اورېدو اوښکې د سترګو څخه په بهېدو شول..

مور- الو هیلۍ؟ لورجانې ښه یې؟
یواځې مې یو لفظ ورته د خولې ووت: مورې....
دومره کرار مې دا لفظ ووایو چې ما خپله لا وانهورېدو خو هغې لکه چې واورېده چې ویې ویل: جانې مورې! ښه خو یې؟ ټوله شپه ما او ستا پلار ته په خوب کې لېدلې یې! خیرت خو دې؟
د هغې پدې خبره ژړا مې زیاته شوه، رښتیا ویلې چې د اولاد درد مور او پلار احساس کوې هغوې زما درد احساس کړې وو، چې داسې زه یې په خوب کې لېدلې وم، زما د ژړا په غږ د مور ورختا غږ مې د موبایل د شا څخه راغلو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور- څه شوي هیلۍ؟ ته ولې ژاړې؟ خیرت خو دې؟
یوازې دومره مې ورته وویل چې موری مرم د درد څخه، نور عابد موبایل بند کړو او بد بد یې راوکتل، شاید غوښتل یې د تل پشان راته خبرې وکړې او کنځل وکړې خو زما د بد حال په لیدو یې څه ونه ویل او لځایه پاڅېدو، پر ما هم د ډېر درد څخه بې هوښي راغلې وه او نه پوهېدم چې دی مېنځ کې به سومره وخت تېر شوې وو چې ناڅاپه د کلا دروازه په کلکه، کلکه وټکول شوه...

د سترګو له کونج مې ولېده چې عابد د کوټې څخه ووت، خو هېڅ کومه خاصه توجه مې ورته ونکړل، خپل د حال په لیدو مې له خدایه غوښتل چې روغه مې نکړې! او دغه درد زما اخري درد وګرځه ویې، زړه کې مې دعا کول چې خداې مې د دې منحوس او بد مرغه نړۍ څخه واخلې ترڅو هم زه بیغمه شم او هم دوي خپل په کړې کارونو پښېمانه شي، په همدې فکرونو کې وم چې یو ګرم مردانه لاس مې خپل پر مخ احساس کړو! فکر مې وکړو چې شاید عابد وی؟ خو ځان سره مې وویل هغه کس چې ټوله شپه چې پر تا د مرګ پشان تېره شوه یو نظر لا درته ونکړو اوس راځې ستا پر مخ لاس وهې؟ په همدې فکرونو مې خپل سترګو ته زور ورکړو ترڅو خلاصی کړم او د لاس صاحب وپېژنم؟!

خو د سترګو خلاصه ولو مخکې د هغه مهربانه غږ زما غوږونه ونازه ول..
پلار- هیلۍ بچیه؟
کرار مې سترګي خلاصې کړې چې پلار مې خپل و مخ ته ولېده د هغه وخنګ ته مې مور ناسته وه، او کوټه کې د نور غوږونو په اورېدو پوهه شوم چې ورونو مې هم ځان رارسه ولې، د هغوې په لیدو مې سترګي د اوښکو راډکې شوی او ژړا ته مې شروع ورکړه، چې پلار مې ورختا وویل: څه شوی ... څه شوی درد لری؟

او بیا بغیر لدی چې زما ځواب ته په تمه شې لځایه پاڅېده او د عابد خوا ته چې د کوټې کونج کې ولاړ وو ورغې او د هغه څخه یې پوښتنه وکړل: څه شوی ډاکټر ته مو ویوړل څه یې ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عابد په بې پروای وویل: هېڅ! ډاکټر ورته یو سېروم تېر کړو ویل ویسې کور ته ښه کېږي.
ورور- دا څنګه ښه کېدل دی؟ دا کوم خر ډاکټر وو چې داسې ویلی؟ بغیر د کوم معایناتو او آزمایښتو څخه څنګه په دومره درد کې تاسو رخصت کړې یاست؟
بیا زما خوا ته راغلو او ویې ویل: شاید ام پنډس ویې د کوم وخت راهیسې درد لری؟ باید ژر تر ژره یې ویسو ډاکټر ته که ام پنډس ویې امکان لری خدای نکرده وچوي او ...

د ورور خبره مې د مور ژړا او د پلار په کلکه لهجه نا تمامه پاتې شول.
پلار- داسې بېځایه خبری مه کوه شابه موټر راوړه چې لاړشو ډاکټر ته.
ورور مې په تلوار له کوره ووت او مور مې زما لاس خپل لاس کې نېولې وو او ژړل یې، داسې خراب حال کې ناڅاپه عابد وویل: ښه نو حاجې صیب تاسو چې هیله وړی ډاکټر ته نو زما خیال هم راحته شو زه به هم په بیغمه خیال خپل پوهنتون ته ولاړشم.
د هغه پدی خبری ما په همغه بد حال کې پوسخند و واهه، خو لکه چې پلار مې د هغه د خبری په مطلب سم پوي نشو چې په ګنګس انداز یې وپوښتل: څه وکړی؟
د پلار په پوښتني مې عابد په بې حد بې ادبې کې وویل: تاسو خپل لور وېسې ډاکتر ته زه هم کار لرم، دومره نه یم بېکاره چې دا مریضې هره ورځ ډاکټر ته ویسم.

عابد دا خبره وکړل او د کوټې څخه ووت ما اوښکي توې کړې، خواښي مې خپل د زوی پسې له کوټې ووته خو د څهری څخه خوشحاله ښکارېده! خو ... خو بېچاره زما پلار او مور چې د عابد او د هغه د مور د داسې رفتار و خبرو څخه هک حیران ولاړ وه! ورور مې ډېر ژر موټر راوړو او پلار مې داسې حال کې چې زه یې له اوږی څخه نېولې وم تر موتر ویوړم، نه پوهېږم د خلکو د شرم څخه وو او که کوم بل څه خو هر څه چې وو خواښي مې هم زموږ سره راغله! خو عابد رانغلو، پلار مې زه یو شخصی شفخانې ته ویوړم او هلته په رسېدلو هغوې زه بیستري کړم او د نیم ساعت په موده کې زما زر رقم معاینات او آزمایښتونه واخیستل، بلاخره د نیم ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرګردانۍ وروسته ډاکټرانو د معایناتو څخه دا نتیجه راویستې وه چې زما رحم کې دانه ده او زه باید ژر تر ژره عملیات شم کنه هغه دانه د چوېدلو حال کې‌ده، او که وچودل نو زهر به یې زما ټول وجود کې خپور شي او د مرګ امکان لری!!

خو ما نه منله او مخالفت مې کاوو ما ویل په ګولۍ او دواګانو ښه کېږم عملیات نه کوم، مور او پلار مې چې زما نه زړه توب ولېده نو یو بل ډاکټر ته ولاړو ترڅو باوری شی چې ایا ددی ډاکټر خبره صحیح ده او کنه؟ هغه بل ډاکټر هم ځانته په لیاقت کې نوم درلود هلته چې ورسېدو هغه هم د معایناتو د کتلو وروسته د لومړي ډاکتر خبره تکرار کړل او ژر تر ژره یې د عملیات کولو وویل کله چې ډاډمن شوم چې د رښتیا هم بغېر د عملیات کولو څخه بله چاره نلرم نو خواښي ته مې وویل چې عابد ته ووایه چې راشي! یو خو د دی لپاره چې د عملیات کولو لپاره د خاوند لاسیک او اجازی ته اړتیا وو او له بلخوا که څه هم زما حق کې ظلم کوو او د خاوند یو حق یې هم نه ادا کوو خو بیا هم خاوند مې وو، او دا هغه حقیقت وو چې ما ورڅخه په هېڅ توګه امکار نشو کولې، خواښې مې عابد ته زنګ ووهلو او مور ته یې وویل چې راځې په لاره کېدې

خو ترڅو چې هغه راتلو ډاکترانو مور ته دومره منفي خبری او د داني د چویدو وویل چې پلار مې مجبور شو د عابد لځایه لاسلیک وکړی او د ټول مسئولیتونو پر غاړه اخیستلو سره یې زه د عملیات خونې ته واستولم، ترڅو چې عابد راتلو زه د چاقوګانو څخه تېره شوی وم، دوه ورځې په شفخانه کې بستره وم او د ډاکترانو د نظر لاندې، د دوه ورځو وروسته ډاکترانو رخصت راکړو خو د یو لیست فرمایشاتو او خبرو سره، کار به نکوی، تر یوه میاشت به مطلق استراحت کوی، سم ډوډۍ به خوری، خپل زخم به سم ساتي چې میکروبي نشې، هره ورځ یې پانسمان بدل کوه، یوه هفته وروسته یوځل بیا ضرور راشې، د هغه ډاکټر د فرمایشاتو په اورېدو خندا راتله! ماته یې ویل مطلق استراحت وکه؟ هغه هم چیرته د خواښي کور کې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عابد مې د دی دوه ورځو بستر کېدو په موده کې یوځل لېدلې وو، هغه هم زما د کټ څخه په دری متره فاصله کې د کوټې کونج کې ځرېدلې سر ولاړ وو! شاید ۱۰او یا هم پنځلس دقیقې! بیا د هغه ورځې څخه تر همدا نن مې ندې لېدلې ډاکټر فرمایشات چې خلاص شول مور مې مرسته راسره وکړل او بیرون راووتلو، د باندې د شفخانی په سالون کې خوابنې مې په تروش تندی په څوکۍ ناسته وه د هغې په لېدو پلار مې د مور غوږ کې یوڅه وویل او مور مې زما اوږه خوشی کړل او څو ګامه زما د خوابنې خوا ته نږدی شول، زما بدن کې دومره توان نه وو چې خپل پر پښو ودرېږم پلار مې راته تکیه راکړې وه او زه یې نېولې وم.

خو د دې څخه مخکې چې مور مې خوابنې ته کوم څه ووایې د شفخانې سالون د طالبانو څخه ډک شو! دهغوی په ناڅاپه لېدو ما هم د دې ټول نور انجونو پشان د هغوی په راتلو وحشت وکړو، ځکه یو دوه دانې نه وه بلکې په ناڅاپه توګه لس پنځلس دانې زمونږ خوا ته راغله زه په وحشت او ډار باندې خپل د پلار خوا ته نږدې شوم، خو پلار مې زما د غوږ څنګ ته کرار وویل: مه وېرېږه دا ټول ستا د جبار کاکا ملګری دی( جبار کاکا زما د پلار صمیمی ملګری وو، البته د ملګری څخه لا زیات ورته نږدی وو بیخې ورته د ورور پشان وو)

په ګنګس انداز مې د پلار خوا ته کتل ترڅو د هغوې د دلته راتګ دلیل راته ووایې؟ خو د دی څخه مخکې چې پلار مې کومه خبره وکړې هغوې راورسېدل د هغوی مېنځ کې جبار کاکا هم وو ما دماشومتوب څخه جبار کاکا پېژنده، موږ ته په نږدې راتلو هغوی زما د پلار سره ستړی مشی وکړل او جبار کاکا پداسې حال کې چې یو مهربانه مسکا یې په خوله وه ویې ویل: اوس څنګه یې لور جانې؟

ما د زیات شرم څخه سر ښکته واچو او یواځې د سر په خوځولو مې د ښه یم خواب ورکړو، چې جبار کاکا وویل: د شفخانې د څنګ څخه تېرېدو نو ما ویل یو سر دی خوا معلوم کړم چې تللې یاست یا هم تر اوسه شفخانه کې یاست؟
پلار- همدا اوس کرار کرار د تلو اراده مو درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبار کاکا- اها زه پخیر ولاړشي نو زه مو ډېر په پښو نه دره وم، ماشومه د ډېر درېدو توان نلری، ان شاءالله یو بل وخت به یې راشم پوښتنې ته. او هو که وینې یا هم کوم بل شي ته ضرورت ولری نو غاړه دی بنده که ما ته ونه وایې...

پلار مې د هغوی سره لږ نوری خبری هم وکړل او بیا ورڅخه اجازت واخیست او موږ د هغوی څخه روان شو، موټر کې زه تازه پوهه شوم چې هغه دومره کسان او کاکا جبار ولې هلته راغلې وه زما ملاقات ته؟ د عملیات وخت کې په ناڅاپه توګه زما وینه کمه کېږې او ډاکتران وینه غواړې خو زما د پلار وینه زما سره سمون نخوری او زما کوم ورور چې زما سره راغلې وو د هغه وینه دومره نه وه چې ماته راکړې، او عابد خو هم ... که وینه یې ماته شوی هم وایې بیا هم زه ډاډمنه یم چې نه یې راکول! نو ځکه پلار مې جبار کاکا ته زنګ وهلې وو..

او جبار کاکا هم چې دا څو وختو کې زیات د طالبانو سره ورشه درشه جوړه کړې وه، هغه هم خپل یو څو ملګرو ته دا خبره کوی او په بېحد حیرت کې لس دولس طالبان راځې شفخانې ته ترڅو ماته وینه راکړی؟ او د هغه څخه لا د حیرت خبره دا چې د دوي په مېنځ کې یو ځوان طالب ما ته 2000 سې سې وینه هم راکوی! عجیب حس مې درلود ځان سره مې ویل یعنی اوس زما په رګونو کې د یو طالب وینه ګډه ده؟ هغه طالبان چې په راتلو او د ښونځي پر بند کولو یې ما د تباهې او بربادی دعاګانې ورته کولې؟ یعنې نن همغه طالبانو ما ته وینه راکړل او زه یې له مرګ وژغورلم؟! د رښتیا هم نړۍ د عجایبو څخه ډکه ده ..

د کور مخکې ورور مې موټر ودره وو، د مور په مرسته له موټر څخه ښکته شوم چې نظر مې د خوابښي د کور په خړه رنګ تللې دروازه ولګېده! اه خدایه بیا دا دوزخ؟ په نامیده نظر مې د مور و پلار خوا ته وکتل غوښتل مې ورته په جغو،چغو ووایم پلاره ما دلته مه پرېږده زه دلته مړه کېږم! خو لعنت، لعنت دی پر دی دود او کلتور شې چې زما خوله یې بنده کړه او په ځورېنده سر کور ته ننوتلم، مور مې راته ځای صحیح کړو او زه پرېوتم پلار مې راته دلداری راکړل او ولاړې خو مور مې راسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې شوه، تر غرمې ښه وم خو ماذدیگر خوا ته مې نس بېحد درد شروع کړو، ډاکټر راته د درد پېچکاری راکړې وه او ویلی وه که درد دی زیات شو نو وېکړه، مور مې عابد ته غږ وکړو ترڅو راته پېچکاری وکړي او هغه هم په تروش تندی بغېر لدې چې ماته وګوری یا کومه پوښتنه وکړې ببچکاری وکړل او ولاړې..

د هغه پداسې بې پروا رفتار مور مې په مشکوک او اندیښمن نظر زما خوا ته راوکتل خو ما مې مخ واړو او کمپل مې په سر کش کړو، درسته شپه مور مې څنګ ته ناسته وه او زما د نامنظم ساه اېستلو سره به یې لا پوښتنه کول چې ښه یې؟ درد خو نلرې؟ اه د ربښتیا هم مور د خدای یو لوی نعمت دی، د مدرسې د معلمې یوه خبره مې یاد ته راغله هغې به ویل یو ماشوم خپل د مور څخه پوښتنه وکړل چې موری ولې جنت ستا د پښو لاندی دی؟ او ولې ستا په لاسونو کې ندي؟ نو مور یې ورته په خندا وویل: هغه ځکه چې لاسونو کې مې ته نیولې وې، او اوس چې فکر کوم دا خبره یو دم راته صحیح معلومېږې څو شپی مخکې په همدې ځای کې زه د درد څخه د مرګ په حال وم خو چا زما څخه پوښتنه لا ونکړل چې درد لرې؟

خو اوس زما د نامنظم ساه ایستلو سره مور مې سر راپورته کوو او پوښتنی کول چه ښه یم او کنه؟ شې ته اړتیا لرم او کنه؟ د سهار د لمانځه وروسته چې ما پر ناستو وکړو زړه مې لږ ډوب شو او ویده شوم، د مور او خواښې په غږونو سترګې مې خلاصې کړې.

مور- خوری پرون لا د هیلۍ پلار ویل چې که ته او عابد جان اجازه ورکړې نو موږ به هیله ویسو خپل و کور ته! ځکه ته خپله هم بوډې او مریضه ښځه یې او یو عملیات شوی انجلۍ نشی ساتلې، دا ولاړه او ناسته غواړې، خدمت او کار غواړې، نو که ستا اجازه وی موږ به هیله ویسو خپل کور ته ترڅو ښه کېږې..
د مور په خبرو مې د خواښې تندې تروش شو او د څو شیبو خاموشی وروسته یې وویل: که وړې ویسه کومه ستونزه نشته ویسه، خو ها! کله چې دی خپل لور ویوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زما لور راوستوه ترڅو زما خدمت وکړی بیا یې د شونډو لاندې وویل: هسې هم د دې څخه ما خیر ندې لېدی دی دوه میاشتو کې...

خوابښي مې دا خبره وکړل او د کوټې څخه ووتل، مور مې هک حیرانه د هغې تلو ته کتل خو زما سترګو کې اوښکي راغلي، یالله دا څنګه بندګان د دی؟ دا ولې داسې کوی؟ د غرمې وروسته مور مې ورور ته زنګ ووهو او هغه زمور پسی راغلو او زه ولاړم خپل د پلار کور ته همدا چې زه خپل د پلار د کور په دروازی داخله شوم آمینه ورڅخه راوتلل! زه په تمه وم چې یو پوښتنه راباندې وکړې چې وریندارې ښه یې؟ عملیات دی پخیر تیر شو؟ خو نه هغې زما څخه مخ واړو او بغیر لدې چې څه ووایې په تروش تندې زما د څنګ څخه تېره شوه، د هغې پدی کار مې سترګي د اوښکو څخه ډکې شوی، او د ورور تندې مې هم تروش شو! داسې ښکارېدل لکه چې دوی دواړو مېنځ کې کومه خبره شوی وه، ځکه ورور مې خفه ښکارېده.

مور مې اوره ونېول او کور ته یې دعوت کړم، مور مې ماته زما په پخوانې کوټه کې ځاي چمتو کړو، خو پر نالې باندې څملېدل راته یوڅه سخته وه ځکه بېرته پاسېدل راته ستونزمنه وه پلار مې راته کټ راوغوښت او هلته یې راته ځای سم کړو، عجیب احساس مې درلود ...

د څو میاشتو وروسته خپل کور او خپل ځاې ته راغلې وم، خو ښه احساس مې نه درلودا نه پوهېږم ولې؟ زما د راتلو سره سم زما خوابښي ټول کلي کې دا خبره خپره کړې وه چې زه مې مور او پلار د روغتون څخه بغېر د دوی د اجازی څخه خپل کور ته وړې یم؟ زه اوله کې پوهه نشوم چې ولې خوابښي مې داسې خبره ټول خلکو ته کړې؟ خو وروسته د مور د خبرو څخه لږ، لږ پوهه شوم چې زمور د خوابښي خپلوان یو رواج لری چې د مریض کور ته چې کله ځې نو هغه مریض ته پیسي او خوراکي شیان ویسي؟ او زما خوابښي هم پدی خفه وه چې زه ولې د پلار کور ته تللې یم او دا پیسي او خوراکي شیان د دی د لاس څخه وتلې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پلار چې کله د دې خبرو څخه خبر شو نو زما خواښې ته يې بېحد زيات خبرې وکړل او ورته ويې ويل چې زما لور ستا د خيرات او سوال وسيله نده چې ته وربانديې وغواړې د خلکو څخه چنده ټوله کړې! زما د پلار دا خبرې زما پر خواښې بېحد بده لګېدلې وه، خو زما په نظر زما پلار ښه خبره ورته کړې وه! خو هغوې هم ملامت نه وه! زما پلار تل مور ته يوه خبره کول او الحق چې ښه خبره وه، هغه تل ويل: په نړۍ که دوه ډوله خلک اوسيږي يو غريب خان او بل خان غريب؟ مطلب يو نفر به دومره وسه او پيسې نلرې خو زړه به يې بېحد لوی ويې او سم د خانانو اخلاق به لرې، خو ځيني کسان به پيسي لرې او بيا به هم ځانونه سوالګر، سوالګر کوی دا کسان اصل کې ذات يې غريب او وړې دی که دوېته د نړۍ ټوله شتمني هم ورکړې دوی به بيا هم همغسې وږې سترګې نېولي وي!

لکه زما د خواښې! د هغوی اقتصادی حالات تر دې حد هم خراب نه وو خو بيا هم هغې عادت درلود چې د شاوخوا کورونو څخه ورسره مرسته وشې! او شايد د دی عادت يو غټ ترېنه دليل دا وو چې دا کونډه وه! او تل عادت يې درلود د خلکو د کورنو څخه ځان ته شيان وغواړې،او اوس چې خدای پيسي هم ورکړې بيا هم همغه عادت يې په ذهن کې پاتې دی! زه پنځلس شپې خپل د مور کور کې پاتې شوم داسې پنځلس شپې چې پر ما باندې د پنځلس سوه کالو پشان تېر شول، پدی موده کې د عمليات د زخم سره ساه بندون "نفس تنګي" هم راپيدا شول، داسې ساه بندي چې په نرمال توګه مې ساه نشو اخيستې،

او ورور مې مجبور شو راته د اکسيجن کپسول يا هم همغه ډبه راوړې او زه د ورځې يو يا هم دوه ځله د هغه ډبې څخه ساه واخلم..
داسې حال کې چې مور، پلار، ورونه، کاکاګان او ټول کورنۍ مې په خدمت کې وه او زما هر خبرې ته يې د "هو" سرونه خوځول بيا هم ما بد احساس درلود او بېحد خفه وم! او زما د ټول خفګان او غمژن کېدو سبب لومړې عابد او بيا د هغه کورنۍ وه! پدې پنځلس ورځو کې هغه نه پر ما يوه پوښتنه وکړل؟ نه يې يو مسج وکړو؟ نه يې يو زنګ ووهلو، هغه هېڅ کار ونکړو داسې لکه چې زما مرګ او ژوند ورته بيخې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر مهم نه وی؟ یوه ورځ مې زړه دومره تنګ شو چې موبایل مې راواخیست ترڅو ورته زنګ ووهم او ښه جوړ خپل زړه ورباندې یخ کړم! کله چې د میاشتو وروسته د هغه نمبر مې پر موبایل راوړو نو بې اختیاره مې څو ځاځکي اوښکي د سترګو څخه توی شول!

هغه وختونه مې په یاد راغله چې یو دبل سره په خبرو کولو نه مړېدو، شپه او ورځ مو معلومه نه وه او موږ وو او خبرې وه، لدې چې ناڅاپه څه وشول چې دې حال ته راورسېدو حیرانه وم! اخیر ولې داسې وشول؟ د زرهاو فکرونو او خیالانو د نړۍ څخه مې ځان وویست او ورته زنګ مې وواهه، د یو دقیقې وروسته یې ځواب راکړو.

عابد- الو سلام علیکم؟
د هغه د غږ په اورېدو مې اوښکي نور هم په تلوار د سترګو څخه په رابهیدو شول.
عابد- الو څوک؟
د هغه پداسې ګنګس لهجه د ژړا سره غوسه هم راغله، یعنې دومره ژر یې زما نمبر لا د هیره وتې دی؟ په همغه غوسه ناک لهجه مې وویل: ډېر نامرده یې.

لکه چې ویې پېژندلم! ځکه دا ځل د هغه خاموشې زما خبرو ته د غوږ نښولو په معنا وه.
– که مور دې زما پوښتني ته رانغله او زما د حالات پوښتنه یې ونکړل زما ورڅخه ګیله نه کېږي، خو ته؟ ته زما خاوند یې سومره چې ته پر ما حق لرې د هغه دوه چنده زه پر تا حق لرم، آیا دا اسلام یواځې ستا لپاره حکمونه صادر کړي او زما د حق په اړه یې هېڅ ندې ویلی؟ ایا دا قران یواځې د خاوند د حقوق په اړه بیان لری؟ ها؟ ولې خبري نکوې؟ ولې ځواب نه راکوی؟

د موبایل د هغه بلخوا څخه یواځې د هغه د ساه اخیستلو غږونه راتلل، او د هغه دا خاموشي زه نور هم لیونۍ کولم، تر دې چې خپل کنټرول مې له لاسه ورکړو او د دې دومره وخت په زړه کې پاتې شوی خبری او فریادونه مې چغې کړل او ومې ویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ژړل او ومې ویل خپل د ټول دردونو، حسرتونو، او آرمانو په اندازه مې ورته خبرې وکړل، جنګ مې وکړو، چغې مې ووهلې او ومې ژړل او هغه په خاموش انداز یواځې غوږ ونېو او هېڅ یې ونه ویل، کله چې لږ مې زړه وربانديې یخ شو نو موبایل مې بند کړو.

او د تل پشان چې کله به خفه شوم نو کمپل به مې په سر کش کو، اوس مې هم کمپل په سر کش کړو او بیا مې وژړل، لکه چې زما اوښکو د خلاصیدو نوم نه اخیستو! خپل پدې تور بخت مې وژړل،خپل په مات شوي هیلو مې وژړل، خپل په زړه مې وژړل، خپل په حال مې وژړل، زما حالات سم د تدریجی مرګ حالات وه؟ تدریجي مرګ مطلب دا چې ته ژوندې یې، خو د یو ژوندي انسان په حیث د ژوند کولو حق ونلرې.

داسې چې د نن ورځ دې د پرون څخه زیات په غم، خفګان او سترېیا کې تېره شې. نور د سمندر هومره عظمت او لوې والې مثال خپل د اوښکو د بیان لپاره ورنکړې شې، ځکه ستا اوښکې د هغه څخه زیات توې شوې.داسې چې هره شپه چې خپل سر په بالښت ابږدې، نو ارمان او خواست وکړې چې دا مصیبتونه او غمونه نور ناځاپه خلاص شې او ستا سترګې نور د سهار رڼا ونه وینې.

داسې چې هره ورځ ژوند کوې د درد سره.
هره ورځ لخدایه و غوارې چې مرګ درکړې.
خو پوهېږې جالب څه ده؟
دا چې دا ستا بدن او جسم دي چې درد ګورې.
ستا روح خو لا د وخته ختمه سوې..

همغه ژړا حال کې خوب راغلې وو او ویده شوی وم، خپل د مور په خوشحاله غږ راویښه شوم د مور څهره مې د خوشحالۍ څخه پرکېده! په حېرت مې ورته کتل چې هغې وویل: شابه لږ خپل ځان سمه کړه خاوند دې راغلې دیدن ته.
په حیرت مې خپل د مور خوشحالۍ څهرې ته وکتل، دا څو ورځو کې زما څخه زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مور او پلار اندیښمن او غمژن معلومیدل خو اوس؟ د یو نفر راتګ خوشحاله کړې وه! مور مې په تلوار له کوټې څخه ووتل او څو شېبې وروسته عابد کوټې ته رانتوت! اه چې سومره د دی انسان څخه زما زړه نېولې دی. لاس کې لږ میوه وه هغه یې زما د کټ څنګ ته کېخودل او لاندې په نالې کښیناست! د هغه په لېدو مې زړه بیا درد وکړو او سترګي مې د اوښکو ډکي شوی.

مور مې په خوشحالۍ چای راوړو او خوړه یې د عابد و مخ ته کېخودل او په سترې مشی ورسره بوخته شوه! خوشحاله وه دا چې زوم یې راغلې وو د لور دیدن ته! پدی فکرونو مې پوسخند پر شونډو راغې دا یو طبعي او ساده کار دی چې زوم خپل د خسر کور ته خپل د ښځۍ پسی راشی، خو عابد دومره زما کورنۍ نامیده کړې وه چې اوس د هغه راتګ و دوي ته یوه معجزه ښکاریده او داسې وربانديې خوشحاله وه. پلار مې کور کې نه وو ورور مې کور کې وو خو رانغې شاید غوښتل یې مورې راحت اوسیږو، کاش زما د ورونو د شعور نیم انداز شعور عابد درلود ای کاش، د نیم ساعت وروسته مور مې له کوټې څخه ووتل او مورې دواړه یې یواځې پریښودلو، مثال ښځه او خاوند وو او د دومره وخت وروسته یو بل مو ولېدل شاید کومه خبره یو بل ته ولرو خصوصی!

خصوصی! عجب جالب لفظ دی زمورې دواړو مینځ کې یواځینې شې چې موجود نه وو هغه همدغه خصوصی خبره او موضوع وه، زما خواښې عابد بغیر د شپې لخوا څخه د ورځې زما کوټې ته لا نه پریښودو د شپی هم د نیمي شپی وروسته راتلو داسې حال کې چې نور نو د خبرو حوصله به یې نه درلود او همدا چې را به غلو شا به یې واړه ول او ویده به شو، مورې دا څو میاشتو کې بغیر د یوڅو الفاظو او خبرو څخه نور خبری نه وه کړې یو دبل سره، تر دی حد چې اوس چې د دومره وخت وروسته یو دبل سره یواځې شوی یو نو نه پوهېدو څه ووایو؟ د لږ خاموشی وروسته عابد کرار وویل: څنګه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زما د زنګ وهلو بغیر راغلې وایې شاید د زړه له خلاصه خوشحاله شوی وایې خو اوس! دا چې په دومره زاریو او ژړاو تر دی ځای راغلې هغه خوند د راتګ یې په ژړا وو کې لاړو، د سر په وخوځولو مې ورته د ښه یم ځواب ورکړو چې هغه بیا خوله خبرو کول ته جوړه کول چې موبایل ته یې زنګ راغلو، موبایل ته یې ځواب ورکړو او ما د هغه منحوس غږ په اوریدو یوځل بیا په ټول وجود کې کرکي احساس وکړو، د ډېر قهر څخه مې کمپل په سر راکش کړو، بیایې مور! ولې اخیر خدایه ولې؟ خپل د مور څخه په پټه راغلې وو؟ زما ملاقات ته او اوس! اوس یې مور خبره شوی وه او د دومره واټن څخه لا ما د هغې منحوس غږ آوریدلی شو چې چغې وهل او عابد ته یې ویل ژر راشه کور ته.

او عابد! هغه بیا د تل پشان خپل د مور خبره ومنل او د بیا راځم پر ویلو ولاړی! ولاړی او تر پنځلس ورځو ما بیا په سترګو ونه لېدو، که څه هم د پلار کور کې مې هر ډول خدمت کېدو خو بیا هم ما ښه احساس نه درلود کله چې خپل ورور به مې ولېدو نو زړه به مې په درد راغلو د ده څه ګناه ده چې داسې پعذاب کېدی؟ مریضه زه یم او ښځه د ده تللې د پلار کور ته! د هغه دا حالات مې نور ونشو زغملي او د کور د تلو خبره مې وکړل که څه هم زما پلار او مور زړه نه وو او ویل یې یو میاشت خو ارام وکړه خو ما ونه منل او د ورور سره د خواښي کور خوا ته روانه شوم ترڅو ورور مې د هغه خوا څخه خپل ښځه راوړی، زما د رسیدلو سره سم ورېندار مې خپل غوټه راوخیسته ترڅو روانه شې!

چې ورور مې ورته وویل: یو څو ورځي پاتي شه هیله ناروغه ده او کار نشي کولې ته به دي د مور، خور او ورونو خدمت وکړې بیا زه راځم درپسی.
د ورور په خبره مې د خواښي، لېور، امني او حتا د هغه ړندي ایندور تندي لا تروش شو خو د دی څخه مخکي چې کوم څه ووایې ورور مې لځایه پاڅېده او د تلو مخکې زما خوا ته راغلو او داسې حال کې چې مهربانه مسکا یې پرشونډو خپره وه راته یې وویل: خپل پرځان پام کوه کوم څه دی پکار وه ماته زنګ وواهه سمده؟
د منني څخه په ډک نظر مې ورته سر وخوځو او هغه ولاړی د ورور د تلو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅېدم او خپل کوټې ته ولاړم، د هغه کوټي په لېدو مې بیا ټول خاطرات را ژوندي شوه زه همدلته په همدی کوټه کې د زیات درد څخه د مرګ حالت کې وم!

خو یو نفر لا نه وو چې زما سر لا پورته کړی؟ پوښتنه کول خو لری، بیا مې سترګو کې اوښکي راغلې لاړم او په نالې پریوتم لا به نیم ساعت زما د څملېدو څخه نه وه تېره شوی چې خواښي مې په تروش تندي کوټي ته راننوتل او ویې ویل: د پلار په کور کې به دی زیاته څملېدلې او ویده شوی یې، لږ کینه چې میلمانه لرو!
هغې دا خبری وکړل او په غوسه ناک انداز له کوټې ووته، خو زه هک حیرانه خپل ځاي کې ناسته وم! لا نیم ساعت زما دراتلو څخه نه وو تېر شوی چې دوی بیا خپل کارونه شروع کړل زما د راتلو سره سم خواښي مي خپل ټولو خپلوانو ته خبر ورکړی وو ترڅو مثال د خبری زما پوښتني ته راشي؟ البته زه بهانه وم اصل مطلب همغه سوالګری وه! خواښي مې د دې پنځلس ورځو قصاد رانه واخیست او په یوه دقه کې ټول کلې خلک زما و سر ته راوغوښتل..

هغوي کې ځېنو ماته په ترحم او زړه سواندی سره پیسي راکول او ځېنو نورو راته خوراکي شیان راوړی وه او ځېنو بیا په پسک پسک انداز یو د بل سره ویل"دا نوی ناوی څه مرضتیا به یې درلود چې د ناویتوب په دوهمه میاشت عملیات شول؟" یو به ویل جنۍ کې ضرور کوم مشکل وو یو به ویل د حاجي لور د اول څخه مریضه وه حاجي پر دی خوارانو تېره کړه او خپل ځان یې ورڅخه خلاص کړو، د هغوی دا خبری او دا کارونو زما حوصله دومره خرابه کړل چې نږدی وو د هغوي مېنځ همته را وغورځېږم خو دا هم د خدای فضل وو چې د عابد په راتلو دوي زما د کوټې څخه ووتل، د هغوي په تلو مې اوښکي د سترګو څخه په بهېدو شول چې عابد کوټې ته راننوت زما په لېدو نه سلام نه کلام په طعني سره یې وویل: بیا ته راغلې د ژړاو سره؟

هېڅ مې ونه ویل خو زړه مې د هغه پدی خبری که ووایم مات شو دروغ به نه یې، خپله مې خپل د زړه د مات کېدو غږ واورېده مخ مې ورڅخه وګرځه او کمپل مې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان کش کړو، هغه ښځو چې سومره پیسي راکړي وه زما په نوم باندې زما خوابښي خپل و جیب ته کړل او کوم خوراکي شیان او میوي چې هغوي راوړه هغه باندې هم زما رڼدی ایندرو چاپه واچول او هغه ټول یې وخوړل،داسې حال کې چې زما وزن په زور 47 کیلو ته رسیده زما ایندرو زما په نامه د راغلو میو او خوراکي شیانو په خوړلو باندې خپل وزن اویا ته رسه ولې و! البته ما ته دا شیان مهم هم نه وه ځکه ما نه پیسو ته ارتیا درلود او نه هم میوه او نور خوراکي شیانو ته، پیسي خو راته پلار او ورونو راکول او میوه او دا خوراکي شیان ما اشتها نه درلود چې وخورم ورځې کې به مې د زیات ښکته فشار له لاسه په زوره یو دوه ګولي بوډۍ خوړل .

د پنځه ورځو وروسته چې خوابښي مې په پریمانه اندازه سوال او ګدای وکړل، نو خپل لور یې واستول او ما ته یې ویل نور کار شروع کړه او ډېر دی بیغمه وخوړل! ما هم د مجبوري څخه خپل د عملیات په شلمه ورځ کار پیل کړو یو څه ښه شوی وم خو عملیات زما وینه بیحد کمه کړې وه تر دي حده چې تل به مې فشار ښکته وو خو خپل ټول کوښښ مې کاوو چې هغوي راضي وساتم خو زما له قسمت یو خوا څخه زه عملیات شوم بل دومره کمخونه شوم او بیا د بلې خوا څخه ژمي هم وو، درسته ورځ به مجبوره وم د پخلنځي په هغه یخ محیط او ځای کې کار وکړم او تر ماښام په دوه پښو ودرېږم هغه هم داسې حال کې چې تازه یوه میاشت زما د عملیات څخه تېره شوی وه!

اخیر دې ډېر یخ او زما کمزورتیا خپل ناوړه پایلي وښودل او ملا مې درد پیل کړو داسې درد چې طاقت به مې نشو کولې، له یو خوا وزن مې ورځ تر بلې له لاسه ورکو او بوډۍ مې نه خوړله له بلخوا دا د ملا درد هم زما په مصیبتونو کې اضافه شو دومره مې حالت خراب شول چې یوه ورځ مې خپل پلار ته زنګ ووهو، دا یوه میاشت کې هغه راته تل ویل چې کومه ستونزه دی درلود لومړې ماته ووایه او که زه نه وم بیا خپل ورونو ته ووایه خو خپل مور ته څه مه وایه! زما مور زړه ستونزه درلود نو ځکه پلار مې نغوښتل هغه غمژن کړې، ورته زنګ مې وواهه او په ډېر شرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خجالت مې ورته وويل چې مريضه يم او ملا مې درد کوي او څو ځله مې عابد ته ويلې چې ما يو ډاکټر ته ويسه خو هغه وايې ښه کيږي، ډاکټر ته ضرورت نشته.

کله چې پلار ته مې دا خبرې وکړل هغه دقه راته پلار هېڅ ونه ويل خو د هغې ورځې په سبا پلار مې عابد ته زنګ ووهلو او ورته ويې ويل: چې هيله د عمليات وروسته زيات کمخونه شوی او ملا درد يې هم پيدا کړې او اشتها هم نلري ويسه يو داخله ډاکټر ته ترڅو دوا ورکړي.
عابد هم زما د پلار دا خبره خپل مور ته وکړل او هغې بيا يو قيامت جوړ کړو، او هېڅ مرګ ندي دربانديې شوی، او هسې بهانې مه کوه، او هغسې او داسې خبره کش راکش کړل خو اخير کې وويل چې موږ دومره پيسې نلرو چې تا ويسو ډاکتر ته که پلار دې ډېر ستا د خيال پروا لری نو هغه دې خپله تا ويسی!
د خواښې په خبره ما ژړ ورته وويل چې زه پيسې لرم او خپله خپل د ډاکټري پيسی ورکولې شم تاسو يواځې اجازه راکړې.

کله چې مې وويل پيسې لرم نو يو څه زما د خواښې تندی خلاص شو او راضی شول ترڅو زما سره ډاکټر ته ولاړشی، خپل د پلار کار ته مې هم خندا راتلل او هم مې زړه درد کوو! هغه عابد ته زنګ وهلې وو او ورته ويلې وه چې ما ډکټر ته ويسي! هغه پدی کار سره غوښتل عابد ته ووايې چې زه د عابد ميرمن او مسئوليت يم، او هم پدی کار باندی زموږ مېنځ کې دا خفګان لرې کړی او عابد ته دا خبره ثابته کړې چې د ښځې درد او ستونزه بايد د خاوند درد او ستونزه وی، خو عابد د تل پشان خپل د مور په خبر کولو سره زما د بيچاره پلار دا لږ امېد هم نامېده کړو..

خواښې مې نه پوهېږم د چا څخه د يوه ډاکټري آدرس راخيستي وو، او هلته يې لځان سره ويورم، کله چې هلته ورسېدو نو زه تازه پوهه شوم چې دا کومه باتجربه، او سمه شفخانه نده! بلکې يوه ډاکټره ده چې د پنجشنبي په ورځ په وړيا توګه مريضان ګوری هغه هم هغه مريضان چې اقتصادی حالت يې بيخې خراب وی! هغه هم يواځې ګوری! مطلب نور دوا او معاينات ټول په پيسو دی، خو څه مې ونه ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د درې ساعت صبر کولو او لین کې د درېدلو وروسته چې د ملا درد مې د زغم د حد څخه ووت زموږ نمبر راغلو او د ډاکټرې کوټې ته داخل شو، ډاکټره یوه په عمر پخه ښځه وه چې په لومړې نظر کې مې سترګې د هغه په تروش تندې ثابت پاتې شو! شاید د ډېر ستړیا او دومره مریضانو د لېدلو له سببه داسې غوسه وه، زموږ د کښېناستلو سره سم بغیر لدې چې یو نظر لا ما ته وګورې ویې ویل: نوم او د پلار نوم؟ عمر؟

– هیله، ولد محمود خان، اتلس کالو یم.
هغې سر وخوځو او زما مشخصات یې خپل د لاس لاندې کتابچه کې ولېکل، او بیا مخ راوړو او په همغه بې حوصله لهجه یې وپوښتل: مجرد که متاهل؟
په شرم مې وویل: متاهل..
ډاکټره- څومره وخت دی د واده کېږې او ستونزه دې څه ده؟
د دې څخه مخکې چې زه کومه خبره وکړم خواښې مې وویل: هې لورې تازه دا دوه میاشتې کېږې چې را واده کړې مو ده او پدی دوه میاشتو کې داسې کومه ورځ نده راغلې چې دا ووایې زه ښه یم! هره ورځ یا یې لاس درد کوي، یا یې سر درد کوې، یا یې پښې درد کوی، یا یې هم فشار ښکته دی! د پلار نازولې لور ده اوس هم پلار یې دومره ډېر وویل چې زما لور ډاکټر ته ویسې چې مجبوره شوم، د همسایه ګانو او خپلوانو څخه روپۍ قرض کړم او دا راوړم..

زما خوله د حیرت څخه خلاصه پاتې وه! قرض چیرته وو؟ خپلوان چیرته وه؟ د پلار نازولې لور چیرته وه؟ زه لا خپل د خواښې پدی دومره دوه مخې او شیطان صفتې کی هک حیرانه وم چې د ډاکټرې په خبره بیخې ژړا ته نږدې شوم.
ډاکټره- وه جنۍ ولې داسې کوې؟ خواښې دی زړه ښځه ده ولې ځان په ټکې وهې او کار نکوې؟ دا د ملا او لاس او پښو درد خو هر ښځه لرې بیا ته ولې داسې مکارتوب کوی؟ بیا یې زما خواښې خوا ته مخ کړو او ویې ویل: دا د اوس وخت انجونې ټول همداسې دی تل لټې او ټکې کوی ترڅو کور او کاسه جدا کړی او کله چې کور او ژوند یې جدا شی بیا رکه روغه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټرې په همدې بد اخلاقي باندې يو دوه کرښي پر ورقه وليکل او ورقه يې زما خواښي ته چې د هغې خبره يې منل او هو هو يې ورته ويل ورکړل، دومره مې زړه د هغه ډاکټرې د يو طرفه قضاوت څخه تور شو چې زړه مې غوښتل خوله ورباندې خلاصه کړم او ښه يې بيابه کړم خو زه د اول څخه عاجزه او بې ژبې وم او داسې تېز والې او جواب ورکول مې نه وه زده که لږ مې زړورتيا درلود اوس به مې دا حال نه وايې، د ژړا څخه په ډک ستونې د ډاکټرې د کوټې څخه ووتم.

خواښي مې چې هر سومره وويل راځه دا ليکل شوې دوا درته واخلم ما ويل نه يې غوارم او کور ته ولاړو، هلته په رسيدو خپل کوټې ته ولاړم او په زوره زوره مې وژړل عابد چې راغلو نو مور يې غوږونه ورڅخه ډک کړې وه چې ستا ښځه مې په دومره ناز او نخرو ډاکټر ته ويوړل او اخير کې کله چې ډاکترې ورته وويل چې مريضه نه يې او ټګي مه کوه نو خفه شول او ليکلي نسخه دوا يې وانخيستل، عابد چې راغلو نو په طعنو طعنو يې راته ويل چې څنګه مريضي علاج دې وشو او کنه؟ ولې دوا نه اخلې، او ولې فلانکې نکوې، او ولې بستانکې نکوې، د هغه خبرو نور هم زما په زخم مالګو و دوړه وله داسې چې بيخي ليونتوب ته ورسېدم.

او په ژړا ژړا مې ورته وويل چې زه غوارم ولاړسم خپل د پلار کور ته، دا يو مياشت کېدل چې نه وم تللې، اول عابد و نه منل خو کله چې زما ژړاې ولېدل نو ويل ولاړسه، زه هم يواځې ځان خپل د مور کور ته ولاړم لا به زه کښيناستلې نه وم چې ورينداره مې خپله غوټه وتړل او خپل د مور کور ته روانه شوه! بغير لدې چې د مور يا ورور څخه مې اجازه واخلې د مور څخه مې پوښتنه وکړل چې دا ولې داسې کوې؟ نو مور مې په خفګان راته وويل چې دا ستا سره بدل کوې! او وايې چې مورې خو بدل يو نو که دا راغله دلته زه ځم د مور کور ته مې!
ما په حيرت وويل: مورې خو بدل نه يو!
مور- خو ستا خواښې پدې رشتي باندې د بدل نوم کيخودلې او ټول کلې ته يې ويلې چې آمنه خپل د ورور بدل او مخې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور پدی خبره مې ژړا لاپسی زیاته شوه او ومې ویل: ما تاسو ته ویلی وه چې داسی مه کوی اوس مو وکتل چې زما حالت مو د ښه کولو څخه لاپسي بتره کړو. زما په خبرو او ژړا وو باندې زما مور هم په ژړا شول او زه یې په غیږه کې ونیولم او دواړو ژړل شروع کړل، ما خپل په دی بدبختیو ژړل، او مور مې زما پدی معصومیت او مظلومیت ژړل، مورې لا ژړا نه وه خلاصه کړې چې پلار مې راغلو او زمونږ د حال په لېدو ورخطا شو چې څه خبره ده؟ او مورې ولې ژاړو؟ مور مې ورته په ژړا ژړا کې ټوله کیسه وکړل، پلار مې چې کله پر کیسي خبر شو نو د قهر او غوسي څخه یې خپل شونډه وچیچل او خپل تسبیح یې کلک لاس کې ونیول او ما ته یې په کراره غږ وویل: تیاره شه زه دی خپله ورم ډاکتر ته.

همغه ماذدیکر باندی مور او پلار مې یو سم ډاکټری ته ویورم، هغه ډاکټری زما پر لېدو راته وویل چې بېحد کمخونه یې او د ملا درد دی د یخ او دا چې تازه عملیات شوی وي او دروند کار دې کړې پخاطر دی، او یوه بوجۍ دواګانی او فرمایشات یې راکړل او رخصت یې کړم، زه هم بیرته راغلم د پلار کور ته مې، هر دقه چې د هغه ډاکټري خبری مې یاد ته راتلل چې زه یې غلط قضاوت کړې وم د زړه د درد څخه بې مې بې اختیاره ورته ویل چې د خیر ورځ ونګوری او زما حال دې ستا د زړه په توټې راشی او څنګه چې زه ستا و څنګ ته بیچاره او درمانده راغلی وم او تا داسی کار راسره وکړو همدا کار دی ستا د اولاد سره وشی.که څه هم پوهېدم دا خبري مې ښه ندي خو دومره یې راته زړه په درد راوړی وو چې ځان مې نشو کنترول کولې..

یو څو ورځي بیا خپل د پلار کور ته پاتې شوم او بیا خپل زندان ته روانه شوم، زما دا زندان او دا بدبختۍ نه خلاصیدونکي وه لکه یو ناعلاجه درد چې هر طبیب ته تللې وایې بیرته نامیده یې راستانه کولم، پداسی وخت کې چې هر خوا مې سترګي غړوله بغیر د نامیدی او بدقسمتي څخه مې هیڅ نه نصیب کېدل خو همدې وخت کې زما یوازیني اثره او پناهګاه زما ملګری او خور حیا وه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم راته نږدې نه وه او په میلیونو کیلومټرونو فاصله کې راڅخه لرې وه خو ما داسې احساس کاوه چې راته خپل د ځان څخه هم نږدې ده، کله چې به ده پلار کور ته ورغلم نو دهغې سره به مې خبرې کول او هغې به راته تل دلداری او د زړه قوت راکو، او ویل به یې صبر کوه خدای مهربان دی، ما به خپل ټول غم او خفګان او د زړه راز هغې ته ویل، حتا هغه خبرې چې کورنۍ ته مې لا نشو ویلی و دی ته به مې ویل، او هغې به راته د زړه قوت راکو، د عابد په اړه مې هم هغې ته وویل دا چې د واده دومره وخت مو تېر شوی او هغه یوځل لا زما خوا ته ندی راغلی!

کله چې ورته دا خبره مې وکړل نو ډیر یې حیرت وکړو او د هغه څخه یې لا زیات حیرات ناکه خبره وکړه؟ هغې وویل زه شک لرم چې مور یې وربانديې تعویذ نه وی کړی! ما نه منل او ویل مې یو مور ولی خپل پر زوی داسې کار وکړی؟ خو دی ویل د داسې مور څخه د هر څه تمه کیږی او ته یوڅه وخت خپل خوابنې د نظر لاندې ونیسه، که څه هم عقل او منطق مې داسې خبره نشوی منلې چې یو مور دې خپل پر زوی داسې کار وکړی! خو بیا هم زړه ته مې دا خبره ولوېدل ځکه زما خوابنې داسې نمونه کارونه کړې وه چې زه وېرېدم چې هسې نه دا کار یې هم کړې وی؟ د هغه ورځې وروسته چې حیا راته دا خبره وکړل ما خپل د خوابنې پسې کتل شروع کړل ترڅو ډاډمنه شم چې ایا خبره صحیح ده او کنه؟

او یوه ورځ داسې هم راغله چې زما ذهنیت یې د مېندو د پاکې مینې څخه خراب کړو، داسې چې ما ویل کاش مړه شوی وایې خو دا ورځ او دا لحظه او دا صحنه مې نه وایې لېدلې، عابد د تل پشان د دې څخه وروسته چې د کار څخه راغلو خپل د مور کوټې ته ولاړی ترڅو د ټولو څخه لومړې هغه ووینې، د هغه د تلو څو دقې وروسته خوابنې مې د کوټې څخه راووتل ما هم ځان خپل د کوټې خواته کش کړو ترڅو دا فکر وکړې زه ولاړم خو زه د حویلې خوا ته ولاړم او حویلې کې چې کوم د پخلنځې کړکې وه د هغه ځای څخه مې خپل خوابنې ته کتل چې هغې په تلوار دوه پیالې چای په ګاز کېخود او کله چې چای دم شول نو خپل د ټکرې څنډه چې یو شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکی غوټه کړې وو خلاص کړو او په چایو کې واچو! ما په حیرت ورته کتل چې دا نو څه دی؟

حتا ځان سره مې وویل شاید یلدانه(لاچې) اوسیږی خو کله چې هغې چاي ته صافې کېښودل او وړوکې وړوکې د کاغذ ټوټې د چاي څخه لرې کړل د پښو نفس مې ولاړی، هغه کاغذ ما د بل هر چا څخه ډېر ښه پېژندي هغه شوستي وه!(شویست) خوابښي مې په تلوار د دهلېز خوا ته وکتل ترڅو ډاډمنه شي چا خو پدی رزیلانه کار لېدلی نه وی، بیا یې په تلوار د کاغذ توټې بیرته همغسې خپل د تیکري په ځنډه کې وپیچل او چاي خپل کوټې کې ناست عابد ته ویوړل! زه همغسې بې روح جسد پشان ولاړه وم! او خپل د سترګو په لېدلو حال مې باور نه کېدو! په همغه ګنګس او ګیچ حالات باندې خپل کوټې ته ولاړم او د بت پشان مې و دیوال ته کتل!

ذهن مې په یو وخت کې د زرګونو فکرونو څخه ډک وو، او هر فکر مې اخیر وه یوې خبرې کې درېدو چې اخیر ولې؟ ولې دا پر عابد باندې دا تعویذونه خوری؟ ولی نغواړی عابد زما سره ښه شی؟ که زه یې نه وم خوښه نو ولې قران په لاس زموږ د کور مخې ته راتلل او زه یې و خپل زوی ته غوښتلم؟ د زیات فکرونو څخه نږدې وو کوپړی مې وچوي چې عابد دروازه خلاصه کړل او دننه راغې، سترګې د دی څو وختو پشان سرې وه! زما په لېدو یې تندې تروش شوا او زما سترګې نمجني شوی، دا ځل مې خپل د ځان لپاره اوښکې توی نکړل بلکې د عابد لپاره مې اوښکې توی کړل، زړه مې د کوژدی د وخت د عابد پسی تنګ شو! هغه چیرته وو او دا بې لاس او بې خولې چیرته؟

دا عابد د انسان څخه زیات یو روباټ او نانځکې ته ورته وو چې خپل د مور د ګوتو په اشاری نځېدې، زما د اوښکو په لېدو د تل پشان یې طعنه ووهل، خو ما څه ونه ویل بیا یې خپل د مور تعریفونه وکړل بیا هم ما څه ونه ویل، زما بدی او بیکاره توب او مفت خوری خبری وکړل او ما بیا هم څه ونه ویل او یواځې په چوپه خوله مې ورته کتل، چې هغه هم لږ حیران شو چې زه ولې جواب نه ورکوم؟ خو څه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه ویل هغه شپه زما سترګو ته خوب حرام وو چې راشی د مولا تر آذانه ویښه وم او خپل د ژوند په اړه مې فکرونو کول چې اخر به څه کېږي؟

د لمانځه او سبا ناری تیارولو وروسته ټول د کور غړي خپل د کارونو پسی روان شول او ما حیا ته زنګ ووهو او په ژړا ژړا مې ورته ټوله کیسه وکړل، هغې راته د صبر او زغم ویل او ما ورته ژړل کله چې ښه مې زړه یخ شو نو هغې راته وویل چې زه خو مرسته نشم کولې ځکه بیحد ستا څخه لری یم خو ته خپل د کورنۍ څخه مرسته وغواړه او دا موضوع ورته ووایه ترڅو یو سم مولا پیدا کړې چې اول دا تعویذ او جادو باطل کړې بیا خپل کورنۍ ته ووایه ترڅو هغوي ستا له خوابښي سره خبری وکړی، او پوی شي چې ولې هغې داسی کار کړی؟

ما چې هر سومره فکر وکړو اوس وخت کې دا خبره شریک کول مستقیماً د مور او پلار سره مې ښه کار نه وو نو مروه ته مې زنګ ووهلو او ټوله کیسه مې ورته وکړل، هغې هم اول باور نه کېدو خو وروسته د توبه توبه ویلو سره یې راته مشوره راکړل ترڅو دا خبره د مشری خاله سره شریکه کړم؟ همغه خاله چې زما خوابښي ورسره زما د واده په لومړی ورځ جنګ کړې وو، هغې ته مې زنګ ووهلو لکه چې مروه ورته کیسه کړې وه چې هغې راته کرار یواځې یوه خبره وکړل.

خاله- هیلۍ خپل د خاوند یو وسیله چې هغه استعمال کوې ماته راوړه، که هغه جامې وی که هر کوم بل شې یواځې داسې شې چې د هغه خپل وی او استعمال کوې!

د خاله په خبرو زه هم پر کتو شوم او اخیر کې مې د عابد یو پېتو پیدا کړو، خاله ته مې زنګ ووهلو او هغې خپل ماشوم زوی راوستوه او ما هم د دی پر بهانه چې دا د خاله سامان مې دی او زما سره پاتي شوی وو د هغه په لاس ورکړو، تر ماښامه د زیات استرس،وحشت او وېرې څخه نه پوهېدم چې څه وکړم؟ ماذدیګر ماښام خوا وو چې خاله مې زنګ را وواهه او ویې ویل چې هغه پېتو یې مولا ته ورکړې او هغه مولا زما خبری تایید کړې او ومنلي چې پر عابد تعویذ شوی او تعویذ کونکې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خپله مور ده! خاله مې ورځخه یوځه نور شویست او تعویذات هم اخیستي وه، ما ته یې وویل سبا راشه ترځو تاته درکړم، ما چې ورته وویل اوس دا خبره زه خپل د کورنۍ سره شریکه کړم او ورته ووایم چې زما خواښي څه کار کړی؟ یا هم عابد ته ووایم چې د هغه مور پر هغه څه کار کړی؟

نو خو خاله مې زه د دی کار څخه منع کړم او راته یې وویل چې دا کوم هندي فلم ندې چې ته ورشې ټولو مخکې دا خبره وکړې او دلایل راوړی او هغوي هم ستا خبره ومنې، امکان لری خواښي دی خپل ټول ګناه ستا په غاړه واچوی او ووایې چې تا زما پر زوی تعویذ کړې، او که داسې هم ونکړې نو بیا هم ستا میړه که پر دی ټول موضوع پوه هم شې او ویې هم منې نو بیا هم خپل د مور څخه خو مخ نشې اړولې خفه به شې جنګ به وکړی خو اخیر مور یې ده، او که ته خپله کورنۍ ته که دا خبری وکړې نو هلته ستا د ورور ژوند تریخ کېږې ځکه ستا وریندار ستا د خواښي دویمه نمومنه ده.

د خاله د خبرو وروسته نامیده کښیناستم ما فکر کو شاید د دی خبرو د پوهېدو وروسته زما ژوند تغیر وکړی، خو نه خاله رښتیا ویل زما خواښي دومره دوه مخي شیطانه وه چی حتا خپل پر زوی رحم ونکړو یعنی هغه وخت چې زه ورته دا خبری وکړم نو خاموشه به پاتې شی او خپل ګناه به ومنی؟ هرګز امکان نلری. د خاله خبره یو دم صحیح وه هغه به خپله ګناه زما په غاړه راواچوی او ددی څخه به لا بتر زما ژوند خراب کړې، نو خاموشه پاتې شوم او دا موضوع مې لکه یو راز پشان خپل په سینه کې پټ وساتو د هغه ورځ په سبا ولاړم او د خاله څخه مې هغه شویست او تعویذات راوړل، خاله مې ډېر نصیحتونه راته وکړل، ویل صبر وکړم او د خدای څخه مرسته وغواړم ما هم سر وخوځولو او راغلم کور ته تعویذ مې یو سم ځاي پټ کړو او شویست به مې لږ، لږ د ډوډۍ او چاي په واسطه عابد ته ورکولو.

خاله مې راته ویلې وه چې دا تعویذات او شویست د دی لپاره دی چې مولا ویل ستا خواښي خپل په تعویذاتو باندی ستا میړه ستا څخه بند کړې! یا هم عام اصلاح کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلې نو ځکه ستا خوا ته نه راځې کله چې ورته هغه تعویذات او شویست ورکول مې پیل کړل نو اخلاق یې خو بدل نشول او همغسی بد اخلاق وو خو دومره کار یې وکړو چې د شپږ میاشتو وروسته زما سره د یو خاوند پشان شو! همدغه بد حال کې مې د روژې میاشت تېره کړل، دومره کمزوری شوی وم د هغه روژو سره چې حد یې نه درلود، کوچني اختر دشپی اول کې طالبانو اعلان وکړو چې اختر دی نو زه هم ټوله شپه ویده نشوم او د اختر میوي مې پاکې دسترخوان مې هوار کړو کور مې پاک کړو

زما خواښي ډېر خپلوان درلودل او هغوی هم لومړی د دی وکور ته راتلل نو ځکه زه تر ماسپیښن تر دری بجو پوری لګیا وم او کور مې منظم کوو، د غرمي د ډوډۍ
وروسته خپل کوټې ته ولاړم ترڅو لږ خپل په سر او مخ هم یو لاس تېر کړم او خپل د اختر جامۍ واچوم، د اختر د جامو په یاد راوړلو مې پوسخند پر شونډو راغلو زما لومړي اختر د خاوند کور کې وو او هغه راته کالي لا وانخیستل! حتا راځخه یې پوښتنه لا ونکړل چې کوم شي ته اړتیا لری او کنه؟ حمام مې وکړو کالي مې واچول او خپل ویښتیان مې ږمنځ کول چې د خواښي غږ مې پورته شو چې ویل یې راشه میلمانه لرو، خو ځکه چې زما ویښتیان لانده وه او بل دا چې زما په نظر د هغه راغلو میلمنو سره یو دا نه د عابد د خاله زوی هم وو نو زه هغه کوټې ته ولا نړم.

او خپل ویښتیان ږمنځ کول مې بهانه کړل کارونه ټول ما کړی وه حتا چاي مې هم تیار کړې وو یواځې پیالو ته د چای اچولو وه چې هغه دوی هم کولې شو، یو ساعت تقریبا ما خپل ځان خپل د ویښتیانو پر ږمنځ کولو تېر کړل تر دې چې هغوي ولاړل، د هغوی د تلو وروسته خواښي مې داسې په غوسه زما کوټې ته راغله او داسې خبری راته وکړل چې هغه الفاظ د دی خپل لایق وه خو دې ماته وکړل او ما هم ځان ناګاره واچو او خوله مې ورسره ونه وهل ما ویل شاید زما په خاموشي دا خبره دوی نوره همدلته خلاصه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه ورځ باندې زما لېور تللې وو او زما پلار ته يې زما شکايت کړې وو؟ او شکايت د څه په سر؟ دا چې ستا لور زما د خاله و زوی ته سترې مشی نده ورکړی؟ زما پلار هم زما په نظر يو څه سپک کړی وو ځکه پر بله ورځ يې خپل و مور ته زما ډېر بد ويلې وه او د هغې مور هم د هغه ټول خبری و ماته دانه دانه راورسه ول هغه خپل و مور ته ويلې وه چې ماته قوم داره، او کورنۍ داره جنۍ وکړه داسې چې زما د ميلمنو سره روغبړ او سترې مشې وکړې نه يو ځنګلې چې زما د ميلمنو عزت ونکړې او ځان يو ځاي پټ کړې.

د خواښې پدی خبرو مې بېحد زړه ونېول شو، او بېحد خفه شوم ځان سره مې ويل چې دوی ولې دومره د دين او اسلام څخه ناخبره دی؟ ولې په محرم او نامحرم نه پوهېږې؟ ولې په ګناه او عذاب نه پوهېږې؟ د اختر څو ورځې زما بترينه ورځې وی له يو خوا سترې وم له بلخوا دوی راته داسې بد چلند کوو تر دی چی بيا زما قديمی مريضې راڅرګند شو، د اختر دريمه ورځ وه چاي مې دم کړل ميوه مې برابره کړل سرخان مې ميلمه خانه کې هوار کړو، خپل طبعيت راته ښه نه ښکارېده او سر مې ګنګس وو

نو خپل د کوټې خوا ته ولاړم کله چې خپل پر ځاي کښيناستم نو په زوره زوره مې خپل پدی تور بخت وژړل خپل و لاسونو ته مې وکتل چې چاودی، چاودی وه زه د شپږ مياشتو تازه ناوی وم خو زما لاسونو کې نکريزې نه وه، زما لومړې اختر خپل د خاوند کور کې و خو زما نوی جامې نه وه، حتا تر همدا نن چې د اختر دريمه ورځ وه يو چا ماته ونه ويل چې هيلۍ اختر دی مبارک شه! همداسې د زيات ژړا څخه حال مې په خرابېدو وو سر مې خپل پر بالښت کيخودلې وو چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او عابد په تروش تندې کوټې ته راننوت..

زما په لېدو بغېر لدې چې زما ژړا او بد حال ته کومه توجه وکړې په همغه تروش تندې وويل: پاسه امين د کاکا زوی خپل د ميرمن او اولادونو سره راغلې، ژر راشه چاي ورته راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همغه ژړا مې ورته وویل: چاي مې تیار کړې د پیالو سره مې په پخلنځي کې کیخودلې زما حالات یوځه سم ندي، وېرېږم هسې نه هلته د هغوي په مخ کې راوغورځم او بیا ستا ورور ووایې چې تا زما د میلمنو بې حرمتې او بې عزتي وکړل. زما په خبرو د عابد تندي تروش شو او بغیر لدې چې بله کومه خبره وکړې په تلوار له کوټې ځخه ووت او دروازه یې کلکه بنده کړه، زه هم په ژړا او بد حال باندې په بستره څلمېدم، غوږونه مې سم نشو آوریدلی او د سترګو وړاندې مې نرې پیکه پیکه غوندی کېدل، نه پوهېږم تر څو ساعتو به زه همدی حال کې وم چې یو ځل بیا د کوټې دروازه خلاصه شوه او عابد دننه راغې.

د هغه د راننوتلو سره سم د هغه د مور غږ مې د کوټې د باندې وآورېد چې په غوسه ناکه لهجه یې و ماته بدی ردی ویل او غوښتل یې کوټې ته راننوځې، د هغې د راتلو مخکې مې د عابد خوا ته په ژړا وکتل او په بېحد خواره لهجه مې وویل: ته وخدای خپل مور ته اجازه مه ورکوه چې دننه کوټې ته راشي زما طبعیت ښه ندي، خیر دی لږ مې یواځې پرېږدې..

خو د دې ځخه مخکې چې عابد کوم ځواب راکړې خواښې مې دروازه په کلکه خلاصه کړه او د ننه راغله د هغې وشاته لېور او رېنده ایندرو مې هم وه! خپل د لېور په لېدو مې په تلوار سره خپل ټکري په همغه بد حال کې په سر راکش کړو، چې خواښې مې ما ته نږدې راغله او خپله خوله یې خلاصه کړه، زموږ په ټول قوم او قبیلي کې یو نفر لا د دې د کنځلو د لاس ځخه په امان پاتې نشو ټولو ته یې بد رد وویل داسې چې زما ژړا یې زیاته کړه او ما په همغه ژړا عابد ته وویل: خپل مور ویني تل همداسې بد رد او کنځل زما کورنۍ ته کوی..

ما دا خبره د دې لپاره وکړل ځکه چې د عابد مور تر اوسه د عابد ومخکې ما او زما کورنۍ ته دومره کنځل او خبري نه وه کړې، خو نن هغې د عابد و مخکې ما ته بې احترامې وکړل او ما د ګیلي او شکایت په توګه عابد ته دا خبره وکړل ترڅو خپل و مور ته ووایې چې بس کړی دا خبری خو هغه د تل پشان زما امیدونه د خاور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورى كړل او خپل د مور پشان په تنده لهجه يې وويل: هر څه چې وايې يو دم صحيح وايې، ته د اول ورځې څخه د ژوند ښځه نه وې او د طلاق حقداره وې، خو بس افسوس چې زما د خور بدل (مخې) يې كنه د وخت مې د پلار په كور ايله كولې..

د عابد پدى خبرو فكر مې كوو ساه مې د سيني څخه نه وځې؟ يالله دا څه وايې؟ څوک د طلاق حقداره وه؟ څوک بايد د پلار پر كور خوشي شوى وايې؟ دا چاته وايې طلاق؟ يعنې ما د هر خبرى د آورېدو فكر كړې وو مگر طلاق؟ دا هغه لفظ وو چې په ښتنو كې د مرگ څخه لا د بتر مرگ په معنا دى، تر څو ثانيو حق حيرانه ولاړ وم خو ناڅاپه مې د زيات درد څخه ورته د خوله ووتل: زه د طلاق حقداره يم؟ زه چې ستا مور، خور او ورور ساتم؟ زه چې ستا د مور د دومره بد اخلاقيانو په ځواب كې لفظ خبره لا نكوم؟ زه د طلاق حقداره وم يا ته چې تر څو مياشتو مخكې د ښځو پشان وى؟ ها؟؟ زما له كوټې څخه ووځې تاسو په نامه نران ...

دا لفظ مې نه غوښت چې ورته ووايم خو هغه زه دومره د طلاق پر لفظ و زوره ولم او پعذاب يې كړم چې بغير د كوم اختيار څخه مې دا لفظ ورته د خولې ووت! او د دى خبرى د كولو سره سم هغه نيم پاتې حرمت او عزت هم د خاورى سره خاورى شو او عابد پر خوله ووهلم! دومره كلک يې ووهلم چې فكر مې وكړو غاښونه مې مات شول! لا مې اخ د خولې څخه نه وو ويستلې چې عابد د ستونې څخه ونيولم او په بسترى و غورځولم چې ټېكرى مې د سر څخه
ختا شو، كله چې ټېكرې مې د سر څخه وغورځېده نو همغه د درد حال كې مې په طعنه باندې عابد ته وويل: اى سل افرين دې ستا پر غيرت وې خپل ښځه دى د ليور ومخ كې بې حجابه كړه..

زما دا خبرى او طعنې نور هم اور ورباندې بل كړو چې د ويښيانو څخه د ځان خوا ته كش كړم او پداسې حال كې چې د زيات غوسي څخه يې لاړى بادېدل ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنده کړه خوله دې وژنم دی، قسم پر خدای که ته زما د خور بدل نه وايې نو همدلته مې دوه ځېرۍ کولې...

کاش دا جنګ يواځې زما او زما د خاوند تر مينځ وايې! کاش دا جنګ يوازی زموږ دواړو جنګ وايې خو افسوس چې دا جنګ زما او د عابد نه وو بلکې زما او د هغه د مور وو، زما او د هغه د ورور و زما او د هغه د رېندی خور وو، يوه خبره به عابد کول سل به د هغه کورنۍ راته کول عابد يو ګواښ وکړو خو د هغه ورور د ټېنګېدو نه وو او ويل يې درځم تا .... دوه ځېرې کوم او وژنم دې او سترګې درباسم او فلان کوم او بستان کوم، د هغه سره د هغه رېنده خور هم يوځای شول او هغې بيا ويل چې دا د اول ښځه د لالا سره جوړه نه وه او کوم بل يو يې خوښښ وو، او دا ټول ټګي او ځان په مرضتيا اچول يې هم د هغه لپاره کوې..

د هغې خبرو په عابد باندې سم اور بل کړو چې زما و مخ ته يې خپل درونډ لاس برابر کړو او په څپېړو باندې زما وهل شروع کړل، دومره يې ووهلم دومره يې راته کنځل وکړل چې نور د هوښ ښځه ولاړم کله چې نور د اخ او ډب نه وولیدم نو همهلته کوټه کې ختا کړم او ټول بهر ووتل..

خپل دردمند وجود مې سره راونغاړلو او ځان مې لکه يو ماشوم پشان په غيږه کې ونېو، خپل د حال د بيان لپاره يواځې يوه خبره کولې شم درد مې درلود! خو د بدن درد نه بلکې ..

کله

مې چې
د درد څپې پسې واخلې،
يوازې د مينې کنارو پسې لټېږم.
عجيبه دا ده،
سترې وجود مې
ستا د غېږې دم غواړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د غېږې په نشتون کې دې،
د تيرې کوڅې،
تياره کونجونه،
دا دنده ترسره کوي.

ستا د غېږې په خيال پکې د دنيا له دغدغو هاخوا
د څو شيبو لپاره
د آرام په غېږ بيده شم...
اې کاش...

لاس مات شي، پښه ماته
او سر مات شي ...
خو چې
زړه نه ماتېدلای!
"عبدالباسط جهانی"

زما زړه درد کوو زما زړه مات شوی وو، کاش لاس او سر مې مات وایې خو زړه مې نه وایې مات! نه پوهېږم تر کله به خپل د بدن او روح په درد کې غرقه وم چې د کوټې دروازه په کلک خلاصه شوه! فکر مې کاوه چې بیا شاید عابد یا هم د هغه د کورنۍ کوم نفر وی او راغلې وی چې بیا ما ووهې خو د هغه غږ په آورېدو مې ژړا زور ونېوه دا ځل د بې کسی او ناچاری ژړا وه، دا ځل د ګیلې او شکایت ژړا وه، دا ځل خپل د تور بخت او طالع ژړا وه..

ورور– هیلۍ! خوری! څه شوی؟ هیلۍ؟
ورور مې همدا ناری وهل او رانږدی شو، زه یې خپل غېږه کې ونېولم او په تلوار یې همدا یوه پوښتنه راڅخه کول چې څه شوی؟ دا چا؟ په ژړا او درد مې ورته وویل: وروره په ټولو یې ووهلم..
زما په خبری د ورور سترګي مې د حیرت څخه خلاصی پاتي شوی او تقریبا چیغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې کړه: څه؟ په څه خاطر؟
د دې څخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم خواښې مې د کوټې دروازې مخې ته راغله او په تروش تندې وويل: دروغ وايې موږ لاس لا ندی ورباندې لګېدلې هسې بدنامې کوی.

د هغې په خبرو حيرت مې ونکړو! يعنې دومره دروغ يې دا څو وختو کې ويلې وه چې نور د دروغو پر آورېدلو يې عادت شوی وم.
ورور مې داسې حال کې چې زما د خواښې و خواته په سرو سترګو کتل په غوسه باندې چيغه کړل او ويې ويل: نو .... نو دا ولې داسې ده؟ دا پر مخ يې د لاس نښه ده څه ده؟ ها؟ اا که تاسو وهلې نده نو دا بدن يې ولې داسی تور او شين دی؟
نه پوهېدم چې عابد او د هغه ورور چيرته تللې وه خو کور کې نه وه! داسی لکه چې خواښې مې زما د کورنۍ د وېرې څخه يوځای استولی وه بيا يې زما ورور ته زنګ وهلې وو او ورته ويلې وه چې راشه خور دی داسې نخری شروع کړې او داسې کارونه کوې..

ورور مې نور د هغه دروغجنې ښځې سره خبره يو پر دوه نکړل او نه يې هم هغه کوم خبری کولو ته پريښودل او په تلوار باندې زه شفخانې ته ويورم، لاره کې د زيات ژړا او درد څخه بې هوښه شوی وم کله چې په هوښ راغلم نو لومړې نظر مې خپل و څنګ ته ولاړ په يوه ډاکټرای او نرسی ولګېده د هغوې ټولو تندې تروش وو او يو څه يې يو دبل سره په فارسې ويل.
ډاکټر- ای دختره بيچاره را زدن نګاه کو بدنش کبود، کبود است!
"دا بيچاره جنۍ وهلې ده وګوره بدن يې تور او شين دی! "
د هغه پدی خبره زما سترګې د اوښکو څخه ډکې شوی چې د ډاکټری و څنګ ته هغه نرسی وويل: وی بيچاره او که همراش امده چيزی نميګه ولی بنظر مه که شويش زديش!
" وی بيچاره ګی هغه نفر چی ورسره راغلی هغه څه نه اايې خو زما په نظر چې خاوند يې داسې وهلی ده!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور د هغوي د خبرو د اورېدو طاقت مې نه درلود نو غږ مې پورته کړو او ومې ویل: ورور ته مې غږ کړې!

زما د غږ په اورېدو هغوی په ترحم اندازه نظر راوکتل چې زما زړه یې نور هم خپل د ځان څخه لا بد کړو او مخ مې وګرځه وو ترڅو د هغوی دا نظر پر ځان ونه ګورم.
څو شېبې وروسته دروازه خلاصه شوه او ورور مط راغلو زما په لېدو هغه خپل پوره کوښښ وکړو چې خپل اوښکي تم کړي خو بیا هم ما د هغه نمجني سترګي لېدلې شوه، داسې حال کې چې د هغه ستوني د ژړا څخه ډک وو کرار یې وپوښتل: څه خبره وه خوری؟ ولي ته داسی حال ته ورسه ولې؟
د هغه په خبرو مې ژړا زور واخیست او په ژړا مې ورته وویل: ومې ویل ما مه ورکوی داسی کور ته چې سرپرست او مشر نلری، ومې ویل د دوی نام او نښان ندی معلوم خو تاسو زما ونه منل دا ټول ستاسو د لاسه زما پر سر راځی ستاسو د لاسه زه هره ورځ وهل ټکول خورم او بد رد آورم، پوهېږی ولی داسی ووهلم؟

ورور مې د خفګان او نامیدی څخه په ډک نظر راکتل چې ما په همغه ژړا وویل: ځکه یې ووهلم ځکه چې ما د یو نامحرم سره د سترې مشي او خبرو څخه ممانعت وکړو، ځکه چې ومې ویل اسلام کې دا ندی راغلی، ځکه چې حق مې وویل نو دوي داسی کار راسره وکړو په ټولو یې ووهلم...

زما د خبرو آورېدو وروسته ورور مې زما سر خپل غېږه کې ونیو او ما د لومړي ځل لپاره خپل د ورور اوښکي ولېدل، داسی حال کې چې زما د سر په ویښتیانو یې لاس کش کوو راته دلداری راکول او ویل یې نور هرڅه ختم شول او تا ته هېڅ څوک څه نشي ویلی، تر دوه ساعتو نور هم شفخانه کې پاتی شو بیا مې خپل د پلار کور ته ولاړم هغه وخت مور او پلار مې کور کې نه وه هغوې نه پوهیږم مړي شوی وو که کوم واده شوی وو! خو هر څه چې وو هغوی دواړه تللې وه پکتیا ته، ورور مې شفخانه کې هغوی ته زنګ وهلې و او ورته زما بد حال یې ویلي وو داسی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیچاره مور مې ترخو چې رارسیدل نږدی وه د زړه حمله ورباندی راشی او څو ځله بې هوښه شوی وه.

کله چې کور ته ورسېدو نو ورور مې راته ځای واچو او کمپل یې پر ما سم کړو، او دوا یې راکړل او ما ته یې د ویده کېدلو وویل او خپل بهر ووت دومره ستړی وم چې فکر مې کوو کلونه، کېږي چې منډې مې وهلې او تازه اوس د ارام موقع راکړل شوی د دوا وو اثر و که د امن کور او امن غیږی اثر چې ډېر ژر خوب د ناخبری نړۍ ته وړی وم، د ژړا او د یو چا د لاس په احساس کولو چې زما پر مخ یې کښ کولو په وحشت سره له خوب پاځېدم چې مور مې خپل و څنګ ته ولېده چې په ژړا باندې زما پر مخ لاس وهو او ژړل یې

پلار او ورونه مې د کوټې بل څنګ کې ناست وه او زما خوا ته یې راکتل د ورونو سترګو کې مې د قهر او غضب نښي وه خو پلار مې هغه هېڅ نه ویل داسی لکه چې بیخي هغه کوټه کې شتون نلری او فکر یې کوم بل ځاې کې ګرځي، مور مې زه غیږه کې ونیولم او ژړا یې پیل کړل ما هم د هغې په لېدو ورته وژړل تازه داسی احساس مې کاوو چې یو ډک بازار کې د ورکېدو وروسته خپل د مور غیږی ته راغلې یم..

مور د ژړا حال کې وو چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او آمنه دننه راغله د هغې په لېدو په لومړې نظر کې مې حیرت وکړو خو د څو شیبو وروسته مې کرکه او کینه په زړه کې وخوټېده د دی مور، ورونو، او خویندې پر ما دا حال راوړی وو، د راتلو سره سم هغې زما خوا ته پوسخند ووهلو او زما ورور ته یې وویل: که جنګ نغوارې نو پرېږده زه ولاړشم خپل د مور کور ته.
د هغې پدی خبره زما سترګي د حیرت څخه خلاصي پاتی شوی د څه جنګ؟ وهل هم ما خوړلې او جنګ هم غوارې دوی وکړی؟
ورور مې په تروش تندې ورته وویل: په کراره خپل کور کې کېنه دا موضوع هېڅ پر تا پوری اړه نلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د ورور پدی خبره آمني په چغو او نارو وويل: ولې اړه نلری؟ ستا خور زما کورنۍ ته بې احترامي کړې، يوه څپېړه خو د مستي او محبت څخه لا د خاوند او ښځي مېنځ کې پيښ کېږې دی په يوه څپېړې زما د کورنۍ نوم رسوای عالم کړو او ټول کلي پر موږ خبر کړو، دا دلته بيغمه ناسته ده او هغه وخت زما زړه مور د کور کارونه کوی نو د دی اينګور څه فايده؟ ستا خور زما کورنۍ تبا...

ورور مې د هغې خبره ور پری کړل او داسې حال کې چې خپل د ښځي خوا ته نږدی کېده په ګواښ لرونکي لهجه يې ورته وويل: بنده کړه خوله دی، دا ستا په نظر د مستي او شوخي څپېړه ده؟ ته د هيلۍ خوا ته وګوره او که زره اندازه ايمان هم درکي وی نو په قسم سره دا ووايه چې دا ستا په نظر د مستي او شوخي نښه ده او که د ظلم او زياتي نښه؟
وريندار مې خپل د مور پشان خپل خوله کړه کړل او په مکر او فريب يې وويل: ښځه يې ده که وهلې هم وی ضرور کوم کار يې کړی هسی خو خلک ليونۍ ندی چې وهل وکړی، ضرور ستا خور ملامته وه.

د هغې په داسی خبرو زما سترګي د اوښکو ډکي شوی، چې ورور مې خپل لاس پورته کړو د هغې د وهلو لپاره خو د پلار په غږ مې بيرته پښيمانه شو.
پلار- دا ستا دومره بدی ورځې اوس د څه لپاره دی؟ ته خپل مقصد راته ووايه؟
د پلار په خبره مې وريندار په بېحد بې ادبی او وقاحت باندی وويل: ته فکر کوی ستا لور به داسې تاته کراره کور کې ناسته وی او زه به هم کينم او ستاسو خدمت به وکړم؟ او زما مور او ورونه دی هلته پعذاب او پيغور کې اوسيږی؟ زه دا اجازه نه درکوم.

پلار مې د هغې څهري ته ځبر شو او کرار يې وويل: سترګي خو لری؟ وګوره زما لور حالت څنګه دی؟ دا ته چې ستوني شکوی، او دا ستا ورونه چې د موبايل د شا څخه ګواښونه کوی او وايې چې زموږ خور راوستوی او کنه پر کور مو درځو او هسی کو او داسی کو دا ټولو څخه داسې ښکاری چې تاسو خپل پر ځانو وېرېږی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار مې دا خبره وکړل او په همغه دروند نظر يې د آمني خوا ته وکتل او ما د هغې په څهره کې د رښتيا وېره ولېده؟ خو هغې د دې وېرې د پټولو هڅه کول، چې پلار مې بيا ورته وويل: بايد هم و ډار شي غلط کار مو کړې ډېر مو هم غلط کار کړې، په نه خبره مو زما پر لور لاس اوچت کړې او د هغې حق کې مو زياتې کړی او هو تا څه ويل؟ خاوند! که دا وهل يوازی د خاوند وايې ما هم څه نه ويل مورِ هم پښتانه يو د خاوند او ښځي خبرو او کارونو کې کار نلرو خو دا وهل ستا ټولي کورنۍ کړي،

په تمه اوسيږی خپل د لور د هر اوښکي او هر وهل شوی څپېړې بدل ستا د ورونو او مور او ټول قوم او خويش څخه اخلم، ترڅو پوی شی زما لور د قربانې غوښه نده چې هر لېوه او شغال دی وربانديې نوکاری ولګوی، او پاتې شوه ستا خبره نو ته د دی کور عزت او ناموس يې ستا کورنۍ به بيغرته يې، خو مورِ بيغرته نه يو ته دی خپل ژوند کوه ستا حساب ستا د کورنۍ څخه جلا دی.

د پلار د خبرو وروسته آمني په رېږدېدلی غږ وويل: م.... مطلب تاسو هيله نور نه پرېږدې چې ولاړشي خپل د خاوند کور ته؟
پلار- ما ونه ويل چې نه يې پرېږدم ما وويل بايد حساب راکړی، د دی د داسي ناحق وهلو حساب راکړی د دی د اوښکو حساب راکړي، زه دا ټول کلې راغوارم ستا پر کورنۍ تاسو به بې اصل او نسب ياست خو مورِ نه يو ستا ورور او مور چې تر اوسه زما د لور څخه بخښنه نه وی غوښتي او په همغه قرآنونه يې چې زما څخه غوښتی وه بيا په هغه قرآنو رانغله زه خپل لور قدم لا نور نه هغه کور ته پرېږدم، نه هغه خاوند ته، او که ته ډېر خپل د مور په فکر او غم کې يې نو تر هغه ورځي چې زما لور ښه کيږی او مورِ يوه پريکړې او نتيجي ته رسيږو ته خپل د مور کور ته تللې شې، د څو ورځو وروسته خاوند دی درپسی درځي او راوړی دی.

آمنه زما د پلار په خبرو د غوسي څخه تک سره واوښته او په قهر سره د کوټې څخه ووتل، د هغې د تلو وروسته پلار مې کرار، کرار ورونه د کوټې څخه رخصت کول ترڅو زما سره يواځې خبری وکړی چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او آمينه په سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونو د وینو لړلي کوټې ته راننوتل! د هغې د لاسونو په لېدو ما خپل درد او ستونزې هېرې کړې او په حیرت مې د هغې خوا ته کتل چې پلار مې په حیرت ورڅخه وپوښتل: دا لاسونو باندې د دې څه شوي؟

آمني په بېحد خباثت باندې وویل: ستا لور تل ټګي کوي خپل ځان په مرضتیا اچوي زما د مور او ورونو کار نکوي او نن چې د همدې ټګي په خاطر یوه څپېړه یې وهلې ده نو تاسو زما ورونو ته خدای او رسول اخلې چې نه یې پرېږدې ما هم خپل لاسونه غوڅ کړل او ځم د مور کور ته هر چا که وویل دا ولې؟ نو زه ورته وایم چې اول تاسو زه دی حال ته ورسه ولم او زه مو له کور وشړلم نو زما ورونو هم زما د بد حال په لېدو ستاسو لور ته یوه څپېړه ورکړل او هغې داسې رسوای جوړه کړل..

د آمني د خبرو په اورېدو زما فشار لکه چې پورته شو چې غوږونو کې مې د بنګ بنګ انګازې خپرې شوې! زما پلار د نهایت صبر څخه کار واخیست او داسې حال کې چې د زیات قهر او غضب څخه یې خپل شونډه چیچل او خپل د لاس تسبیح موټ کې نېول آمني ته یې وویل: لورې ته ولې داسې کوې؟ اصیل ښځې داسی کارونه کوی؟ کورنۍ داری او قوم او قبیله داری ښځې داسې کارونه نکوې؟ زما لور مریضه ده یوه میاشت مخکې عملیات وکړو ته خپل هم د عملیات شاهیده یې وې.

هلته ستا ورور دا ویې نه وړل ډاکټر ته او نړدی وو چې مړه کړې وایې، بیا یې ملا درد پیل کړو او ورځ تر بلې وزن کمېدو او د ګل پشان رژېدله هلته ما ستا و ورور ته خپل زنګ وواهه او ورته مې وویل چې خپل میرمن یو سم ډاکټر ته ویسه خو هغه بیا هم ویې نه وړل او اوس! اوس یې داسې وهلې چې تر مرګه یې رسه ولې ستا زړه غوارې زه خپل د لور طرف ونه نیسم؟ او بیا ستا هغه نامرد بیغرت ورور ته یې وسپارم؟ چې هر بلا چې و غوارې په سر یې راوړې؟

ستا په نظر هیله ستا د ورونو او د مور د بوکس بوجۍ ده؟ خو نه هغه زما لور ده زما خو اولاد دی زه خو یې داسې نشم کولې اور کې واچوم، اوس هم زه زیات خبره نلرم یوائې غوارم ستا ورور را وغوارم او د ټولو سره یې مخامخ کړم او ورڅخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپوښتم چې زما لور څه ګناه کړې او څه کار یې کړې چې ته ورباندې داسې کارونه کوې؟ کله چې موضوع حل شول په همغه دقه زه یې خپل در ورم ستا د ورور کور ته ..

خو آمني زما د پلار خبرو ته هېڅ غوږ نه نېولو او ګډوډ ځوابونه یې ورکول او ویل یې زه خپل په ورونو غیرت کوم او هغسی کوم او داسی کوم اخیره هم لاړه خپل د مور کور ته، که څه هم زما پلار ورته ویلې وه یواځې د یو څو ورځو لپاره ولاړشه او بیا راسه خو هغه چې ولاړه بیا نه راتلل څو ځله مې ورور ورپسې ولاړی څو ځله مې پلار خو هغه رانغله تر دی چې خبره یې کش کړل راکش کړل او سم جنګ ته یې برابره کړل، زما اراده د عابد دکور څخه په راتلو کې داسې نه وه چې بیا به نه ورځم بلکې زه وهلو حال کې راغلې وم او غوښتل مې د څو ورځو وروسته لاړه شم، دا چې پلار مې هغه خبرې وکړل د هغه مقصد هم دا وو چې زموږ د ستونزی بیخ او بنیاد پیدا کړې ترڅو لمینځه یې ویسې، او بیا ما هغه کور ته ور واستوي.

یوه میاشت زما د هغه وهلو وروسته زه خپل د پلار پر کور پاتي شوم، داسی یوه میاشت چې نه عابد یو سر معلوم کړو چې د دروغو ووایې راشه کورته، او نه هم کوم بل کس د هغه د کورنۍ څخه او نه هم آمنه راغله دا یو میاشت کې زما پلار هم ځان داسی ناګاره اچولې وو او یواځي یوه خبره یې کول" ما کومه دشمني نده کړې هغوی غلطي کړې او هغوې باید راشي بخښنه وغواړی، کنه زر کاله نور دی هم هغه کور ته نه پرېږدم" یو خوا زما پلار ضد نیولې وو له بلخوا ما خپل په بیچاره ورور زړه سوځېده او څه نا څه مې د عابد پسي هم زړه تنګ شوی وو! که څه هم زما زړه یې را مات کړې وو خو خاوند مې وو مخ مې نشو ورڅخه ګرځه ولې دا یو میاشت چې د پلار کور کې مې تېره کړل پر ما بېحد سخته تېره شول، بېحد زیات مې زړه درد کو هېڅا سره مې خبري نکول د ټولو څخه مې زړه تور شوی وو، د هر څا خبره راباندې داسې لګېده لکه د ټوپک ډز..

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدی یوازیتوب کې زما همرازه او همنشینه هېڅوک نه وه بغیر زما د یواځېنې ملگری او خور حیا څخه، هغه یوازیني کس وه چې ما ورسره خبری کول او خپل د زړه بېول بوج می ورته ویلو هغې سره په خبرو کولو سره زه زیاته خوشحاله کیدم، زما همدا ملگری زما د ژوند ټولو ستونزو کې راسره وه. خپل د خاوند کور کی هم که خفه به شوم نو همدی ته به مې زړه حال ویلو دومره می لا مور ته نه ویلی څومره چې و دیته به مې خبری کولی، د هغې سره په خبرو کولو به زیاته خوشحاله کیدم د هغې تل کوښښ به دا وو چې ما وخندوی او ما خوشحاله کړې، او د رښتیا به یې هم خوشحاله کولم، یو ورځ به مې چې ورسره خبرېږي ونکړل نو فکر می کولو چې کلونه می خبري ندې کړې..

***

فکر وکړه، کور کې ناسته یې او فلم ګورې، ډوډۍ خورې، یا خپل د ورونو او خویندو سره جنجال کوې، خبرې کوې، بحث روان دې، یا هم د کور د باندې تللې چکر او د طبعیت د نندارو څخه خوند اخلې، خو په دې ټولو حالاتو کې زړه دې ستا سره نه دې، یا داسې احساس کوې چې په زړه دې یو لوې بوج دې او هغه ته ځان سره حمل کوې او دیخوا اخوا وړې.

په ظاهره خوشحاله یې او خاندې خو ته خوشحاله نه یئ، زړه دې غواړې د دې ټولو شیانو څخه لرې شې او هغه انسان ته پناه یوسې چې ستا د ژوند خاص کس دې.. خو ته د هغه کس د ژوند خاص شخص نه یې! نو په دې ډول یواځې ته یو کار کوې؟ او هغه دا چې خپل د ژوند ښې شیبې د یو مزخرف او بې لیاقت کس پسی خراب کوی او بس....

پر ما هم څه نا څه همدا حال وو زه ناسته وم ماتم مې نېولې وو ژړل مې اوښکې مې توي کول دا هسی خبره نه وه عابد کوم زما نفری او یار نه وو چې زه اوس د هغه لخوا په جدای وژاړم نه هغه زما خاوند وو هغه کس چې مرګ او ژوند مو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریک وو، هغه کس چې زه یې ناموس کېدلم خو هغه ځان داسې زما څخه ناخبره اچولې وو لکه چې زه بیخي له سره یم لا نه! همدغه فکرونو کې د کوټې کونج کې ناسته وم او اوښکي مې تویه ولې چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او کوچنې ورور مې کرار راغږ کړل: هیلۍ پلار جان وایې یو ځل راشه زما کوټې ته پکار مې یې.

ورور مې دا خبره وکړل او په منډه د کوټې څخه ووت د هغه د تلو وروسته خپل اوښکي مې په تلوار پاکې کړل او د پلار د کوټې خوا ته روانه شوم زړه مې ویل ضرور د عابد او د هغه د کورنۍ لخوا کومه خبره شوی چې پلار مې د یوي میاشتي وروسته زه ځانته وغوښتم! کوټې ته په رسیدو یو څو ژوري ساه ګاني مې واخیستل او دروازه مې کراره وټکول له هغه خوا د پلار غږ مې راغلو چې ویل: راځه.
دروازه مې خلاصه کړه د زیات وېرې او استرس څخه مې لاسونه لړزېدل د پلار خوا ته مې وکتل او کرار مې وویل: زما سره مو کار وو پلار جانه؟
پلار مې داسې حال کې چې د کړکۍ لاندي په هواره نالې باندې ناست وو خپل د لاس په اشاره خپل و څنګ ته د کېناستلو راته وویل، د مور خوا ته چې په خفګان باندې راکتل و مې کتل او بیا د پلار څنګ ته مې کښېناستلم...

تر څو شېبو خاموشی وه او یواځې د پلار د تسبیح اړولو غږ راتلو بیا پلار مې داسې حال کې چې نظر یې د کوټې د دروازې خوا ته وو خپل تسبیح لاس کې ونیول او داسې حال کې چې د سترګو له کونج ما ته راکتل ویې ویل: د یمن خلک یو رواج لری هغوې چې کله خپل د لور نکاح تړی نو هغه زوم راغواړی او د مولا مخې ته یې کېنه وی بیا هغه وخت چې زوم وایې زما قبوله ده، نو د ناوی پلار، کاکا، او ورونه شلاغ(دوره) را اخلی او هلک خپل په ټول قدرت او زور سره وهي!

پلار مې خاموش شو او زما خوا ته چې په حیرت مې ورته غوږ نېولې وو راوکتل او ویې ویل: د نکاح په همغه دوران کې زوم وهې پوهېږې ولې داسې کوي؟
د نه پشان مې ورته سر وخوځولو چې پلار مې نرې مسکا په شونډو ښوره کړل او ویې ویل: هغه ځکه چې زوم ته دا خبره ثابته کړي چې زموږ لور بې صاحبه نده، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې شاته داسې کسان دی او که قدم دې کوږ کېخودو نو پښه دې درته قلم مات کو..

ما د اوښکو څخه په ډک نظر د پلار خوا ته وکتل چې هغه تندی تروش کړو او ويې ويل: غلطي زما وه ما نه بايد د يو ښځي په مرکي ته ورکړې وايې، خو اوس کار تر کار تېر شوی سبا ته د هغه ترونه، او ماما خيل او قوم او خويش راغواړم او زه هم ورسره کېنم او دا خبره يو ځل د تل لپاره فيصله کوم، ما لومړي ځل غلطي وکړل خو دا ځل د هغه ټول کورنۍ ته دا خبره ورياده وم چې ته بې کسه او بېکاره نه يې چې هغوي دی داسی راسته چپه نخری دربانديې وکړې..

د پلار د خبرو په سبا ورځ د دواړو خوا څخه مشران او سپين ګېری زموږ د کور ميمله خانه کې راټول شول ما د پردې له شا څخه راتلونکو کسانو ته کتل چې عابد او د هغه ورور راغلو او په تروش تندې بغېر لدې چې زما د ورور سره سترې مشي وکړي ميلمه خانې ته ننوتل، د هغوي سره د هغه دومره سرپانو مجلس ته د دوي مور هم وررننوتل! د ډېر وحشت او وېرې څخه دوه سترګي مې د ميلمه خانې په دروازی ګنډلې وه وېرېدلم چې کوم جنګ ونشې! ځکه ورونو مې د تلو مخکې قسمونه اخيستې وه کې عابد او د هغه ورور بيځايه خوله وښوره وي نو ولاکه يې پرېږدي که څه هم پلار مې ورته ډېر وويل چې داسې کوم کار به نکوې خو د هغوی اراده د جنګ ما ته معلومېدل..

د يو ساعت وروسته غږونه د ميلمه خانې څخه په پورته کېدو شول او د هغه سره سم زما کوچنې ورور په تلوار راووت او د کور خوا ته يې را منډه کړل، د هغه په داسې ورختا راتلو زما ساه وختل فکر مې وکړو چې جنګ نښتی خو هغه په تېزې سره زما خوا ته راغلو او ويې ويل: پلار جان وايې خپل شيان برابر کړه او خپل د خواند سره ولاړ شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه په خبرو هک حېرانه شوم چې څنګه چل وشو؟ چې همدې وخت کې د میلمه خانې څخه د تکبیر او دعاګانو غږونه پورته شول او زه پوهه شوم چې هغوې په امن او امنیت کې خبره خلاص کړې، د جرګې راغلو سپین ګرو ټولو آمنې او د هغه مور ته خبرې کړې وه او د عابد ترونو او ماما خیلو هم د دې څخه وروسته چې عابد او د هغه مور یې سپکه کړې وه زما پلار ته یې د صلحې او نرمې ویلې وه او زما پلار هم د دې شرط په کېخودلو سره چې زما په لور به نور ظلم نکوي او وهي به یې نه او که خبر شوم چې کوم زور او زیاتي مو ورسره کړې نو دا ځل زموږ فیصله به د جنګ او دښمنۍ وی. راضي شوی وو چې زه بیا هغه کور ته ستانه شم ..

او عابد دوي هم زما د پلار ټولو شرطونو او خبرې منلې وه، نو همدا وو چې زه د یوه میاشت وروسته خپل د خواښې کور ته ستانه شوم او آمنه هم کور ته راغله، هلته په رسېدو داسې حال کې چې ما کومه ګناه او غلطي هم نه وه کړې بیا هم د خواښې لاسونه مې ښکل کړل او د بخښنې غوښتنه مې ورڅخه وکړل! د تلو مخکې مې پلار او مور ډېر نصیحتونه راته وکړل او ما هم د هغوي نصیحتونه په غوږ کې کلک ونېول، او دا کینه او حسد مې پریخودو او که څه هم د عابد کورنۍ دومره راسره بدی کړې وه خو ما بیا هم ټولو ته بخښنه وکړل او غوښتل مې دا ځل یو نوی آغاز وکړم..

غوښتل مې دا کور خپل کور وګڼم او دا ځل ژوند وکړم! ما هم د ژوند حق درلود غوښتل مې خپل ځانته یو ځل هم که کېږي د ژوند حق ورکړم نو همغه وو چې دا ځل مې کوښښ وکړو خپل ځان د دوی په خوي او بوي کړم او د دوي پر خوښې مخې ته ولاړه شم زما د راتلو سره سم د عابد کاکا او بیا د هغه وروسته د ماما کورونو په پرلپسې توګه میلمستیاوې وکړل او هلته یې وغوښتل د حق تېره نشم نو باید ووایم چې هغه جرګې خپل کار کړې وو او خواښې مې خپل د کارونو او خبرو څخه زیاته ولېدلې وه، او څه ناڅه اوس زه یې هم پر طبعیت پوهه شوی وم نو کوښښ مې کوو د دوي پر مزاج کار او خبرې وکړم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ماذدیگر به د عابد د راتلو مخکې به مې ځان سینګار کوو ښه جامې به مې واچول، عطر به مې ووهلو او د هغه د راتلو سره سم شین چاي به مې ورته کیخودو او داسې رفتار به مې ورسره کوو لکه زموږ مېنځ کې چې هېڅ جنګ او جګړه نه وی پیښ شوی، او دا کار لږ لږ ځواب هم ورکړو او د هغه اخلاق هم لږ ښه شول بیا زما د دویم کاکا واده په همدی ورځو کې وشو او زما خواښي او ړنده ایندرو په ډېر خوشحالۍ سره زما سره واده ته ولاړل او د دومره وخت وروسته ما داسې احساس کوو چې ژوند کوم! او ژوندي یم خو...

هغه متل دې وایې: ډم چې په نخا عادت شې بیا کرار کښېناستل ورته خوند نه ورکوې! همداسې زما خواښي زما پر پعذاب کولو او سپک کولو باندې عادت شوي وه نو اوس دا شان آرامي او زما خوشحالۍ ورته خوند نه ورکو، نو د یوه میاشت خاموشي وروسته یې یوځل بیا خپل کارونه او دوه مخي پیل کړل، او دا ځل به یې ما ته په هر خبری کې راته د بدل خبره کول! چې ته زما د لور بدل یې او ته هغسې یې او ته داسې یې ما به چې هرڅومره ورته ویل زه ستا د لور بدل نه یم، خو هغې به نه منل اخر مې ورته وویل که بدل هم اوسیږم نو ستا په لور خو چا ظلم ندي کړي چې ته یې زما څخه غچ اخلې! خو هغه داسې وه لکه د بهانې پسي چې وې! هغې یو ځل بیا د عابد غوږونه زما پر خلاف ډک کول شروع کړل او بیا یې د هغه زړه زما څخه تور کړو..

زه نه پوهېدم چې خواښې مې دا کارونه اخیر د څه لپاره کوې؟ ولې زما ژوند خراب کوي؟ هغې غوښتل د هغه ځل پشان زما خوله خلاصه کړې او په نه خبره بیا جنګ پیل کړې او بیا خبره غټه کړې! نو لحاظا ما هم ورسره خوله نه وهل هر سومره چې به چغې بوغي وهل نو ما به نه د دی په خبرو غوږ خلاصه وو او نه هم د عابد په طعنو او ګیلو باندې، د عابد وخبرو ته به مې سترګي ټېټې نېولې وی او ځواب به مې نه ورکو دوي چې هم کله ولېدل چې زما د خولې څخه خبره نشي باسلې نو زما شکایتونه به یې زما و پلار ته وړل! جنګ به د ده مور زما سره وکړو خو احوال به یې عابد زما پلار ته ورکو چې نن ستا لور داسې وکړل، او نن یې هغسې وکړل، پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې هم څو ځلې ورته ویلې وه چې هغه اوس ستا میرمن او ناموس دی ته باید خپل د مور او ښځې په منځ کې تعادل او برابری مراعات کړې او هغه دواړه کنټرول کړې،

خو عابد لدې لځایه چې زما د پلار په خبرو عمل وکړې د ماشومانو پشان به یې زما چغولې زما و پلار ته کول، او کله چې به زه د پلار کور ته ورغلم نو پلار به مې ځانته یوازې کوټه کې وغوښتلم او نصیحتونه به یې راته پیل کړل: " ګوره لورې خپل د خواښې ډیر قدر کوه، د هغې اوس عمر تیر شوی خیر که هغه دربانډی ښه غږ نکوی او جان او قربان نه وایې خو ته ښه غږ وربانډې کوه، ته یې خیال ساته، ته یې احترام کوه، اوس هغه ستا کور دی ته به هغوی سره ځان اعیاروی ته خو شکر تعلیم یافته جلۍ یې، د ښه او بد تر مینځ فرق کولې شي ګوره چې خاوند خپلوان دې درنه بی قدره نشي"

خلاصه چې د پلار کور ته به چې ورغلم نو د پلار همدا نصیحتونه به وه شروع و، او مور به مې بیا ډاکټرانو او مولیانو ته ورم ترڅو خدای راځخه مریضي لرې کړی او وکولې شم ښه خپل د خواښې او خاوند خدمت وکړې شک او شاید هغوی زما څخه راضی شې او ما یو هوسا ساه ویستلو ته پرېږدې، خو نه زما بدبخت پدی څېزونو نه سم کېدو هر سومره مې چې کوښښ کولو هغومره اندازه هغوي راسره بد کېدل او دا ځل نه یواځې خپله بد شول بلکې دومره یې زما د دروغو شکایتونه زما پلار او ورونو ته ویوړل چې زما کورنۍ هم زما پر خلاف کړل! دلته به دوې راته لګیا وه هلته به بیا پلار، مور او ورونه د یوه مخه ټولو ما ته خبرې کول دا حالات دومره دوام وکړو تر دې چې زما مریضي یو ځل بیا خپل په پوره خرپ او ترپ سره رابانډې را ښکاره کړل، داسې چې ځای ناځای به یې غورځولم...

***

وریژي مې دم کړل سر مې ورنه بند کړو لس دقیقی وخت غوښتل چې پاخه شې، د غوښو قورمه هم پاخه شوی وه شړومبې سلات مې هم جوړ کړی وو، د لاس مینځلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره مې اوبه هم کېښودل دسترخوان کې مې ډوډۍ کیښودل هر څه اماده وه نا مینځلې لوښې مې هم د آشپزخانی یو کونج کې کیښودل غوښتل مې یو ځل بیا د وریژو دیګ بخار وګورم چې ساه یې نېولې او کنه؟ نن ماښام د عابد کاکا او د هغه کورنۍ مو میلمنه وه او زه د سهار څخه چې په پخلنځي کې لګیا وم او شیان مې چمتو کول، ترڅو کوم شې کم نشې او بیا و دوي ته موقع په لاس ورنشي چې زما شکایتونه زما و پلار ته ویسي! هرڅه سم وه او تیار وه غوښتل مې د خواښي څخه مې پوښتنه وکړم چې آیا ټول ګډ کېنو یا ښځې او نران جدا، جدا؟ ترڅو بل سرخان هم تیار کړم او کنه؟

د همدي موضوع د بیان کولو لپاره د هغه کوټې خواته نږدې شوم چې دوي ټول هلته ناست وه لا دروازه مې خلاصه کړې نه وه چې خپل د خواښي غږ مې واورېده چې په لوړ غږ یې ویل: هغه د اولاد راوړلو نده وروره مګر تاسو خبر نه یاست؟ د واده په دویمه میاشت چې کله عملیات شوه نو ډاکترانو یې د ماشوم رحم لرې ختا کړو بیچاره زما زوی چې باید د دې شنډې سره وخت تېر کړې(بیا داسې حال کې چې غږ یې لږ تغیر کړی راغلې وو او داسی ښکاریده چې ژاړی ویې ویل: څه وکړو وروره مجبوره یو لور مو د هغوي لاس کېده د خدای د وچ زوره دا جنۍ زغمو کنه قسم پر خدای که لور مې د دې بدله نه وایې اول مې دا په عابد جان خوشي کول او بیا مې یو داسې ښځه خپل زوی ته کول چې هم نوم اونشان یې درلودلې او هم یې ورته په یوه څوزنی اوه اته ګلالۍ زامن راوړی وایې..

د دې خبرو په آورېدلو مې ناڅاپه پر بدن باندی لړزه راغله او یخه پخه د بت پشان بېرته د پخلنځې خوا ته روانه شوم، هغه اورېدلې الفاظ مې مغز کوښښ کو هضم کړې"شنډه"د واده په دویمه میاست عملیات شوه نو ډاکترانو یې د ماشوم رحم ختا کړو"بدل که نه وایې اول مې دا په عابد جان خوشي کول او بیا مې یو داسې ښځه خپل زوی ته کول چې هم نوم اونشان یې درلودلی او هم یې ورته په یوه څوزني اوه اتع ګلالۍ زامن راوړی وایې" دومره مې دا خبري ذهن کې تاو راتاو شول چې ناڅاپه هملته د پخلنځي مېنځ کې بې حال وغورځېدم، د دیګ پش پش غږ مې تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېبو اورېده او بیا مې نرۍ د سترګو ومخ ته توره شپه شوه او د ناخبرۍ نړۍ ته ولاړم ...

د بدن په درد مې سترګي ورپه ولې او خلاصي مې کړي، په پخلنځي کې د لوښو مېنځ کې په وچ کلک یخ سمینټ پرته وم! فکر مې وکړو شاید یو څو دقیقي بې هوښه شوي یم! په تلوار مې د ګاز په سر د دیګ خوا ته وکتل خو ګاز خاموش وو او د هغه خیرن کاسو څخه داسې ښکارېدل لکه چې دوي بوډۍ خوړلي! ناڅاپه مې زړه راډک شو موږ یو بې وزله حیوان که لا که و وینو نو مرسته ورسره کو او له هغه ځایه یې را اخلو خو هغه وخت کې دوۍ زما سر لا نه وو پورته کړې چې وګوري مړه یم او که ژوندي؟ غوښتل مې وژاړم خو اوښکي مې د بهېدلو لپاره نه وه احساس مې کاوو چې نور د ژړا توان لا نلرم پاڅېدم خپل کالې مې وڅنډل خپل د کوټې خوا ته راونه شوم

کور کې کراره کراری وه لکه چې میلمانه تللې وه! د کوټې دروازه مې خلاصه کړه عابد کرار خپل ځاې کې څملېدلې وو د هغه په داسې لېدو مې زړه نور هم ورڅخه تور شو او ناڅاپه مې داسې احساس وکړو چې نور د هغه سره مینه کول خو لري هغه راته د کرکي کولو ارزښت لا نه درلود، خپل بسترۍ خوا ته ورغلم او خپل ځاي مې هوار کړو کمپل مې پرځان راکش کړو پر بدن مې د یخ پشان څپه راغلې وه او د یخ څخه مې غاښونه یو پر بل لګېدل فکر مې کاو زړه مې د سیني څخه د وتلو حال کې دی د سر رګ رګ مې کشېده او داسې درد کاوو چې سترګي مې نشو خلاصه ولې، په زوره مې سترګي پټي کړل خوب نه راتلو خو د درد څخه مې سترګي نشو خلاصه ولې

فکر مې کاو د پښي د نوک څخه نیولې د سر ویښتیانو پورۍ درد درد یم او د ټولو څخه زیات درد مې په زړه کې احساس کوو داسې چې ساه اېستل یې راته سخته کول، خپل د درد، فکرونو او احساساتو په مېنځ کې په جنګ وم چې د عابد لاس مې خپل پر اوږه احساس کړو! او ناڅاپه د امېدونه او هېلو رڼاوي مې په زړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبرېښدل! زړه کې مې وویل شاید غواړی زما د حال پوښتنه وکړي؟ شاید غواړي یو دلداری یا د زړه قوت راکړی؟ خو ټول خبره د ذات پوری اړه لری د چا چې ذات یو ځل کم اصله وختو بیا هغه په هېڅ وجه نه جوړېږي د عابد ذات خراب وو، داسې حال کې چې زه په ساعتونه د پخلنځي مېنځ کې بې هوښه پرته وم ده ته خیال رانغلو چې ښځه لرم او کنه؟ چیرته ده مړه ده او که ژوندي؟

خو اوس؟ د هغه مردار نفساني خواهشاتو هغه زما خوا ته راوړو! هغه هم هغه وخت کې چې ما خپل د ځان څخه لا کرکه کېدل هغه زما بدن ته د لاس راوړلو کوښښ وکړو او ما فکر کاوو چې هغه غواړی ما ته دلداری راکړی؟ خپل په فکر مې پوسخند په خوله راغلو چې شاید عابد ورباندې د خندا او خوشحالې فکر کړې وی! ځکه ناڅاپه یې حرکت تېز شول او غوښتل یې زما کمیس لری کړی، خو ما خپل د یخ پشان په لړزانه لاسونو د هغه لاس ونېو او ومې ویل: که د همغه یو پلار اولاد یې او د مور شیدې دی څښلي وی، او ځانته مسلمان وایې او زره اندازه غیرت دی په وجود کې پاتې وی نو خپل مردار لاسونه زما څخه اخوا کړه او زما څخه لرې شه..

په تمه وم چې جنګ یا هم کومه خبره وکړې، یا هم لری شي خو هغه داسې حال کې چې نور هم ځان رانږدي کو زما د غوږ څنګ کې وویل: ښځه مې یې او حق لرم درباندې.
د هغه دا خبره سم راباندې اور بل کړو داسې چې د هغه د مردار غېږې څخه مې ځان جلا کړو او په چغو چغو مې ورته وویل: بنده کړه خوله دي زه ستا بیغرت ښځه نه یم!

زما د دی خبري سره سم د هغه لاس زما پر خوله ولګېده، داسې چې په خوله کې مې د وینو مزه احساس کړه، عابد داسې حال کې چې د قهر او غضب څخه یې ستمي کوو زما ویښتیان یې لاسونو کې ونېول او کش یې کړل داسې چې د زیات درد څخه یې ساه مې بنده شول خو زړه مې د هغه د لاسه دومره په درد راغلې وو چې بغیر لدې چې خپل درد او د عابد غوسي ته کومه توجه وکړم ورته لګیا شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– افرین نور خو نر نه یې همدی زما پر وهلو او خپل مردار خواهشاتو په پوره کولو کې خپل نرتوبې وښایه، نور خو د مور د لاس غلام او نوکر یې..

زما خبرو د هغه غوسه نور هم ور زیات کړل چې بیا یې لاس پورته کړو او ویې وهلم، خو نن ماښام ما هم خپل مرګ راغوښت نور مې د دې ژوند سره کوم داسې هیله نه وه پاتې چې وغواړم د هغه لپاره د ژوندې اوسیدو امید ولرم، هغه وهلم او ما چې هرڅه خولې ته راتلل ورته ویل مې تر دی چې زموږ په لوږ غږونو زما خواښې هم رانښوتل کوټې ته د هغې په لېدو مې نور هم زړه اور واخیست او په چغو سره مې وویل: ټول غلطې زما ده چې د د اسې مور ځخه غواړم یو نر زوی او میړه مې نصیب شې، د رښتیا هم ملامته زه یم چې دا شیطانې مور ځخه د یو با غیرت زوی .....

عابد خبرې ته پرېنخودم او زما پر وهلو یې پیل وکړو نه یې کتل چې زما ملا ده، مخ ده، پوښتی دی، هر څه چې وه لکه خر پشان یې لغتې وار کول، دومره یې ووهلم چې ښه سترې شو ورور او خور یې هم راغلې وه هغوي هم ما ته بد رد ویل خو خواښې مې د وهلو ځنګ کې یو شانتې وېره هم درلود! او ویل یې ویې واهه خو پام کوه چې مړه یې نکړې! زړه کې مې پوسخند وواهه شاید زما د کورنۍ ځخه وېرېدل چې هسی زما په مرګ دوی د ګریوان ونیسې، همدی وخت کې سومره چې د دوی ځخه خفه وم د هغه سل چنده خپل د کورنۍ ځخه مې زړه تور وو هغوي زه دی مصیبت کې اچولې وم، هغوي زه داسې حیوان ته چې د خاوند نوم یې کش کوو حواله کړې وم..

***

کله چې سترګې مې خلاصې کړې نو یو ناشنا ماحول کې وم، د لږ فکر کولو وروسته و توانېدم چې خپل شاوخوا ماحول صحیح کړم زه خپل د نیکه کور کې وم، په پاکستان کې! او زه دلته پلار مې راوړی وم نه پوهېدم چې څه چل شوی؟ او زه دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه کوم؟ د څو ورځو وروسته مروه راته کیسه وکړل او ویې ویل چې هغه شپه باندی زما خواښې زما مور او پلار ته زنګ وهې او وایې چې راشي لور مو ویسي چې زهر یې خوړلې دی؟ هغوي پر ما دا تهمت لګولي وو چې ما غوښتل ځان و وژنم او زهر مې خوړل چې عابد لېدلې وم او کله چې هغه غوښتل ما منع کړې نو ما د هغه سره جنګ کړې وو او عابد هم په غوسه کې راغلې وو او زه یې وهلې وم؟

خو مروه ویل چې زما کورنۍ دا خبره نه منې او همغه اول کې ما دپلار سره پاکستان خوا ته راستوی او زما ورونه هم د عابد او د هغه ورور سره جنګ کوی، خو مروه راته ونه ویل چې عابد په هغه جنګ کې وهل خوړلې او کنه؟ زما زړه زیات غوښت چې د هغه د وهلو او مرګ خبر وآورم خو خپل ورونو مې په زندان نه وه پېرزو، چې د داسې نجس په مرګ دې زندان ته ولاړشی، ما پاکستان کې دوه هفتې تېرې کړې او پلار مې د هغه ځای بهترینه ډاکترانو ته وېورم خو زما فکر او هوش ټول په کابل کې وو غوښتل مې پوهه شم چې زما پر ژوند اخیر څه پیښ شوی؟

او زما سره به اوس څه کیږي؟ د دوه هفتو وروسته کابل ته ستانه شو آمنه د تل پشان د جنګ وروسته تللې وه خپل د مور کور ته او د عابد لخوا هم کوم خبر نه وو، زمونږ د راتلو سره کور کې هېچا د هغه جنګ په اړه خبری نکول او زه نه پوهېدم چې خبره تر کومه حد جدی ده؟
په همدې خاموشي او بې خبري کې زه پنځه میاشتي د پلار په کور کښېناستلم داسې پنځه میاشتي چې ما ته سم د جهنم اور وو! هغه هم داسې حالاتو کې چې لږ لږ داسې ګنګوسي مې آورېدل چې عابد زما پلار ته زنګ وهلې او ویلي دی چې لور دې درته په کور کې پاتې وې او خور مې راته پاتې ده! مطلب طلاق! خو دا خبره تر اوسه زما د کورنۍ لخوا هیچا هم ما ته سمه نه وه کړې.

او همداسې د شک په پرده کې پاتې وه، د دي خبرو په آورېدو زما حالت نور هم خراب شو مونږ د پښتنو په جامعه کې ژوند کوو داسې جامع چې یوه جنۍ د واده په سپین جوړه کړې باید د خاوند کور ته ولاړشي او د کفن په سپین ټوته کې را ووځې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېدل مې چې هره ورځ پلار او ورونه مې د کور څخه د وتلو جرئت نشي کولې چې هسې نه کوم شناخته يې مخه ونه نيسي او ورته ونه وايې چې لور يا خور دي څنګه شوه؟ زموږ جامع کې د مرګ څخه بتر طلاق دی، که کوم جنۍ ته طلاق ورکړل شې نو هغوې نګورې چې ملامت څوک وو چې دا طلاق واقع شو!

بلکې وايې ملامت ضرور جنې وه چې هلک طلاق ورکړو، او بيا د هغه کورنۍ سره خپل خپلوي پرې کوی او هغه کورنۍ او هغه طلاق شوې جنۍ ته د يو نحس او بدنامې په نظر ګورې، نو د همدي خبرو د وېرې څخه ما يوځل بيا خپل پر ځان د هغه جهنم او زندان قيد او اور ومنلو او غوښتل مې عابد ته زنګ ووهم او ورته زاری وکړم ترڅو خپل د خبری څخه وګرځګې، خو لکه چې خدای غوښتل دا طلاق واقع شې؟ ځکه عابد هم زه وتساپ کې بلاکه کړې وم او هم يې زما شماره بلاک لېست ته اچولې وه داسې چې د خبرو اترو ټول لاري چاري پر ما بند کړې وه، پنځه مياشتي ما کوښښ وکړو ترڅو عابد د دی پرېکړې څخه واړه وم خو خدای راته هر د ارتباط او خبرو اترو لاره د عابد سره بنده کړل...

***

د کوټې په هغه کونج کې ناسته وم چې هېڅ رڼا او روښنايي هغې خوا ته نه راتلله، تپه تياره وه. سر مې ګنګس، بدن مې خوږ، ذهن مې ناآرامه،او روح مې ستړې وه. سترګو مې خوب او بدن مې آرامتيا غوښته.خو لعنت دې په دې ژوند سې چې هېڅ کار يې زموږ د خوښۍ مطابق ندې، زړه مې غوښتل په سلګو او اسوېليو وژاړم چغې ....کړم فرياد کړم خو
اوس چې د کلونو وروسته خپل د پلار د کور د کوټې په دې تورتم کې ناسته يمه، نو يوه خبره سل په سلو کې منم او باورې يمه چې اصل کې همدې خبرې زه د بدبختۍ او تباهې دې کندې ته را غورځه ولې يمه. او جالبه دا ده چې دغه خبره نه کومه ادبې يا هم نه کوم فلسيوفانه لفظ دې، او نه هم کوم منتر او جادو دې، بلکې د الفبا د تورو څخه جوړ يو دوه ساده ټکي دي، چې شايد په ظاهره هېڅ کوم ځانګړې او خاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنا هم ونلرې خو همدغه دوه ساده ټکو سم د تور جادو په څېر زما ژوند نيست او نابود کړو. او هغه دوه ټکي دي "خ" "و" چې کېږی "خو"

هو همدغه "خو" زما ژوند تباه کړو هر کار مې چې کوې يا به هم د کولو نيت مې درلود نو دغه لفظ به مې مخې ته راغې "خو" خو څه؟ زما ژوند تباه شو، زه بې کوره، بې ژونده، بې سرپناه شوم، زما عزت خراب شو، زما زاره وچودل هغه دردونه ټول ما تېر کړل خو.... خبری مه کوه خلک به څه وايي؟ زما په نظر بدترينه دلدارې او د زړه قوت ورکول دا دې چې ته يو چا ته خپل ستونزه او د زړه درد بيان کړې او هغه کس تا ته په جواب کې داسې ووايی: ستا خبرې صحيح دې "خو" داسې کار مه کوه. ته صحيح يې،"خو" فلانکې کار ونکړې. ته صحيح يې"خو" بيستانکې کار ونکړې.

دا څنگه صحيح دې چې اخيره په نه کولو او "خو" تمام کيږی؟ يو خبره مې ذهن کې ګرځېده راګرځېده او زه يې هڅه ولم چې د دومره وخت وروسته هغه خبره په خوله راوړم او د تاييد ټاپه ورباندې ولګوم خو د دې ټولو خبرو او کارونو با وجود اوس مې هم جرئت نه درلود چې هغه لفظ خپل په خلوت کې لځان سره لا زمزمه کړم نه پوهيږی ولې؟ ولې د دومره شکنجې او دردونو وروسته تر اوسه هم هغه لفظ سر عام نشم ويلې؟ حتا لځان سره؟ شايد لدې سببه چې ډارېږم؟ خو له څه څخه ډارېږم؟ زه خو د بدبختې اخيرې حد ته رسيدلې يم؟! شايد لدې ډارېږم چې يو څوک راته په ځواب کې ووايي: هر څه چې دې خو ... خو ... خو ... اوس دې خاوند دې ...

د دروازې په ټک مې اوږې له وېرې و پرېدې او سر مې خپل د ځنگنونو څخه پورته کړو د کوټې دروازه په غژ،غژ باندې خلاصه شوه د مقابل نفر سايه پر ما ووليده او ما ونشو کړې په هغه تک توره تياره کې د مقابل نفر څهره سمه ووينم، چې څوک دې؟ هغه کس بغير لدې چې د کوټې دروازه د ځان پسې بنده کړې يا هم د کوټې ګروپ روښانه کړې کرار، کرار زما خوا ته رانږدې شوو او د هغه په نږدې راتللو پوهه شوم چې پلار مې دې، د هغه پداسې بې وسه ليدو مې خپل غم لياده ووت او د هغه پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره مې ژړا زور واخیست چې نور د پخوا پشان سر یې پورته نشو نیولې، په سترګو کې د پخوا پشان رڼا او غرور نه راته ښکار کېدو، د تلو وخت کې نور د پخوا پشان هیبت او جلال نه راته څرګند کېدو او اوس ما هغه سړی لېدو چې غمونو یې ملا ماته کړې وه.

ما هغه کس ولېد چې د زمانې ناخوالو یې په سر کې سپېن ویښته را برسېره کړې وه. زما څنګ ته کېناست د تل پشان تسبیح لاس کې وه څه یې نه ویل خاموش وو په کوټه کې یواځې زما د ژړا او کله ناکله د پوزې د کش کولو غږ اوریدل کېده او کله هم د پلار د استغفرالله ویلو کراره زمزمه. ښه شېبه دواړه غلې ناست وو او بیا پلار مې وپوښتل، هغه پوښتنه چې ځواب یې زما د د دې دوه کالو د ژوند سره تړلې وه، هغه پوښتنه چې ځواب یې شاید زما د پلار ملا لاپسې ماته کړې وایې،هغه پوښتنه چې ځواب یې شاید زما د پلار د سترګو دېد نور هم کم کړې وایې.

هغه پوښتنه چې جواب یې شاید زما د پلار دا پاتې غرور هم را مات کړې وایې، او شاید ویښتیان یې د اوس څخه هم زیات سپین کړې وایې. دا هغه پوښتنه وه چې ځواب یې ما د دې حالت څخه لا بدبختره او تباه کوې. خو چاره نه وه اول وې که اخیر باید دغه ځواب وویل شې هر څه چې کېږی و دې شې نور راته مهمه نه وه چې خلک به څه وایې؟ او خلک به څه فکر کوې؟ هغوې زما پر ځای ندې او نه پوهیږی چې ما څه وختونه تیر کړې؟ نو هغوې ما نشې قضاوت کولې... د پلار غږ مې د فکرونو او خیالونو له نړۍ څخه را وویستلم.

پلار- غواړې څه وکړې؟

نه پوهیږم جرعت ورته ووایم یا هم د ډېر درد څخه فریاد؟ خو ما خپله پرېکړه کړې وه نور د نیمې شپې د ډارونکوو او هیبتناکه خوبونو څخه د راپاسېدلو وخت وو، ما مظبوط اراده کړې وه چې نور به لاس پر بل لاس نه ایږدم او د خلکو او خپلوانو خبرو ته به نه تسلیمه کېږم، لاس په دیوال تکیه کوم او پاسېږم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن يوه نوې ورځ ده او د يوې نوې امېد سره راغلې...
سم لکه د پسرلي د اولې ورځې پشان...
لکه د ښوونځي ته د تلو اول صبا...
نن ورځ زما ورځ ده...
خپل د بدن توټې،ټوټې برخي يوځاې کوم او پاسېږم...
شايد د لومړې ورځي پشان نشې خو بيا هم جوش خوري او يوځاې کېږي...
ماتم نيول نور بس دي...

په نن وخت او دوره کې که خپله له ځمکي جګه نشې نو خلک دې نور هم د خاورو سره خاورې کوي...
ژړا نور بس ده...
پاسېږم او خپل موخي،آرمانونه او خوبونه له سر لځان سره دوره کوم ...
زړورتيا او مېړانه زما په رګونو کې لکه وينو پشان په تلو راتلو کېده...
زه جګړه کوم؛
تر څو په راتلونکې کې په آرمښت او سوکالۍ کې اوسېږم...
د ژوند کړې وړې لاري او ستونزې ما له پښو نشې غورځه ولې...
مېړانه او سرښندنه زما په رګ او ريشه کېده...
ستونزه د هغوي نه وه ...
بلکې مورږ زيات ساده ګان وو.
خپل ماتم ته د پاې ټکي ابږدم،
او خپل د ستونزو د مقابلې لپاره ميدان ته ښکته کېږم..
نن زما ورځ ده ...
زما د ژوند کولو ...
د بيا ټوکېدو او له سره د غوړېدو ...

د پلار غږ مې د فکرونو لړۍ را غوڅه کړه.
– غوارې څه وکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغیر لدې چې د سترګو نظر مې د پلار څخه واخلم وایم: هغه کور ته بیا نځم ...
زما د خبرې په آورېدو پلار مې څو شېبې په ځېر،ځېر راوکتل او بیا د پاڅېدو حال کې ماته کرار او داسې غږ باندې چې د یو مات شوي غرور نښې له ورایه پکې ښکارېدل ویې ویل: نو راځه..

زه هم پاڅېدم او خپل اوښکي مې پاکې کړې ټېکرې مې په سر سم کړو او د پلار پسې له کوټې څخه ووتم، نن زموږ کور کې په میمله خانه کې د مشرانو جرګه وه او د دوارو خوا وو څخه مشران د هغه بل ځل پشان راغلې وه او غوښتل یې دا ځل دی موضوع ته د پاي ټکي کېږدي، پ مېلمه خانه کې یوه پرده ځوړنده کړې وه او د هغه یوه خوا نارینه ناست وو او بلخوا ښځې، زه مې د مور څنګ ته کښېناستم خواښې او ورېندار مې هم راغلې وه زما پر لېدو هغوې د شونډو لاندی یو شې وویل او په بد نظر یې راڅخه مخ وګرځه وو، د پردې له هغه خوا څخه مې د مولوي خبرې اورېدل چې د اخیر ځل لپاره یې کوښښ کوو چې دا وران شوی او تباه شوی رشته او نکاح وژغوری خو فایده یې نه درلود..

مولوي چې کله پوی شو د هغه خبري کوم فایده نلری نو په نه زړه یې د طلاق خطبه جاری کړل او ما د پنځه میاشتو وروسته خپل د ژوند د نامرده او بېغیرت خاوند غږ واورېده چې د مولوي د غږ سره یې یوځاي په ډېر افتخار سره ویل: طلاق ده راباندې طلاق ده ... طلاق ده ... طلاق ده ...
د دي لفظ د ویلو مېنځ کې یو ځل هم غږ ونه لړزېدو، یو ځل یې هم فکر ونکړو چې زه د هغه ناموس یم! یو ځل یې هم فکر ونکړو چې پښتنو کې طلاق ورکول د مرګ حکم لری یو ځل یې لا فکر ونکړو، غوښتل مې د عابد څهرې ته وګورم! د دې لپاره نه چې زړه مې ورپسی تنګ شوي وو نه هرګز!

یواځې غوښتل مې د هغه په وجود کې د یو نښې نښانې پسې وګورم! هغه نښه او نښان چې ماته ثابته کړې دا همغه انسان دې چې زه وربادنې یو وخت مئینه شوې وم؟ خو نه دا د پردې شاته چا چې په داسې افتخار د طلاق دومره کلک لفظ وویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه کس نور نه دې چې زه وربانديې مئينه شوی وم!
مولوي ما ته غږ کړو او زما څخه يې تاييد وغوښت چې ايا ما د طلاق لفظ واورېدو او کنه؟ ما پداسې حال کې چې ژبه مې په حلق پورې نښتی وه هو ورته وويل، بيا مولوی زما د ورور څخه دعابد پوښتنه وکړل او ما خپل د ورور غږ وآورېده چې په نه زړه او د مجبوريت څخه يې وويل طلاق مې ورکړو....

زما ورور نه غوښتل خپل ښځه طلاق کړې زما پلار هم دا نه غوښت خو هغوي ويلې وه که زموږ خور ته طلاق ورنکړې نو موږ هم ستاسو خور نه خوشی کوو او حالات به د دې څخه لا بتر کړو، نو ورور مې زما د آزادی لپاره د دې لپاره چې ما د هغه حيوان د منګولو څخه وساتې طلاق ورکړو آمني ته، او زه د شل کالو په عمر يو ځوانه طلاق شوی ښځه شوم!
د يو کال او څو مياشتو وروسته زه خپل د پلار په کور د يو طلاق شوي ښځي پشان کښيناستم، د جرګې د تلو وروسته چې يو څه جنګ هم اخير کې وشو او زما په خيال زما کشر کاکا عابد رانبولې وو خبره پاي ته ورسېدل او د هغوي منحوس سيوری زما د ژوند څخه لرې شو

او زه پاتې شوم او د طلاق داغ او ټاپه چې زما په تندې ولګېده،او ټول خپل او بيګانو خلکو راپسي پسک کول پيل کړل او يو سل رقم تهمتونه او خبری راباندې وتړلې، داسي چې پلار مې هغه ځای او منطقه خوشي کړه او بل ځای مو کور ويوړو خو هغه نامرده زما پر روح او روان داسې داغونه پريخودلې وه چې په دومره آسانې لمينځه نه تلل او هره ورځ يې زما حالت لا پسی خراب کوو، زما د خراب حال په لېدو پلار مې زه يو اروايوه ته ويورم او هغه راته وويل چې خپل فکر مشغول ساته او يوازی مه کينه، او کوښښ وکړه چې ځان خپله خوشحاله وساتې..

زما پلار چې هم کله زما خراب حال ولېد نو زما د اسنادو پسي شو او جبار کاکا په مرسته يې ماته د دولسم اسناد جوړ کړل او زه يې يو شخصی پوهنتون کې داخله کړم ترڅو زما فکر د دې راپيښ شوی حالاتو څخه واوړی، او تر زيات بريده بريالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم شو خو هغه خلک وایی کنه چې زخم به جوړ شې خو داغ به یې په ځای پاتی وی، زه هم همداسی وم په ظاهره ښه وم خو دننه زړه مې له وینو ډکه ډک وو، خو بیا مې هم کوښښ کو چې یوځل بیا خپل خاوری شوي آرمانونه را ژوندی کړم او د درس پر ویلو خپل دردونه هیر کړم، او د وخت په تېرېدو کامیابه هم شوم او هغه بیغرت مې یو دم لیاده ووت، او د خدای څخه بېحد منندوي وم چې هغه پنځه میاشتو کې زما پر مخ ټول د خبرو اترو لاری چاري بندی کړی او ما ته یې نجات راکړو کنه ما به خپل پر نادانی یو ځل بیا خپل ځان د هغه حیوان په دام کې اچولې وو...

("یو نیم کال وروسته")

په وټساپ کې خپل د پوهنتون ګروپ سره د چټ کولو حال کې وم، چې یو ناڅاپه د یو ناشنا شماری څخه راته یو مسج راغې چې لېکلې وه: په نړۍ کې نوي سلنه خلک په قفس کې بندیان دي او په هغه قفس لیکل شوي دي "خلک به څه وایي" تا هم د همدې خبری له لاسه خپل د ژوند او عمر بهترینه اوقات خراب کړل، خو خیر څه چې په قسمت کې وه او کېدونکې وه هغه وشول مهم اوس وخت دې! نو دا راته ووایه ښکلې ښاپیرې آیا غواړې خپل راتلونکي زما سره وتړې؟ زه درته قسم اخلم چې اجازه به ورنکړم چې څوک دې نوم لا بې اودسه واخلې نور خبری خو لري.

د حیرت څخه مې خوله خلاصه پاتې وه نه پوهېدم چې دا نو څوک دې؟ او څنګه زما د ژوند په اړه تر دې حد خبر لرې؟ په لړزانه لاسونو مې ورته ولیکل: ته څوک یې؟ او څه وایې؟
همغه دقه یې جواب راکړو: ستا یو لېونې چې ستا په یوه اشاره باندې آسمان ځمکي ته راوړلې شم، ته یواځې امر وکړه او بیا وګوره چې زه ستا لپاره ځان قربانولو ته چمتو یم او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زیات او وېرې او وحشت څخه مې نور خبره یو پر دوه نکړل او مستقیماً مې بلاک کړو! ځان سره مې وویل هسې مزاحم وو او غوښتل یې مزاحمت وکړي په همدی خبرو مې ځان ته دلداری ورکړل، خو د هغه ورځ په سبا کله چې خاله مې زموږ کور ته په جرګه راغله نو زه تازه د خبري په سر او بر پوه شوم، زما د مشر خاله زوی محمد امین هغه مسج ماته راکړی وو او د مروه خبره دا هلک د ډېر وخت راهسې کېږې چې پر ما باندې سینه چاق عاشق وو! حتا د دې څخه مخکې چې عابد زما ژوند ته راشې د خپل مور ته ویلې وه چې هیله ما وغواړه خو زما د واده وروسته، دې په نامېدی او مات زړه د کابل څخه جلال اباد ته د درس پر پلمه تللې وو ترڅو ما د بل چا په څنګ کې ونګوري خو اوس!

زما د طلاق وروسته هغه یوځل بیا زما د درلودو خوبونه لېدل، خو ما دومره درد او غم لېدلې وو چې د هېچا مینه او محبت باندې مې باور نه کېدو که څه هم هغه ډېر کوښښ وکړو خو ما ورته د نه ځواب ورکړو او زما کورنۍ هم اخیری فیصله زما پر غاړه کېخودل، ما د نر د جنس څخه لا کرکه او وحشت درلود او تیاره نه یم چې بل کوم کس دی خپل شخصی حریم ته داخل کړم که څه هم حیا او مروه ډېر راته وویل چې دا ښه هلک دې او د عابد پشان ندی خو زه نشم کولې باور وکړم، او دا زما ګناه نده بلکې دا هغه وېره ده چې یو د خدای ناخبره وحشي ځناور زما پر وجود کې اچولې وه، هغه ځناور چې د خاوند په نوم زما ژوند ته راداخل شو، نه پوهېږم چې ایا په آېنده کې به وکولې شم چې د دی وېرې په درلودو باندې کوم مذکر جنس ته خپل ژوند کې لاره ورکړی شم او کنه؟ خو د اوس لپاره ډاډمنه یم چې نشم کولې ...

د النحیط ناول پای.

لیکوال: خواجه زی.

د داسي نور ښایسته ناولونو د ویلو لپاره زموږ د ټلګرام چینل ته راشي دا هم زموږ د چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم زما شخصی ایډی: @shuhab09

او دا هم زموږ د یوتیوب چینل لینک دلته غوږ ناولونه نشر کو..

چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09

دا هم د لیکوال جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**